بیلګه : له دې بیلګی دمخه هغۀ فرمول دی

یا کتاب لولم او یا فلم ګورم۰ په دې بیلګه کی الترناتیو یا بدیل شته دی، یانې د » او یا «
امکان شته۰ دا د » او یا « کارونه یا استعمال د خرڅلاو شیانو باندې باید بند وي۰ یانې
دوه نرخونه باید ورنه کړای شي۰

دا لاندې فزیکي بېلګه ده، چې ګران لوستونکي دې پخپله هم ورته پام وکړي او ځیره دې
یې په پام کې راولی۰ په شالت یا سرکټ الجبر کې د کجنکشن یا د »او« ترړنې«
ریښتینوالی لپاره دوه پرلپسی(لړی) شالتونه تړل شوي دي،



Bild 7.1



Bild 7.2

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

## کمپلکس ربښتیابلواک یا – فنکشنونه

دا وروستۍبیلګه په ګوته کوي، چې داسی یوځاي شوې ویناوې جوړیدی شي، په کومو کې چې له یو زیات تړوني موجود وي٠

که دا ساده وینا که چې «په تیاتر کې نن لوبه کیږي» په p پس له دې جملی کمپلکس جوړخت دا نه تری تیریدونکی ( ربښتیا - بلواک یا ربښتیا فنکشن » نهp∨ p دی٠ د دې لپاره هم د ربښتیاارزښت فنکشن ورکول کیږي٠ د ربښتیا ارزښت لپاره p له دې څخه نهp یا p نه ( دا دواړه دې برابر ومنل شي) او بیا هم نهp∨p جوړیږي، چې جدول یې په لاندې ډول ورکړ شوی دی

د یوې وینا نه والی

| p | Pنه | p∨pنه |
|---|---|---|
| w | f | W |
| f | w | w |

لاس ته راوړنه یا نتیجه هکیک کوونکې نه ده یوه وینا نهp∨p تل ربښتیا ده، بی له ځانګړي حالت او له دې خپلواک، چې p کوم ربښتیاارزښت غوره کوي .

ویناسم اندیزې وییني یا افادې، چې د هغې ربښتیابلواک کټمټ یا identisch(identic) ربښتیا دی( دا په دې مانا، چې که د ویناؤوښتونکې یا واریابلې ته هر ربښتیاارزښت ورکړ شي یانې ربښتیا یا نا ربښتیا تل د ربښتیا ارزښت ربښتیاغوره کوي)، وینا سم اندیزه قوانین بلل کیږي، یا ورته تاوتولوژي Tautologien

ویناسم اندیزې وییني یا افادې، چې د هغو ربښتیاارزښت بلواک کټمټ نا ربښتیا دی ( دا په دې مانا چې د متحولې یا اووښتونې په هره وینا ارزښت وینا نا ربښتیا ارزښت غوره کوي)

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

کونترا-دیکتوریکي وینا بلل کیږي٠ورته وینا وې کونترادیکشنونه contradiction ( د دوه ویناوو مخامخوالی یا – تضاد)

بیلګه :

ربښتیاارزښت دې د وییني یا افادې نه(p\/q) لپاره وشمیرل شي په همدې وخت کې دې د p\/qنه ربښتیاارزښت هم وشمیرل شي او له بل سره دې پرتله شي.

جمله : ښایو، چې $\neg(p \wedge q) \Leftrightarrow \neg p \vee \neg q$

$$
\begin{array}{l}
p...q....p \vee q....\neg(p \vee q)......\neg p...\neg q...\neg p \wedge \neg q \\
w...w......w.........f.............f.....f.........f \\
w...f.......w.........f.............f......w.........f \\
f...w........w.........f............w.......f.........f \\
f...f........f.........w............w........w.........w
\end{array}
$$

داچې د مخ ته پراته جدول څلورم او اوم درځ یو په بل پریوځي یا یو د بل سره برابر دي، نو ویېنې یا افادې $\neg(p \vee q)$ او $\neg p \wedge \neg q$ په څرګند ډول همغه ربښتیا بلواک یا – فنکشنونه دي. دا په دې معنا چې ،، جملې: دا نارښتیا ده، چې p یاq ،، او ،، نه q او نهp ،، همغه ربښتیا - ( او په دې ډول همغه نارښتیا-) شرایط لري، که دp اوq په ځای بلې یوې لیدونکې جملې ځای نیولی وي. دا ډول دوه وینا تړاو -وینا تړنه ) او تل همغه ارزښت ورکوي.

که په دې عملیو کې نوکان ځا په ځای شي، نو د عملیې ارزښت طبعأ همغه نه پاتیږي، لکه

د بې نوکانو عملیې.

## ایمپلیکیشن implication (لاتین: درراګډول، خورول):

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

که دوه وېناوې د خپل تړاو له لارې« که۰۰۰، نو سره تنظیم یا ترتیب شي ایپلیکیشن سومبول=> چې دا سومبول د دواړو وېناو Aاو B ترمنځ ولاړ دی: او دا مانا لري:

که A نو B یا په همدیډول «له A څخه B لاس ته راځي» وینا A ته پریمیس Prämisse ( لاتین نیونه (فرضیه) وایي او وینا B ته کونکلوزیون Konklusion ( لاتین: پاي لاس ته راوړنه ) وایي۰ د دوه وېناو ایمپلیکیشن ټیک هلته نارښتیا دی، چې پریمیسس رښتیا او کونکلوزیون نارښتیا وي۰ په بل ډول رښتیا دی۰

د دوه وېناو لاس ته راوړنه یا تعقیب د لاندې جدول له لارې یواځنی څرګندیدی شي

د لاس ته راوړنې یا ایمپلیکیشن یا پسې راتلنی، په ځان پسې لرنې سومبول =>

| P | q | p=> q |
|---|---|---|
| w | w | w |
| w | f | f |
| f | w | w |
| f | f | w |

دلته داسی یوه تړنه لرو، چې له دوه برخه وېناو A او B ټیک هلته یو نارښتیا یوځای شوې وېناچې په p=/>qسره ښایو)۰

کله چې لومړیبرخه وینارښتیا او دومه برخه وینا نارښتیا وي په کمپیوتري یا پروګام ژبه کې داسی ویل کیږي: If….., then…..

کومې ژبنۍ افادې یا ویینې په دې رښتیا فنکشن بیرته اړول کیږي. بیرته یا په څټ

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

راګرځیدلی شي. په ښکاره ډول د بیلګې په توګه جمله: که پسرلی لوبه وګټي، نو ماښام  د تلویزیون کتلو ته کورته راځي.

ناریښتیا ده، که د جملې لومړۍ برخه ربښتیاوي او دویمه ناربښتیا. که په جدول کې برخه جملو ارزښتونه لکه د بیلګې په توګه د جدول لومړۍ همداسې څلورمه کرښه سره یو د بل پرتله شي(که دواړه برخه جملې ربښتیا همداسې نا ربښتیا وي) پرابلمونه نه پیښوي، په دې حالت کې ټوله  وینا ربښتیا ده، که لومړۍ برخه وینا ناربښتیا او معکوس دویمه برخه ربښتیاوي، نو په دې حالت کې به د بیلګې په توګه جمله ناربښتیا ونه لیدل شي( که پسرلی لوبه ونه ګټي او  سره له دې هم تلویزیون لیدلو ته راشي)، نو بیا د دوه ارزښتوالي پرینځیپ له مخې یواځې دا ارزښت ،، ربښتیا،، باقي پاتې کیږي. د پورته فنکشني پوره والي له مخې په ګوته کوو، چې هم $\neg p \vee q$ او هم $\neg (p \vee \neg q)$ ټیک بیرته بیا(بیرته) د ایمپلیکیشن د ربښتیا فنکشنونه ورکوي.

په بل ډول افادې یې: q که p، او یا هم p ، د q لپاره پوره کیدونکی شرط دی( په بل ډول یې:  qد p  لپاره اړیین شرط دی)

ورته والی :یوارزښتوالی(برابرارزښتوالی ) Äquivalent

که دوه ویناوې  qاو  p  خپله ترنه  په » ټیک هلته ، که » په هم دې ډول  « هلته او هلته، که»، تنظیم کړي، دې ته ورته والی یا ایکویوالنت وایي۰ د ایکویوالنت سومبول دی  ≍  د دواړو ویناو pاو q ترمنځ دا سومبول پروت دی p  ≍q   په دې مانا، چې p ټیک هلته که q  ۰ ایکویوالنت سومبول یې په دواړو خواو ایمپلیکیشن لري: له p  څخه q  لاس ته راځي او له  qڅخه p

د دوه ویناو ایکویوالنت ټیک هلته ربښتیا دی، که دواړه ویناوې ربښتیا یا دواړه ویناوې ناربښتیا وي۰

دا شي څرنګوالی  یا شي حالت په لاندې جدول کې روښانوو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

| p | q | P⇔q |
|---|---|---|
| w | w | W |
| w | f | F |
| f | w | F |
| f | f | W |

سیده او مخامخ یا پـه ځنډ دي پـه دې مانا وي، چې له p څخه q لاس ته راځی او پـه ځنډ، یا نی له q څخه p لاس ته راځی٠

۱ ۰ ۳ د وینابلواکو یا ـفنکشنونو ترمنځ اړیکې

د دوه ویناو ترړنه سم اندیزه یا منطقي برابرارزښته بلل کیږي، که د ویناو ربښتیاارزښت د ترړنویناارزښت سره یو په بل وخوري یا یو بل سره برابر شي٠ دا د یو ویناارزښت جدول له لارې ځرګندیدی شي٠ ومو لیدل، چې ایکویوالنت په دواړو لورو لاس ته راوړنه یا ایمپلیکیشن دی٠ په لاندې جدول کی به وګورو، چې دریم او شپږم درځونه، متې یا ستنی ځنګه یو بل سره ځان نیسی یا ګورو، چې سره یوارزښته دي٠

| p | q | p ⇔ q | p=>q | q ⇒ p | (p ⇒ q) (q ⇒ p) |
|---|---|---|---|---|---|
| W | w | w | w | w | ..........W |
| *w* | *f* | f | f | *w* | .........*f* |
| F | *w* | *f* | *w* | *f* | .........F |
| *f* | *f* | w | w | *w* | .........*w* |

ورته والی اړیکی د ورته والی یا ایکویوالنت سومبول باندې هم ښوول کیږي

$$(p \Leftrightarrow q) \Leftrightarrow (p \Rightarrow q)\ (q \Rightarrow p)$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



-----------------------------------------------------------------------------

دا ورته والي ويناتړنه موږ ته دا اجازه راکوي، چې يو بل سره بدل کړو يانی د يوه ځاي د بل سره بدل کړو٠ له دې ښخه پيچلو تړنو کې لکه د شالت الجبر کې کار اخستل کيږي٠

د دې ورته والی ويناتړنې غوره بيلګه د،،دي مورګان،، قاعده ده De Morgansche Regel

$$(1)......\overline{(p \wedge q)} \Leftrightarrow (\overline{p} \vee \overline{q})$$

$$(2)......\overline{(p \vee q)} \Leftrightarrow (\overline{p} \wedge \overline{q})$$

د کنجنکشن او ديسجنکشن لپاره ديستريبوتيو قانون:

(3) [p/\(q\/r)] □ [(p/\q) \/ (p/\r)]

(4) [p\/(q/\r)] □ [(p\/q) /\ (p\/r)]

## ١ ٠ ٤ وينافورم يا - بڼه او کوانتورونه

وينا سم اند په لاندې ډول ساده توليز کيدی شي٠ د بيلګي په توګه که مختلف شيان همغه خويونه ولري، نو ضرور ده، چې دا فورمال وويلي - - يا افاده کړای شو: دلته د ويناو پر ځاي د وينافورم ښخه خبري دي، يا غږيږو٠ دا داسی ژبنی ويينې يا افادې دي، چې د شيانو لپاره واريابلی يا اووښتوني لري او لومړی د مناسب انفرادې ځاي پرځاي وروسته يوه وينا شي٠ بيلګي يی په لاندی ډول دي

لومړی : x پر دوه ويشونی دی »

دويم : » z يو هوار څلورګوډی( څلورضلعي) » دی٠

دريم : «u له v ښخه لوي » دی او داسی نور

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

ترهر ځای پرځای کولو وروسته رښتیا یا نارښتیا وینا لاس ته راځي۰ که په دویم کی دz پرځای «ډیرګوډی» (کثیرالاضلاع) ځای پرځای شي، نو یوه رښتیا وینا لاس ته راځي۰

که په لومړي کیx د7 پرځای ځای پرځای شي، نو یوه نارښتیا وینا لاس ته راځی۰ دریم یوه اړیکه(ریلیشن( ده، چې هلته د انفرادیو د اینسولو ترتیب هم یو رول لري۰ دلته که د تورو پر ځای ګڼونه ږدو، نو هلته دا رښتیا وینا ده که د لومړي توري پرځای ستر ګڼ ځای پرځای شي۰د فورمال سم اند په ژبه د پریدیکات په شکل۰( له دې امله دې د سم اند برخی ته د پري دیکات first-order logic سم اند یا منطق وایي۰

بیرته داسی لیکو P(x), Q(z), R(u,v)

یوه بله کارونه یا عملیه شته، چې له وینا بڼي څخه وینا جوړوي۰ چې کوانتیفیکیشن Quantifikationبلل کیږي۰ دا ویناهغه وخت منځ ته راځي، چې ټول د وینا بڼی افراد همغه خویونه ولري، چې ټولوینا (Allaussage) ورته وایو۰یاچې په پوښتل شوي چاپریال کې داسي افراد شته وي، چې همغه خویونه ولري، دې ډول وینا ته موږ د شتون یا موجودیت وینا یا Existenzaussage وایو۰ زموږ په بیلګه کې یی استعمال لاندې را په ګوته وکي

څلورم : (پیداینتی یا طبیعي) ګڼونه یا اعداد شته، چې په دوه ویشل کیږي

پنځم : ټولې څلوری (مربع) هوارې ډیرګوډی یا کثیرالاضلاع دي۰

د ټولکوانتور یا ټولوینا لپاره نخښه $\forall$

د شتون- یا موجودیتکوانتور یا شتونوینا لپاره نخښه $\exists$

یادونه : د ټولکوانتور لپاره نخښه د سرچپه A په څیر ده او د شته والي کوانتور لپاره نخښه د په څټ E په څیر ده په پام کې دې وي، چی د کوانتورونو ورکونې وروسته اووښتونې ( ویاریابلی یا مجهولی) ورکول کیږي۰

څلور ۱ : $\exists x \in P(x)$

داسی یي لولو، چی یو x په P(x) کې شته

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

پنځه ۱ : $\forall z \in Q(x)$

دا داسی لولو: د ټولوz لپاره ، چې په Q(x) کې پروت دی ( یا د ټولو۰۰ له ۰۰۰ څخه )

دا سومبول ∃ دا مانا لري،چې« کم له کمه یو ۰۰۰ شته»د وینابنی او په دې پورې اړوند واریابلو یا اووبنتونو ډیریو جوړه، د دې سومبول سره یوه د« شتون- یا موجودیت وینا» ورکوي، په نامه د اووبنتونو ساحه یا ډیری کې، په کوم کې چی کم له کمه یوه داسې اووبنتونې ځاي په ځایونه شته وي کومه چې وینابڼه ربنتیا وینا کوي۰

بیلګی ( د ربنتیا شتون - موجودیت ویناوي)

اول - $\exists x \in R: x+1=0$

( لوستل : یو داسی ریيل ګڼ یا عدد x له( په) R (کې) شته ،د کوم لپاره چې$x+1=0$ باور لري) دلته x دا مانا لري، چې x د ریيلګڼډیری یا ریل ا عدادو سټ R توکی دی او ∈ په دې مانا دی، چې توګي له ۰۰۰ دی۰

دویم : $\exists x \in R:$

$x^2 + 4x = 0$

(لوستل: یو x له(په) R څخه(کې) شته د کوم لپاره ، چې $x^2+4x=0$ باور لري)

دریم : $\exists x \in R: \quad x^2 - 4 = 0$

( په دې جمله کې حتی دوه ریيلګڼونه شته دی، چې د هغې لپاره $x^2-4=0$ باور لري

: (2، -2)

جمله ( د یوې شتونوینا یا موجودیتوینا نه والی یا نفی)

$\exists x \notin R: x^2+1=0$

لوستل: داسې ریيلګڼ x نه شته، د کوم لپاره چې برابرون $x^2+1=0$ باور ولري

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

داسې وینابنې هم شته، د کومو لپاره، چې د اووښتوندېرۍ یا واریابلډیرۍ ټولو توکو لپاره رښتیا وینا شي٠

بیلګه: وینابنه « x په 2 ویشونی دئ » د جوړه ګڼونو هریوه لپاره رښتیا ارزښت لري په

دا سومبول ∀ په دې مانا دئ، چې « د ټولو x لپاره» د وینابنې او په همدې پورې اړوند د وینا متحولو ډېرئ یا سټ (ویناووښتوندېرۍ یا واریابلډیرۍ) ترنه له دې سومبول سره یوه Universalaussage یونیورزالوینا یا ټولوینا منځ ته راځي٠ په دې مانا چې د دې متحولو ډېرئ(اووښتوندېرۍ) هر توکی لپاره د وینابنې څخه یوه رښتیا وینا جوړیږي٠

جمله : (دUniversalaussage یونیورزال- یا ټولیزې وینا یا ټولوینا لپاره

$$(1)........\forall x \in G : 2 \mid x$$

( د ټولو جوړه ګڼونو (جفت اعدادو)لپاره باور لري، چې x په ۲ ویشونی دئ )

$$(2).......\forall \in R, x^2 > x$$

( د ټولو ریيلاعدادو x لپاره, کوم چې له یوه لوي وي باور لري $x^2 > x$ )

جمله : ( د نارښتیا ټولیزې وینا لپاره )

$$\forall x \in R : x^2 > x$$

دا وینا نارښتیا ده، ځکه چې دا د $1 \le x \le 0$ لپاره باور نه لري، پس دا وینا د ټولو ریل عددونو لپاره باور نه لري٠

۱ ۰ ۵ اړین – یا ضروري- او پوره کیدونکي شرطونه

د ایمپلیکیکشن سومبولA=>B («کهA نوB » « له A څخه Bلاس ته راځي»)یا په بل ډول : که A باور ولري، نوB هم باور لري»

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

په شمیرپوهنه کې ځانګړي فرمولونه شته۰

الف ) « A د B لپاره پوره کیدونکی شرط دی»

ب ) « B د A لپاره یو اړیین یا ضروري شرط دی»

فرمولونه الف ) وایي، چې د A ربښتینوالی د B ربښتینوالی ځان پسی لري یانی له آ څخه ب پوره کیږي یا له یوه څخه وبل ته رسیږو یا د A شرطونه د B د شرطونو پوره کیدنو لپاره نیونه(فرضیه) ده او ب شرط پوره کیدنه اړیینه یا ضرور ده، چی آ پوره شي۰

بیا : وینا باور لري۰

د B وینا د باور لرلو لپاره دا پوره دی یا پوره کیدونکی دی یا بسیا کوي، که د A وینا باور ولري

بیلګي د پوره کیدونکو شرطونو لپاره:

۱ – ویناA : « ګڼ n پر ٦ ویشونی دی»

وینا B : « ګڼ n پر ۳ ویشونی دی»

$$A => B$$

د دې لپاره پوره کیدونکی شرط دی یا بسیا کوي، چې یو رییل ګڼ n پر ۳ ویشونی دی، که دا پر ٦ ویشونی وي۰
که n پر ٦ ویشونی وي، نو پر ۳هم ویشونی دی ۰ دا نو تراوسه دا مانا نه لري، چې ضرور دې ګڼ n که پر ۳ ویشونی وي، پر ٦ دې هم ویشونی وي۰ د بیلګي په توګه ګڼ ۹ پر ۳ ویشونی دی ، مګر په ٦ نه دی ویشونی۰

۲ - وینا A : "n > 7"

وینا B :وي دې: n > 6

$$A => B$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

د دې لپاره دا پوره کیدونکی دی، چې یو رییلګې n له ٦ څخه لوي دی۰ که اړیکې، چې n له ٦ لو دی، باور ولري

داسې رییلګڼونه هم شته، چې له ٦ څخه لوي دي، مګر له۷ څخه لوي نه دي۰ د بیلګي په توګه ٥ ،٦، یا شپږ.نیم

د ب) فرمولبندي وايي، چې وینا ب باورلرل غوښتونکی یا اړیین یا ضرور دی، د دې لپاره، چی وینا A باور ولري۰

که وینا B باور ونه لري نو وینا A هم باور نه لري ۰

بیلګی د اړیین( ضروري ) شرطونو لپاره:

۱ – د دې لپاره، چې یوګڼ n پر 6 وویشل شي، اړین(ضرور) ده، چې دا ګڼ پر3 ویشونی وي۰ یو ګڼ، چې پر3 نه وي ویشونی، نو پر ٦هم ویشونی نه دی۰

۲ - ویناA : » څلور ګوډی یوه څلوری یا مربع ده«

وینا B : » څلور ګوډی څلور ولاړ کونجونه لري« A => B

د دې لپاره ضرور، چې یوه څلورګوډی یوه مربع(څلوری ) ده دا خویونه دي، چې څلور ولاړ کونجونه ولري، که ټول ګونجونه یې ولاړ نه وي، نو مربع یا څلوری نه ده که یوه څلورګډی څلور ولاړکونجونه ولري اړین نه ده، چې څلوری یا مربع دې وي۰

د برابروالي یا برابرارزښتي ( ایکویوالنت) سومبول«

A<=> B

(په دواړو لورو ایمپلیکیشن) لپاره په شمیرپوهنه کې هم فرمولبندي شته: دا وايي، چې A دB لپاره یو ضروري او پوره کیدونکی شرط دی۰ « دا وايي، چېA ټیک هلته باور لري، کله چې B باور ولري

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیلګی : د پوره کیدونکی او ضروري شرطونو لپاره

۱ – ویناA : « ګڼ یا عدد n پر ٦ ویشونی دی»

وینا B : « عدد n پر ۳ او ۲ ویشونی دی»

A <=> B

د دې لپاره ضرور او پوره کیدونکې دی، چې: n پر ٦ ویشونکی دی، که دا عدد پر۳ او ۲ ویشونکي وي٠

۲ – وینا A : » څلورګوډی یا څلورضلعي یوه څلوری یا مربع ده«

ویناB : « څلورګوډی څلور ولاړ کونجونه لري او څلو برابر اوږده اړخونه یا ضلعې»

A<=>B

ددې لپاره، چې څلورګوډی یو مربع دی ضرور او پوره کیدونکی دا خویونه دي، چې څلور ولاړ کونجونه او څلو برابر اوږده اړخونه( ضلعې ) ولري٠

۱ ٠ ٦ د شمیرکلمو یا ویو(لغاتونو) شمیرنیز مفهوم( ترې پوهیدنه)

پیژند ( تعریف ) څه شی دی؟

د کلیمی ټاکنه ده، چې تیک ټاکلي او له مخامخوالی(تضاد) ازاده وي٠ په عامو خبرو کی کله که کلیمی راځي ، چې په مختلفو اشکالو ترې ځانګړي ماناوي اخستل کیږي، خوپه شمیرپوهنه کې داسې نه ده٠

د شمیرنی ټاکنی یا پیژندونه (تعریفونه)د تیک ځرګندې پوهنې یوه نه پریښوونکی سمبال اله ده، یانې ترې تیریدل نه شي کیدای٠

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

## جمله څه شی دی ؟

ټولې رښتونې ويناوې په شميرپوهنه کې جملې بلل کيږي، چې د پيژندنې لپاره ښوونې يا ثبوت ته اړتيا لري ۰

## اکسيوم Axium څه شی دی؟

بې ثبوته رښتينې وينا ته اکسيوم وايي

شميرپوهنيزې يا د رياضې جملې زياتې نيونې( فرضيې) او ثابتول( غوښتنه،جوته ونه يا ښوونه) په بر کې- يا خوندي لري۰

که دا وينا داسی وي، نو پس داسی به هم وي۰ دلته که دا وينا داسې وي نيونه يا فرضيه ده او نو داسې هم ده۰ دا غوښتنه ده، چې بايد ثبوت يا وښوول شي۰

اکسيوم : ۱ طبيعي عدد دی ( پيانو Peano)

: ټکی هغه دی، چې پر ويشونی نه وي يانې په ټکی ويشل بند دي۰ (Euklid)

: حتمي پيښنه د پيښې امکان ۱ درجه لري۰

جمله: که درېګوډی ولاړکونجيز وي، نو( پس) د پيتا ګوراس (pythagoras ) درسې جمله باور لري

: يو لومړی ګڼ، چې له دوه لوي وي، بايد ناجوړه( طاق) وي

: په اخره جمله کې نيونه(فرضيه) ده ( که يو پريم عدد له ۲ لوي وي۰۰۰) او ثبوت يې ( هر له دوه لوي عدد په دوه ويشل کيږي پس لومړی ګڼ نه شي کيدی، نو دا تل ناجوړه ياطاق دی)په ځتوالي يا تضاد کې پيژندل کيږي۰
تل داسی نه ده، چې د جملې د رښتينوالی ځخه دې د جملې په ځتوالی يا تضاد هم رښتيا وي۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

لکه:

جمله: که ٦٪ پس ۲٪ هم ( ربښتیا)

جمله: که ۲ ٪ پس ٦٪ هم ( نارښتیا)

۰۰۰۰۰تیک هلته ، چۀ که۰۰۰۰یوځاي راوړي

بیلګه : که چیرې غبرګ اړخیز کې هر دنننی کونج ۹۰ درجی وي، نو دا ولاړکونجیز(قام الزاویه) دیٰ۰

په ځېټ : که غبرګ اړخیز ولاړ کونجیز وي، نو دنننی کونجونه ۹۰ درجی لوي دي۰

یوځایراوړل :

یو غبرګ اړخیزتیک هلته( هلته او هلته یا بیا او بیا یا یواځنې او یواځنې ټاکلی یا یواځنی ټاکلی او په ځېټ ) ولاړکونجیز دیٰ، کله چې دنننی کونجونه ۹۰ درجی لوي وي۰

۱ ۰ ۷ برابرونونه او نابرابرونونه (مساوات او نامساوات)

پیلبیلګه:

لمسی ، پلار او نیکه په ګډه ۱۱۳ کلن دي۰ پلار د ځوي د عمر یوکال کم اوه ځله عمر لري او نیکه د پلار د عمر له دوه برابره ځخه ٦ کاله نور هم زیات عمر لري۰

پوښتنه : له دوي ځخه هر یو ځو کلن دیٰ؟

د ځوي عمر په x سره ښایو، نو د پلار عمر 7 x-1 دیٰ او د نیکه عمر 2(7x-1)+6 کاله کیږي، چی د دې ټولو زړښت وختونو زیاتون یا جمع بیا ۱۱۳ کاله دیٰ یانی :

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

$$x+7x-1+2(7x-1)+6 = 113$$

یو ډول ترمونه رامنځ ته کیږي او ساده کیږي:

$$x+7x-1+14x-2+6= 113 \ \sqrt{} \ \ 22x +3 = 113$$

په کیڼ ۲۲ ځله د x ارزښت چې ۳ په ورزیات شوي او دا له ۱۱۳ سره برابر دئ

نو دا ګڼ ۲۲ ځله x بیا ۱۱۰ کیږي: $22x = 110$ او د x ساده ارزښت ۲۲ – مه برخه د ۱۱۰ ده یانې: په دې لاس ته راوړنې سره زوي ۵ کلن پلار ۳٤ کلن او نیکه ۷٤ کلن دئ۰

که ترمونه T^ او T° د برابروننخښنی = باندې یو له بل سره وتړل شي، نولاندې برابرون پیداکیږي: $T^\circ = T^\wedge$ ۰

که چیرې ترمونه په دې نخښو $\leq$ , $\geq$ , $<$ , $>$ او(نابرابروننخښه =| ) یو له بل سره وتړل شي یو نابراون منځ ته راځي.

برابرونونه او نابرابرونونه چې ناټاکلي یا مجهولو سره یوځاي شي، هغې ته د وینافورم یا نوره هم ښه وینا بڼه ویل کیږي۰

دا یا ربښتیا یا نارښتیا وینا کیدی شي۰ که ناټاکلي، چې اوښتوني یې هم بولو( د بیلګې په توګه z , x , y ) پر ځاي د بنسټیدیرۍ ګنونه ولیکل شي۰ په برابرونپوهنه کې له پیژند – یا تعریفدیرۍ څخه هغه ګنونه غوره دي، چې د ورکړ شوي فورم یا بڼې یو برابرون یا نابرابرون ربښتیا وینا کړي۰

د یو برابرون یا نابرابرون (مساوات یا نامساوات) هر عدد ځاي پرځاي کول، چې وینابڼه پیژند - یا تعریفدیرۍ پورې اړوند وي او دا وینا ریښتینې کوي، اوبیډیرۍ یا حلډیرۍ L کې پروت دئ یا د برابرون یا نابرابرون په ډکوونکو ( پوره کوونکو) ډیریو پورې تړلی برابرون ته ، چې د ټولو ځاي پرځاي کولو لپاره ریښتونې وینا ورکوي کټمټ یا (identisch, identic) وینا وايي۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیلګې :

الف )  $5x= 4$ د $x = 0,8 = 4/5$ لپاره رښتیا وینا ته ځی : یانې

$5.0,8=4$ نو $L=\{0,8\}$

ب ) $3x^2 = 48$ د $x = 4$ لپاره او $-4 = x$ لپاره رښتیا وینا ته ځې

یانی $3.(-4)^2 = 48$ څخه لاس ته راځی او په څټ $3.4 = 48$ پس- $L = \{ -4;4\}$

۲ – نابرابرون الف) $2x > 1 \Rightarrow L= \{x \mid x> -1/2 \}$

ب ) $x < 3 \Rightarrow L = \{ x \mid x > -3 \}$

۳ – کتمتوالی : الف ) $(x+y)(x-y) = x^2 - y^2$

ب ) $(a+b)^2 = a^2+b^2 +2ab$

دوه برابرونونه یا نابرابرونونه، چې په خپل پیژندډیریکې سره برابر وي( یا یو پربل وخوري،

یانې یو د بل پرځاي ایښول کیدی شي) او همغه اوبی- یا حلډیری ولري ایکویوالنت (Equivalent) یا «ځاي پرځاي کول برابر» یا ورته بلل کیږي٠

یادونه : دا لاندې د جدول په ډول دی، له پورته له ښي و کیڼ لور ته په درځ یانې ولاړ درځ لوستل کیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

| | نابرابرون | براون |
|---|---|---|
| ۱ ) وينافورم کې کيدی شي،چې خواوې سره بدلې شي | T° < T^ T^ > T°<br>2x < 6 6 > 2x | T°=T^ T^ = T°<br>3x=5y 5y = 3x |
| ۲ ) که وينافورم په دواړو خواوو همغه ترم زيات يا کم شي او د يوې ورزيات ترم پيژندډيرى خوندې وساتل شي يا ځاي کړي | T^ < T° =><br>T^ ± T° < T° ± T^ | T^ = T°=><br>T^ ±T° = T°± T^ |
| يا تغير ونه خوري٠ مخامخ يا کيڼ لوربيلګه کې تفريفډيرى تغير خوړلی | 3y < 4x ⇔<br>⇔ 4y±2x < 4x±2x | 2z = 8 =><br>2z ± 3 = 8 ±3 |

پر څټ بيلګه

2z=8 |=> 2z+3-z=8+3-z

دا چې z=4 دې نوي ورزيات شوي

ترم 3-z نه دی تعريف يا پيژندنه

لري، ځکه چې z - 3 يو پيدايينتي يا طبيعي ګڼ نه دی

۳ ) د وينافورم دواړه T^=T° ⇔ T^.T > T°.T T^ <T° ⇔

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

اړخونه کیدی شي چې    $T^\wedge < T^\circ \Leftrightarrow$    $T^\wedge.T = T^\circ.T$

له همغه مثبت ترم سره    $T^\wedge:T > T^\circ:T$    $\Leftrightarrow T^\wedge:T = T^\circ : T$

ځل او یا په همغه ترم    که $T > 0$    که $T > 0$ وي

وویشل شي    $3y - 12 < 30z - 90$    $4x+2 = 10x-6$

$\Leftrightarrow y - 4 < 10z - 30$    $\Leftrightarrow 2x + 1 = 5x - 3$

$\Leftrightarrow 4y - 16 < 40z - 120$    $\Leftrightarrow 2xc + 10 = 50x - 30$

٤) د یوه برابرون    $T^\wedge < T^\circ \Leftrightarrow T^\wedge.T > T^\circ.T$    $T^\wedge = T^\circ \Leftrightarrow$

دواړه خواوې کیدی شي،    $T^\wedge < T^\circ$    $T^\wedge.T = T^\circ.T$

چې له یوه منفی ترم سره    $\Leftrightarrow T^\wedge:T = T^\circ : T$    $\Leftrightarrow T^\wedge:T > T^\circ:T$

ځل شي یا دواړه خواوې په    $T < 0$    $T < 0$

همغه ترم وویشل شي٠    $-2y < -4$    $3x = 12$

که په دې فورم کې    $\Leftrightarrow y > 2$    $\Leftrightarrow -9x = -36$

نابرابرونونه وي نو د    $\Leftrightarrow 10y > 20$    $\Leftrightarrow x = 4$

برابرون لورې بدلیږي، یا نخښه بدلیږي

یادونه :

په ټولیزه، چې په کتابونو کې لیکل شوي، ترمونه Tیو او T دوه په لاندې توګه د ایندکس سره په نخښه کوي: $T_1, T_2$

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

۱ . ۷ . تمرنونه:

۱ – په ۱ . ۳ –مه برخه کې د رښتیا ارزښت ورتو الی له (۱) څخه تر (۴) پورې وښایاست.

۲ – د رښتیا ارزښت جدول له لارې وښایاست، چې لاندط ویناتړاو منطقي مساوي ارزښت دی.

الف - ( A⇔B) او (B⇔A)

ب- (A=>B) او(AvB)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۲ ۰ ډېرۍ پوهنه Die Mengenlehre, the set theory

ډېرۍ پوهنې یا سټ تیوري باید خپل ځاي په شمیرپوهنه او همدا ډول په نورو پیداینتي- یا طبیعی پوهنو کې نیولي وي، نو له دې امله د لنډ تیر وخت را په دې خوا په پرمختللو هیوادونو او اوس هم په افغانستان کې د ښوونځیو په لیکلوست کې پیل شوه، ځکه چې بې له ډیرپیوهنې یا سټ تیوري شمیرپوهنه بې مفهومه ده او ناشونې۰ دا به له دې لیکنې څخه همدا اوس څرګنده شي، چې پیداینتي یا طبیعي ګڼونه یا - اعداد او هرڅه د ګڼونو په څیره کې ، چې موږ ته څرګند وي هغه ټولې ډیرۍ یا سټ دي او بل څه نه دي۰

ډیري پوهنې (سټ تیوري)په پرمختللو هیوادونو کې هم د شلمې پیړۍ په دویه نیمه کې د میندو او پلرونو لپاره ستونځې پیدا کړي، ځکه، چې دوي د ډیرۍ پوهنې سره بلد نه وو او د خپلو کوچنیانو سره یې مرسته نه شوه کولی۰

د ډیرۍ کلمه له عدددونو یا ګڼونو پخوانۍ ده، که څه هم پخوا انسانانو په خپله خوښه نه ښووله لکه اوس۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



په تراوس ورسره بلد ډول هم سټ یا ډېرئ پيژندل کيږي، لکه د ښوونځی نجونې او هلکان، یا په یوه ټولګی کې میزونه او چوکی، یا لکه هغه نیزوړي، چې نیز راوړي او د سپین په پټي کې یې ډیری ډیری اچولي یا د هسکې مينې د ښوونځي په لسم ټولګی کې د زده کوونکو، کتابونو، کتابچو پنسلونو، څوکیو او میزونو سټ یا ډیری۰

د ډېرئ پوهنې کلمه: موږ په افغانستان کې هم د ډیری له کلیمې سره اوس بلد شوي یو که څه هم تربيلو بيلو پرديو نومونو لاندې، چی زما په اند به زده کوونکو او ښوونکو ته يوائځې ذهني غوره والي لري، زه غواړم، چی د ډیری څو مختلف پيژندونه یا تعریفونه ورکړم، چې ښه مو ورته پام راوګرځي، دا له دې امله هم، چی د ډیري پوهنې ( سټ تیوري) غوره والی ته مو نور هم پام راوګرځي۰

ډیرئ پوهنه د شمیرپوهنې سټه جوړوي او د شمیرپوهنې ټولې څانګې په ډیری پوهنه

ودانې دي۰ نن شمیرپوهنه بې له ډیری پوهنې داسې وده نه شي کولی او سټه یې وزي۰

پيژند ۲ ۰ ۱

الف : ډیری یا سټ د ټاکلو شیانو یا کلمو ټولګه ( یوځایوالی، مجموعه) ده، چې پخپله خوښه د یوې ټاکلې بنسټډیری یا بنسټ سټ څخه ، چې د پيژندلشویو اصولو یا کرکټرپین له مخې ټاکل شوې وي

ب : د الماني شمیرپوه کانتور( George Cantor 1845 – 1918 ) پيژند:

زموږ د خیال یا لید څرګند ټاکلو ، ټیک یو له بل توپیرکیدونکو شیانو ټولګې ( یوځایټولولو یا مجموعې ) ته ډیری وايي او هر شي ته، چې ډیری یې جوړه کړې یا ډیری ترې جوړه شوې وي، د ډیری – یا سټ توکی وایی۰

( Set and elements of set ډیری او د ډیری توکی)

پ : د مختلفو شیانو ټولګې یوه یوون یا یووالی ( واحد Einheit, unite) ته په

(c) ketabton.com: The Digital Library



شمیرپوهنه کې ډیرۍ وایی

یادونه : د واحد لپاره، چې تراوسه ورسره بلد یو یوون یا یووالی ښه نومه ونې دي٠ دا که څو واره وویل شي، نو باورلرم، چې ورسره بلدیږو٠

ت : څرګند شیان د ګډو نخښو پربنسټ، چې تر څیړنې لاندې نیول کیږي او د دې نخښو له امله یوځاي ټولیږي یا ټولګه جوړوي، ډیرۍ یا سټ تشکیلوي٠ ګډې نخښې کیدی شي ښکلا، کوچنیوالی او داسې نور وي٠

یادونه: د ګرانو لوستونکو دې دې ته پام وي، چې په پورته پیژندونو کې یې غوره او د پام وړ پیژند یاتعریف د جورج کانتور پیژند دی.

بیلګه :

ګڼونه یا عددونه، نومونه، او توري کیدی شي د ډیریو بیلګو په توګه راوړل شي٠

ګورو، چې د ډیرۍ یا سټ کلمه په شمیرپوهنه کې بل ډول ده لکه په ولسي ژبه کې، چې دلته ډیرۍ د څنو شیانو زیات یوځاي کول موخه ده، د ځانګړو شرایطو لاندې.

په شمیرپوهنه کې ډیرۍ په لویو لاتین تورو لیکل کیږي لکه ..A,B, او یا M,N, ....X,Y, د ډیریو توکي د لاتین په کوچنیو تورو لیکل کیږي، لکه ...a,b,c, او ...m,n,x,v,

د دې لپاره، چې وپوهیږو، چې ایا توکی a د ډیرۍ A توکی دی که نه نو لیکو: $a \in A$

په پورته کې توکی a د ډیرۍ A توکی دی.

که a د A توکی نه وي ، نو لیکو: $a \notin A$ دلته a د ډیرۍ A توکی نه دی

دا پورته لینکدود له ښی وکیڼ لور ته هم لیکلی شو، چې پرلپسی لړۍ یې ساتلې پاتې شي٠ زه یې په څټ لیکنو سره لیکنیزې ستونځی لرم٠دا لاندې یې دیاګرام دی، خو توکي یې بل ډول لیکل شوي دي، چې ګرانو ستونکو ته به د پوهیدلو ستونځ پیدا نه کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
|  $a \notin A$ ( a د A توکی دی ) |  $a \in A$ ( a د A توکی نه دی) |

ډیرۍ A دې له a,b,c,d,e,f,g,h, توکو جوړه وي، چې په لاندې توګه یې لیکو

$$A = \{ a,b,c,d,e,f,g,h\}$$

ګورو، چې { } د ډیرۍ یا سټ نخښه ده

یادونه : دا د ډیرۍ کلمه موږ په افغانستان کې سټ set بولو ، چې انګریزي ده، په فارسي کې یې مجموعه بولي، چې ډیرۍ د شیانو مجموعه یا ټولګه ده او په الماني کې ورته مینګې Die Mengeوایي٠ هغه بنسټیزه خبره یې په پیژند یا تعریف کې ده، که موږ یې چې هرڅنګه وبولو، خو د یو بل څخه کره توپیرکیدونکو شیانو ټولګی ته ٠٠٠ وایو. د ټکو پر ځای ، چې هر څه لیکی، خو موږ ګورو، چې په پښتو یې هغۀ مناسبه نوموه ونه ډیرۍ ده، دا د کوټې کوټې څخه یا راپنډ او داسې نورو څخه ماته ښه ښکاریږي او زموږ ولس د دې نامه سره بلد دی، چې په پوهنه او لا نور ښه په شمیرپوهنه کې باید وکارول شي٠ زه بیا په دې ټینګار کوم، چې دا خپل ، چې ما ټاکلی یا بل څوک یې که بل ډول بولی د انګریزي یا الماني یا بل پردي نوم څخه ښه او پوهوړ دی٠ د سټ مانا که په ډکشنري کی وګورۍ ،نو پوه به شو، چې له دې نوم څخه مو خپل د پښتو نوم ښه او مناسب دی. ګورووچې دا نوم اوس ژورنالستان هم زیات کاروي او وایي، چې ډېرۍ یا ډېرۍ خلکو.... وکتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیلګه ۲ ۰ ۱

الف ) $M_1$ ( لوستل Mایندکس ۱ دا به په لاندې نخښونه کې روښانه شي پام دې وي، چې (index(indeces ایندکش پیژند نخښې ته وايي) دې د لومړیو ګڼونو ډیرۍ ( اعدادو سټ) وي، نو باور لري: $7 \in M_1, 8 \notin M_1$

ب ) $M_2$ دې د لاندې برابرونونو یا مساواتو د اوبیونو(حلونو) ډیرۍ وي

$$(x+1)(x-2) = 0$$

نو باور لري : $-1 \in M_2, 2 \in M_2, 1 \notin M_2$

بیلګه ۲ ۰ ۲ :

الف ) د مساوات $(x+1)(x-2) = 0$ حل ډیرۍ $M_2$ ده $M_2 = \{-1, 2\}$

ب ) د جوړه (جفت) عددونو یاګڼونو ډیرۍ $M_3$ ده $M_3 = \{0, 2, -2, 4, -4, ....\}$

ډیرۍ لکه، چې ومو ویل د توکو د خویونو له لارې هم ځرګندیدۍ شي یا ورکول کیدۍ شي۰

M = { x | x د خوویونو ۰۰۰ سره}

(لوستل: M د ټولو x ډیرۍ ده له خویونو ۰۰۰۰۰ سره )

بیلګه ۲ ۰ ۳

الف ) { د ټولوx سټ ، چې هلته x یو لومړنی عدد یا ګڼ دۍ| M = { x

b ) M = { x | (x+1)(x-2) = 0 }

$$c)..........M = \{x \mid x \in R, 0 \le x \le 1\}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



تشدیرۍ: ډیرۍ، چې کوم توکی ونه لري تشدیرۍ یا خالي سټ بلل کیږي او داسی یې لیکو: $\{\} = \varnothing$ یا $\theta$

دا دې د یوې ډیرۍ یا سټ سره، چې یواځی له صفر څخه جوړه ده، نه بدلیږي یانې

$$\{0\} \neq \{\} = \varnothing$$

بیلګه ۲ ۰ ٤

$$\{x \mid x \in Z, x^2 + x - \frac{3}{4} = 0\} = \theta$$

ځکه، چې د برابرون یا مساوات $x^2+x-3/4 = 0$ حلډیرۍ

$$\{x|x^2+x-/4= 0\} = \{ 1/2 , -3/2\}$$

کوم ټولګڼ یا تام عدد خوندي نه لري۰

ټولګبونو پیژند ته دې پام وي، چې د راشنلګنونو برخډیرۍ ده۰دریمه برخه دې وکتلشي

بیلګه ۲ ۰ ٥ : د ز۰ کال د دویمې نیمایي میاشتو سټ یا ډیرۍ په Ju , aug sep , ok,no, de سره ښایو او لیکو: A= { jul,aug,sep.ok,no,de}

نو داسې لرو یا نوره هم ښه داسی لیکلی شو: $jul \in A, jun \notin A$

دا په دې مانا، چې جولای د A توکی دی او جون د A توکی نه دۍ

بیلګه ۲ ۰ ٦ : ټول منديزي، چې نن مازيګر لمانځه ته د غارخلي لمنځتون یا جماعت ته راغلي۰

بیلګه ۲ ۰ ۷ : د هغو میرو ، غواوو او وزو ډیرۍ، چې نن په نخاس کې خرڅې شوې.

بیلګه ۲ : ۸ د ټولو هغۏ ګنبونو ډیرۍ(عددونو سټ) M، چې ۳۰ ویشي یانې

۱ ، ۲ ، ۳ ، ٥ ، ٦ ، ۱۰ ، ۱٥ ، ۳۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې يې ليکو : $M = \{ 1,2,3,5,6,10,15,30\}$

دا سټ پاي سټ ده داسې وايو، چې ډيرۍ يا سټ M د ټولو هغو توکوx - لکه پورته - جوړ شوې، چې ۳۰ ویشي او داسې يې ليکو: $M =\{ x \mid x$ د ۳۰ پرويشونى ګڼ$\}$

د ټولو پيدايښتي يا طبيعي ګڼونو ډيرۍ(اعدادو سټ) N ټاکو او داسې يې ليکو:

$$N = \{ 1,2,3,4\ldots.\}$$

دا نه پاى لرونکى يا لايتناهي ډيرۍ( سټ) ده ، چې په لاندې ډول يې نخښنه ده يا په لاندې ډول په نخښنه کيږي: $\infty$

ګورو، چې په شميرپوهنه کى موږ پر پاى ګڼونو برسيره ناپاى عددونو سره هم مخامخ يو.

## ۲ ۰ ۲ د ډيريو ترمنځ اړيکې relation between sets

د سټونو ترمنځ غوره اړيکى د برابروالى او خونديوني يا خوندي لرنې ( مساويوالى او يو په بل کې ځاي لرلو) اړيکې دي.

پيژند ۲ ۰ ۲ دوه ډيري يا سټونه $M_1$ او $M_2$ يو د بل سره برابرې دي، يانې

$$M_1 = M_2$$

که چيرې د ډيرۍ يا سټ $M_1$ هر توکى د ډيرۍ يا سټ $M_2$ توکى هم وي او پر څټ يا برعکس هر د $M_2$ توکى د $M_1$ توکى هم وي.

برابرې ډيرۍ برابر توکي هم لري

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بیلګی په توګه

$$M_1 = \{x \mid (x+1)(x-2)(x+3) = 0\}$$
$$M_2 = \{-1, 2, -3\}$$
$$\Leftrightarrow M_1 = M_2$$

ګورو، چې $M_1$ د $M_2$ سره برابر دئ

## برخډیری(سبسټ subset)

پیژند ۲ ۰ ۳ :

یوه سټ $M_1$ د سټ یا ډېری $M_2$ برخډیری ( لاندې ډیری، خوندي ډیری یا سب سټ ) بلل کیږي یا $M_1$ په $M_2$ کې ځای ده یا نوره هم ښه $M_1$ په $M_2$ کې خوندي ده، لیکندود یا لیکنډول:

$M_1 \subseteq M_2$ که د ډیری $M_1$ هر توکی دسټ یا ډېری $M_2$ توکی هم وي۰

کیدی شي، چې $M_1$ د $M_2$ سره برابر هم وي، که برابروالی یا مساوات نا شوني وي نو بیا د اصلي برخډیری یا اصلي سب سټ څخه غږیږو۰

پیژند ۲ ۰ ٤ :

یوه ډېری یا سټ $M_1$ د $M_2$ اصلي برخډیری ده او داسې یې لیکو: $M_1 \subset M_2$

(c) ketabton.com: The Digital Library



که $M_1 \subseteq M_2$ باور ولري او کم له کمه د $M_2$ یو توکی د $M_1$ توکی نه وي۰

بیلګې:

الف) که ولرو $M_1=\{-1,1\}, M_2=\{-1,0,1\}$ نو $M_1$ په $M_2$کې اصلی خوندي دی

ب ) د ټولو څلوریو ( مربعو) ډېرۍ د ټولوڅلورګوډیو( څلور اضلاعو) اصلي برخډیرۍ ده۰

پ) څیره ۱ ۰ ۱ په هواره یا سطحه کې ټکوډیرۍ ښایي، د کومو لپاره چې باور لري، که $M_1$ او $M_2$ د ټکو ډیرۍ یا-سټ وي $M_1 \subset M_2$



که په پورته څیره کې وګورو، نو یوه ګردۍ ( دایره ) $M_1$ په بله لویه $M_2$ ګردۍ کې خوندي ده۰

تشدیرۍ په هره ډیرۍ کې خوندي ده۰ هره ډیرۍ په خپل ځان کې د نااصلي برخډیرۍ په څیر خوندي ده۰

یا دا پیژند :

A⊆B که باور ولري : $x \in A \Rightarrow x \in B$

بیلګه:

A⊆A={1,2,3,4,5} B={3,4,5} B

(c) ketabton.com: The Digital Library






پيژند ٢ ٠ ٥ :

هغه ډيرۍ، چې هيڅ توکی ونه لري تشډيرۍ بلل کيږي او داسې يی ليکو: $M=\theta=\{\}$

يادونه : پام دې وي، چې صفر ډيرۍ او تشډيرۍ سره بدلې نه شي يانې لاندې ته:

$\{\} = \theta \neq \{0\}$

## د يوې ډېرۍ توان يا تواندېرۍ ( توانسټ)

پيژند ٢ ٠ ٦ :

د يوې ډيرۍ M د ټولو برخډيريو ډيرۍ پوتنځډيرۍ يا په تواندیرۍ(-سټ) بلل کيږي او داسې يې ليکو: P(M) په تواندیرۍ توکي لري، چی هر يو يی بيا خپله ډيرۍ ده۰

بيلګه : د M = { a,b.c} ډيرۍ دا لاندې په تواندیرۍ لري

$$P(M) = \{ \{a\},\{b\},\{c\},\{a,b\},\{a,c\},\{b,c\},\{a,b,c\}\}$$

هره ډيرۍ چې د توکو څخه جوړه وي هغه ټيک n جګ 2n توکی لري يانی : $n^{2n}$

دا پورته د جملې په څير د پوره اينډکشن له لارې اوبی ( حل-) کيدی شي( لومړۍ برخه دې وکتل شي)۰ دا دنده د ګرانو لوستونکو د خوښې کار دی، که کوي يې۰

پيژند ٢ ٠ ٧ : د ډيرۍM زور |M| لاندې د ډيرۍ د توکو تعداد ياګڼون پوهيږو۰ که دوه ډيرۍ M اوN همغه زور ولري هغه ته يوزوريزه – يا برابرزوريزه ډيرۍ وايو او داسې يې ليکو: |M| = |N|

(c) ketabton.com: The Digital Library



د برابرونونو یا مساواتو او خونديې ساتنو خويونه

الف ) رفلکسيو- يا د انعکاس( هندارونيزې) اړيکېreflexivity

هغه اړيکي، چې د هغه او د هغه دخپل ځان ترمنځ ريښتوني ويناوې ورکړ شوي وي رفليکسيويا انعکاسي اړيکي بلل کيږي لکه: $M = M, M \subseteq M$

خونديې لرل اړيکې رفلکسيو نه دي $M \not\subset M$

دا په دې مانا، چې هيڅ ډېرۍ د خپل ځان اصلي برخډېرۍ يا برخسټ نه شي کيدی۰

ب) سيومتريکې اړيکې Symetric relation

هغه اړيکې سيومتريک بلل کيږي، چې د شيانو ترمنځ چې کارول کيږي يا استعماليږي يو له بل سره بدليدلی شي۰

لکه $M_1 = M_2 \Leftrightarrow M_2 = M_1$

خونديې لرل سيومتريکې اړيکې نه دي:

که وي $M_1 \subseteq M_2$ نو اړيکی $M_2 \subset M_1$ نارښتيا يا ناټيک دي

دا هلته چې وي: $M_1 \neq M_2$

پ ) ترانزيتيويتي Transitivity يا وړون اړيکې

ترانزيتيويتي هغه اړيکې دي، چې له يوه نه وبل ته يي د وړلو امکان شته يا موجود وي۰

له L = M او M = N څخه لاس ته راځي L = N

او

$$M_1 \subseteq M_2 \wedge M_2 \subseteq M_3 \Rightarrow M_1 \subseteq M_3$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



پورته داسې لولو: كه $M_1$ د $M_2$ برخډيرۍ او $M_2$ د $M_3$ برخډيرۍ وي، نوله دې څخه لاس ته راځي، چې $M_1$ د $M_3$ برخډيرۍ ده

برابونونه يا مساوات او په بل كې ځايه ونه يا خوندي ساتنه ترانزيتيو اړيكې يا خويونه دي

## ۲ ۰ ۲ په ډيرۍ کې کارونې يا عمليې

ټولنډيرۍ (د اتحاد سټ )

پيژند۲ ۰ ۸ :

د دوه ډيريو $M_1$ او $M_2$ ټولنډيرۍ(unionاتحاد سټ)، چې د ډيريو ټولنه ورته وايو ده:

$$M = M_1 \cup M_2$$

دلته داسې پوهيږو، چې M د ټولو هغو توكو څخه جوړه شوې ډيرۍ يا سټ ده، چې لږ تر لږه د $M_1$ او $M_2$ توکي هم خوندي ولري۰

د ټولنې $M = M_1 \cup M_2$ هر توكى د $M_1$ يا $M_2$ توكى هم دى ( پرتله ۱ –مه برخه د يا سره پرتله) ياني دا د ټولنډيرۍ توكى د $M_1$ يا $M_2$ او يا د دواړو توكي دي۰

يا لاندې دياګرام

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
|  | $A ? B$<br>$A \cup B$ ( B تولنه A)<br>x ) د $A$ سره $B$ اړيکې لري |

بيلګى

الف ) $M_1$ دې د ځوانانو ډېرى وي، چې بکلوريا لري او $M_2$ دې د هغو ځوانانو ډېرى وي، چې مسلکي شهادتنامې لري، نو $M = M_1 \cup M_2$ د ټولو هغو ځوانانو ډېرئ ده، چي بکلوريا او مسلکي شهادتنامې ولري او يا دواړه شهادتنامې ولري٠

ب )

$$M_1 = \{k, a, r\}, M_2 = \{u, r, s, e, l\}$$
$$M_1 \cup M_2 = \{k, a, r, u, s, e, l\}$$

يا په لاندى توګه پيژند او بيلګه: A او B دې دوه ډېرى وي د دې ډېريو تولنه داسي ليکو

B} ∈x∨A ∈B = {x | xUA

UA={1,2,3,4}     B={3,4,5}        A

B={1,2,3,4,5}




تل په ټکو ټکي شوې ټکيډيرى ټولنديرى په ګوته کوي٠

پ – خيره ۲ ٠ ۲ دوه په هواره کې ټکيډيرى په ګوته کوي، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



الف ) ټکيپردۍ دي٠ ب) ګډ ټکی لري٠

پ) اړيکې $M_1 \subset M_2$ پوره کوي:

د دې لپاره څيرې په لاندې کې په بيلګو کې راغلې دي٠

د ټولنې لپاره کموتاتيو قانون باور لري» $M_1 \cup M_2 = M_2 \cup M_1$ دا په دې مانا، چې د لړۍپرلپسې دلته(لنډ: لړۍ) د ډيريو په ټولنه کی رول نه لوبوي

يادونه : که ګڼونه ۱ ، ۲ ، ۳ ، ٤ ٠٠٠ ولرو، نو دا پرلپسې بولو او که بيا دا سره جمعه کړو لکۀ

1 , 1+2,1+2+3,1+2+3+4+,1+2+3+4++..+….

نو دا لړيپرلپسې يا لنډ: لړۍ بولو( پرلپسی برخه کې دې وکتل شي) دا په دې مانا، چې له دوو څخه د زياتو ډيريو ټولنه لړۍپرلپسی( لنډ: لړۍ ) رول نه لري٠

اسوڅياتيو قانون باور لري٠

$$(M_1 \cup M_2) \cup M \ = M_1 \cup (M_2 \cup M_3) = M_1 \cup M_2 \cup M_3$$

غوڅډيرۍ (د ډيريو غوڅی يا –متقاطع سټ) intersection

يادونه : دا کړی شو، چې د ډيرو ګډغوڅی وبولو( دا د ګرانو لوستونکو خوښه ده،کوم ناټيکوالی په کې نه شته)

پيژند:

ډيرۍ M د ډيرۍ $M_1$ او ډيرۍ $M_2$ غوڅډيرۍ يا د تقاطع سټ ده( لوستل: $M_1$

غوڅ(پرې)په $M_2$ ( لنډ: غوڅی): $M = M_1 \cap M_2$

(c) ketabton.com: The Digital Library



که د ډیرۍ M ټول توکي د ډیرۍ $M_1$ او ډیرۍ $M_2$ توکی وي.

د غوڅډیرۍ $M = M_1 \cap M_2$ هرتوکی د ډیرۍ $M_1$ او ډیرۍ $M_2$ توکي دي ( د ۱ ـمې بری د هم او هم په مانا یا د «او» په مانا)

یا دا پیژند :

د ډیریو A او B غوڅی $A \cap B = \{x | x \in A \wedge x \in B\}$

بیلګه:

A = { 1,2,3,4}, B = { 3,4,5} => $A \cap B = \{3, 4\}$




یادونه: دې پورته ډول دیاګرام ته د ون دیاګرام Venn-Diagram یا د Euler-Venn- Diagram وایی

بیلګې :

لومړۍ : یوه ډله زده کوونکي له ننګرهار او پکتیا څخه راځي، چې په $M_1$ یې په نخښه کوو. یوه بله ډله ، چې په $M_2$ یې په نخښه کوود کندهار او همغه د پکتیا زده کوونکي، چې په M سره یې ښایو، دي. د دې دواړو ډلو غوڅډیرۍ

$$M = M_1 \cap M_2$$

د پکتیا زده کوونکي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دويم:

$$M_1 = \{k, a, r\}, M_2 = \{u, r, s, e, l\},$$
$$M = M_1 \cap M \ = \{r, l\}$$

دريم ځيره ۲ ۰ ۳ په هواره يا سطحه کې ښايي، چې الف) ګنون پردي دي




ب) يو بل سره ګډ ټکی لري




پ ) اړيکی

$$M_1 \subset M_2$$

پوره کوي

بيلګه:

A⊆ A={1,2,3,4,5} B={3,4,5} B

(c) ketabton.com: The Digital Library






هغه ټکو باندې ټکي شوې ډېرۍ اصلي برخډېرۍ ده

دوه ډېرۍ، چې غوڅډېرۍ یې تشډېرۍ وي

$$M_1 \cap M_2 = \theta$$

لکه د مخه مو چې ګوته ورته ونیوله پردۍ بلل کیږي

د غوڅډېرۍ لپاره ، لکه څنګه د ټولنډېرۍ لپاره کموتاتیو قانون باور لري

$$M_1 \cap M_2 = M_2 \cap M_1$$

او اسوڅیاتیو قانون

$$(M_1 \cap M_2) \cap M_3 = M_1 \cap (M_2 \cap M_3) = M_1 \cap M_2 \cap M_3$$

ددواړو د ډېرۍکارونو یا ډېرۍ عملیو یانې ټولنډېرۍ او غوڅډېرۍ لپاره دواړه دیستریبوتیو قانونونه پوره کیږي یا باور لري

$$M_1 \cup (M_2 \cap M_3) = (M_1 \cup M_2) \cap (M_1 \cup M_3)$$

$$M_1 \cap (M_2 \cup M_3) = (M_1 \cap M_2) \cup (M_1 \cap M_3)$$

( د ګڼونو د شمیرکارونو یا عملیو لپاره یواځې یو دستریبوتیو قانون شته والی لري:

$$a_1.(a_2 + a_3) = a_1.a_2 + a_1.a_3$$

مګر په ټولیزه توګه باور نه لري

$$a_1 + (a_2.a_3) = (a_1 + a_2).(a_1 + a_3)$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیژند :

کمونډیرۍ یا تفریق سټ $M_2$ د ډیرۍ $M_1$ او ډیرۍ M کموالی یا فرق دۍ او

داسې یې لیکو: $M_2 = M / M_1 = \{x \mid x \in M \wedge x \notin M_1\}$

له M څخه د $M_1$ ډیرۍ کمه شوې

یا کله چې د $M_2$ توکي د M هغه توکي وي، چې هغه د ډیرۍ $M_1$ توکي نه وي۰

لیکندود یالیکنډول :
$A / B = \{x \mid x \in A \wedge x \notin B\}$

لوستل : د A او B توپیرډیرۍ یاکمونډیرۍ یا تفریقډیرۍ له ټولو هغو توکوx جوړه ده، د کومو لپاره، چې باور لري : x د A توکی دی او x د B توکی نه دۍ

بیلګې :

لومړۍ : په یوه ټولګي کې $M_1$ د ټولو نارینه وو زده کړو ډیرۍ ده او $M_2$ دټولو زده کړو ډیرۍ ( د نارینه وو او ښځینه وو ) ، چې په شمیرپوهنه کې لس نمرې وړي۰

$M_1 / M_2$

د هغو زده کړو ډیرۍ ده، چې ۲ ، ۳ ، ٤ ، ٥ ، ٦، ٧ ، ٨ ، ۹، نمرې وړي او ټول د هغو نجونو ډیرۍ ده، چې په شمیرپوهنه کې یې لس نمرې وړي۰

که په ټولګي کې یواځې نارینه زده کړي وي، نو باور لري

$M_1 / M_2 = \theta$

یا دا لاندې :

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
|  | $A \backslash B$<br>( B بې له A )<br>( x له A سره B اړیکې‌لري ) |

دویم :

$$M_1 = \{k,r,a,i\}, M_2 = u,r,s,e,l\}$$
$$M_1 / M_2 = \{k,a\}, M_2 / M_1 = \{u,s,a\}$$

لکه څنګه، چې د کمون یا تفریق پیژند او بیلګي را په ګوته کوي په ټولیزه توګه باور نه لري:

$$M_1 / M_2 \neq M_2 / M_1$$

## د یوې ډیرۍ یا سټ کمپلمنت یا پوره کوونکی :

دا کارونه یا عملیه د نورو کارونو څخه توپیر لري، چې په ډیرۍ کی مو څیړلي۰ دا یوه یوځاییزه کارونه ده او دا نورې دوه ځایزې کارونی یا عملیې دي۰

مورږ بنسټډیری په U او د ټولو هغو توکو ډیری، چېU کې پراته دي یاني دU توکي دي او هغه په M کې نه دي پراته یاني د M توکي نه دي پوره ډیری یا کمپلیمنت بولو او د $\bar{M}$ سره یې په نخښه کوو۰

په لاندې څیره کې بیا د ډیرۍ غوڅې، - ټولنه او – کمون او برخډیرۍ ته د ګرانو لوستونکو لا زیات پام را اړوو۰

(c) ketabton.com: The Digital Library















پیژند:

پوره کوونکی- یا تکمیلډیرۍ ( یا د یوې ډیرۍ کمپلیمنت ) د یوې ډیرۍ M پوره کوونکې ډیرۍ $\bar{M}$ تیک هغه توکي لري( د بنسټډیرۍ U څخه) ، کوم چې د M توکي نه وي۰

دوه ځله کمپلیمنټډیرۍ جوړول خپلې لومړنی وینا ته ځي ، یانې $\bar{\bar{M}} = M$

دلته یواځې یوه ساده بیلګه راوړو: په یوه کلي کې دوه کورنی د توپیر او برګ کورنی اوسیږي۰ که دا دوه کورنی یو له بل سره خپلوي ونه لري، نو دوي یو له بل سره پوره ډیرۍ یا تکمیلډیرۍ بلل کیږي یانې دا کلی پوره کوي۰

## ۲ . ٤ څیرونه mapping یا اړیکې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



يادونه : پام دې وي، چې دا هغه ورسره بلد تابع كلمه نه ده، چې وروسته به ورسره بلد شو٠

په دې برخه كې لومړى د ډيرئ ضرب كلمه پيژنو يا تعريفوو او بيا د ضرب كلمې كارونه څيړو٠

پيژند ۲ ٠ ۹ : د دواړو ډيريو M يو او 2 M ډيريضرب( اتيرانضرب) هم ورته وايي، يانې په x سره ځليږي يا ضربيږي

$$M = M_2 \times M_2$$

د ټولو تنظيم يا ترتيب شويو توكو

$$x \in M_1, y \in M_2$$

جوړو (x,y) ډيرئ ده٠

بيلګې

$$M_1 = (a,b\}, M_2 = \{1,2,3\}$$
$$M_1 \times M_2 = \{(a,1),(a,2),(a,3),(b,1),(b,2),(b,3)\}$$

د جوړو د غوښتل شوي تنظيم له مخې ځل په ډيريو كې كموتاتيو نه دئ دا په دې مانا، چې

په ټوليزه توګه باور نه لري: $M_1 \times M_2 \neq M_2 \times M_1$

۲ – R دې د ټولو رييلګڼونو ډيرئ وي٠ په هندسي مانا د كرښې د ټولو ټكو ډيرئ٠ RxR د ټولو رييلګڼونو جوړو ډيرئ ده، په هندسي مانا د هوارې يا سطحې د ټولو ټكو ډيرئ ده٠

پيژند ۲ ٠ ۱۰ :

د څيرونې F لاندې د دوه ډيريو د ضربډيرئ $M_2 \times M_2$ برخډيرئ پوهيږو٠

(c) ketabton.com: The Digital Library



پس د جوړه تنظيم شوو توکو ډيرۍ، چې $x \in M_1$ له يوه يا ډيرو توکو $y \in M_2$ سره تنظيم يا بهتره په باندې ځيره شي٠

داسی هم ويلی شو: د1 M توکي د2 M په يوه يا ډيرو توکو تنظيميږي يا ځيږه کيږي٠

که $(x.y) \in F \subseteq M_1 \times M_2$ وي، نو x اوريجنل يا اصلي توکی او y ځيره توکی بلل کيږي٠

د ټولو اصلي توکو ډيرۍ پيژندورشو يا تعريفورشو يا پيژنددډيرۍ يا تعريفډيرۍ بلل کيږي او د ټولو ځيږه توکو ډيرۍ د ځيږوني ډېرۍ، ارزښتورشو يا ارزښتډيرۍ بلل کيږي٠

بيلګی

$$M_1 = \{a,b,c,d\}, M_2 = \{1,2,3,4\}$$

د جدول په توګه دM يو توکو ځيږونه ونه يا ځيږه کوونه د M دوه په توکو

ځيږه توکی اصلي توکه يا ځيره کوونکی توکی

a -----------------------→ 1 , 2 ,5

b -----------------------→ 4

c -----------------------→ 3,4

d -----------------------→ 2,3,4,5

يا دا لاندې:

(c) ketabton.com: The Digital Library






ځيرونه:

F = { (a,1),(a,2),(a,5),(b,4),(c,3),(c,4),(d,2),(d,3),(d,4),(d,5)}

( د M يو او M دوه ډيريو د ټولو توکو جوړو ډيرۍ)




Bild 9.6 ځایره

دريم : هر پيدايښتي يا طبيعي ګڼ a د هغه په دوه ځله b=2a باندې ځيره کيږي. داسې پيژند شوې يا تعريف شوې ځيره ونه په لاندې بڼه هم انځوريدلی شي.

$$F = \{(a,b) \mid a \in N, b = 2a\}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته هم N د پيدايښتي يا طبيعي ګڼونو ډيرۍ. پيژندډيرۍ يا تعريف- د ټولو پيدايښتي ګڼونوډيرۍ ده او ارزښتډيرۍ د ټولو جوړه ګڼونو ډيرۍ ده.

ځلورم : که M يو په يوه ښوونځي کې د ښوونکو ډيرۍ وي او M دوه په ښوونځي کې د ځانګړو ټولګيو ډيرۍ وي نو ښوونکي، چې په ټولګيو کې درس ورکوي دا يوه ځېرونه ده. د ښوونکو ډيرۍ د ځانګړو ټولګيو په ډيرۍ کې

موږ د ځېره ونې ځلور حالتونه توپيروو:

پيژندونه( دې ته دې ګران لوستونکي ښه پام وکړي):

لکه په لومړۍ بيلګه کې په ځيره ونه F کې د1 M ، چې تعريفډيرۍ D سره برابر دۍ او M2 ، چې له ځيره ډيرۍ , W سره برابر دۍ ، توکي مو مخ ته پراته دي.

له يوې ځيرونې Fغږيږو د1 M په M2 باندې. دلته دې « د » او « په » ته پام وي)

وي دې: $D \subset M_1, W \subset M_2$

لکه په دويمه بيلګه کې ، نو د يوې ځيره ونې F غږيږو له M1 په M2 کې ( دلته دې

« په » او ,په کې » ته پام ور واړول شي)

وي دې : $D = M_1 \wedge W \subset M_2$

دلته د يوې ځيره ونې غږيږو د1 M په M2 کې دلته دې دريمه بيلګه په پام کې راواړل شي.

وي دې: $D \subset M_1 \wedge W = M_2$

نو د يوې ځيره ونې غږيږو له M1 په M2 باندې. دلته ځلورمه بيلګه د بيلګې په توګه راوړو. د دې نيونې لاندې چې ټول ښوونکی ځانګړي ټولګيو ته درس ورکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



يادونه : دا لاندې برخه دې ګران لوستونکي وګوري، خو د دې اوس وخت لپاره لږ ستونځمنه ده او شايد ځيرې هم رانه شي، خو که لږ د شميرپوهنې سره بلد شو، بيا پرې پوهيدل ساده دي۰ زه مخ ته لرم، چې په دې هکله ليکلى کتاب، چې چاپ شوى نه دى دلته پر ليکه کړم، چې هلته بيا دا موضوع لږ غزيدلې ده۰

بېلګه ۲ ۰ ۵ : مونږ په هواره يا سطحه کې ځرګند شوي کړى د ډېريځل RxR په ځير د برابرونونو له لارې رانيسو( R د ريپلګنونو ډېرى د ګنګرښې ټکي دي( ګنونه دې وکتل شي))۰

الف ) $y = 2x$ يوه ځيره ونه ده د R په R باندې ، ځکه چې باور لري

$$D=W=R$$




يادونه : په پورته ځيره کې برابرون $y = ax+b$ دى.

ب ) $y = x^2$

يوه ځيره ونه ده د R په R کې ، ځکه چې باور لري

$$D = R,\ W = [0, \quad ] \quad \infty$$

(c) ketabton.com: The Digital Library






یادونه :

پوته بلواک د $x \mapsto ax^2 + bx + c$ ډول دی، چې b = 0 , c = 0 او a = 1 , a = -1
اینبول شوي دي.

پ ) y = log x

یوه خیره ونه ده له R په R باندې » ځکه چې باور لري.

$D = (0,\infty) \wedge W = R$



(c) ketabton.com: The Digital Library



ت ) $y=+\sqrt{x}$

یوه څیرونه ده له R په R ، ځکه چې باور لري

$D=W[0,\infty]$




یادونه : پورته د دويې ،دریمې او په x -مې ریښې په مانا دی

څیرې له ویکي څخه په مننه راکښته شوي دي٠

پیژند ۲ ٠

یوه څیره ونه E یواځنی بلل کیږي٠ که هر $x\in D$ په ټیک یوه $y\in W$

باندې څیره شي٠ دا په دې مانا، چې هر $x\in D$ ټیک یووار په $y\in W$

تنظیمډیرۍ یا جوړه ډیرۍ کې رامنځ ته کیږي٠ یوه یواځنی څیره ونه فنکشن

یا« بلواک» بلل کیږي او یا لکه تراوسه ورسره بلد یو یوه تابع بلل کیږي٠

پام:

دا دې دلته کره په ګوته شوې وي، چې زه « یوازنۍ څیره ونه » بلواک یا فنکشن بولم٠

(c) ketabton.com: The Digital Library






بیلګه ۲ ۰ ٦ : په بیلګه ۲ ۰ ٥ کې له الف تر ت پورې تولې څیروني فنکشنونه یا بلواک دی۰ د دې پر څنګ لاندې برابرون ( یوونګردۍ یاني ګردی، چې وړانګه یې یو یوون یایووالی یا واحد وي څیره ۰ ) انځور شوې څیره ونه له R په R کې [1,1-]) D=W) فنکشن یا بلواک نه دی ، ځکه چې اصل دوه څیرې لري یاني که په تنظیمجوړه کې د څیره ونې لړي پرلپسې( لنډ:لړۍ ) بدله شي، نو یوې پرڅنګ څیره ونې ته راځو:

پیژند ۲ : څیره ونې F ته پرڅنګ څیرونه $F^{-1}$ د تولو جوړو (x,y) ډیرۍ ده له سره ۰ $(x,y)\in F$

پیژند ۳ ۰ یوه څیره ونه یویواځنۍ بلل کیږي، که یواځنۍF او $F^{-1}$ یوازنۍ څیروه ونې وي، دا په دې مانا، چې که هر $x\in D$ او $y\in W$ تیک یو ځل په تنظیم کې منځ ته راشي۰

یادونه : د څیروني نوم څخه باید ونه ډار شو دا څیره ونې څیرې کووني (که څوک یو کالی یا رخت څیرېکوي)او څیره کووني توپیر، ځکه سره کیدی شي، چی هغه منځپانګه یې یو له بل توپیر لري۰ موږ پښتو کې نږدې یو ډول لیکونکي ویونه ( لغات) لرو، خو دا هغې منځپانګې له مخې توپیریږي۰
ډیرۍ پوهنه د شمیرپوهنې سته ده، نو په راتلونکې کې به یې نوره هم ژوره وڅیړو او همدا اوس هم نور ګران هیوادوال دې ته رابولم، چې له ما سره ګډ کار یا خپلواک دې کار ته ملا راوتړي۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما دا برخه غزولې، چې په خپل شووني وخت کې به ګرانو لوستونکو ته په ځانله توګه د يوه کتاب په څير هم وړاندې شي۰

## ٢ . ٥ تمرينونه

١ – د لاندې ډېرئ يا سټ توکي د شميرنې له لارې انځور کړئ

الف $\{x \mid x < 20\}$ او x لومړی عدد (لوستل: د ټولو عددونو x ډېرئ يا سټ، چې x لومړنی عدد او $x < 20$ دی).

ب- $\{x \mid x^2+x-6=0\}$

پ- $\{x \mid x > 0$ او $x^2+x-6=0\}$ دا په نوکانوکې ټول له کيڼ ښي لور ته لولو

ت ) $\{x \mid x$ رييلګڼ او $x^2+1=0\}$ دا ټول له ښي کيڼې لور ته ولولی

٢ – د توکو $x, y, z$ اړلرونوالی و ډيري M ته وښيئ !

الف ) M د لمړنيو ګڼونو ډيرئ

$$x = 4 , y = 5 , z = 6$$

ب ) M د لاندې مساواتو حلډيرئ ( اوبيلډيرئ )

$$x^3 + x^2 - 6x = 0$$

$$x = 0 , y = 2 , z = 3$$

پ ) M د ريشنلګڼونو ډيرئ چې په اينټروال [ 3 ,3- ] کې پراته دي

$$x = -2 , \quad y = \sqrt{2} , \quad z = 1/3$$

ت ) M د رييلګڼونو ډيرئ چې په اينټروال [ 3 ,3- ] کې پراته دي

$$x = -4 , \quad y = \sqrt{2} , \quad z = 3$$

٣ – د لاندې ډيريو ترمنځ کومې اسړيکې پرتې دي

الف ) $M_1$ د ټول جفت ګڼونو ډيرئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



او $M_2$ د ټولو ټولګټونو ډيرۍ

ب ) د ټولو مساواتو $x^2 + 2x - 3 = 0$ , حلونو ( اوبيو ) ډيرۍ

$M_2 = \{ -3 , 1 \}$

پ ) $M_1$ د ټولو ګنو ډيرۍ چي پر ۶ ويشل کيږي.

او $M_2$د ټولو ګنونو ډيرۍ چي په ۳ ويشل کيږي !

او $M_3$د ټولو ګنو ډيرۍ چي په ۱۲ ويشل کيږي!

۴ – د ډيرۍ $\{ a,u,t,o \}$ ټول برخډيري ورکړی!

۵ – د لاندي ډيريو څخه ټولنډيرۍ ، غوڅډيري او دواړه ټوټډيري جوړ کړی !

الف ) $M_2 = \{m,a,u,l,t,i,e,r\}$ , $M_1 = \{ k,a,m,e,l\}$

ب ) $M_2 = \{ 3 ,6 ,9, \ldots \}$ , $M_1 = \{ 2,4,6,.. \}$

پ ) $M_2 = \{x \mid x^2-3x+2 = 0\}$ , $M_1 = \{ x \mid x^2 + x +- 2 = 0\}$

۶ – د يوه ډيرۍ M او د تشډيري $\emptyset$ ټولنډيرۍ، غوڅډيرۍ او توپيرډيرۍ جوړ کړی!

۷ – د يوه ډيرۍ M او خپل همدي ډيرۍ ټولنډيرۍ ، غوڅډيرۍ او توپيرډيرۍ جوړ کړی!

۸ – وي دي $M_2 = \{ 3 , 6 , 8\}$ $M_1 = \{ 4 , 8 , 12 \}$

$M_4 = \{ 6 , 12 , 18 \}$ , $M_3 = \{0 , 2 ,4 ,6 \}$

جوړ کړی : $M = [(M_1 \cup M_2) \cap M_3 ] \setminus M_4$ !

۹ – جوړ کړی

الف ) $M_1 \cup (M_1 \cap M_2)$ پ ) $M \setminus \emptyset$

ب ) $M_1 \cap (M_1 \cup M_2)$ ت ) $\emptyset \setminus M$

۱۰ – وي دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$M_1 \cup M_2 = \{1,2,3,4,5\},$$
$$M_1 \cap M_2 = 71,3,5\}$$
$$M_1 \setminus M_2 = \{2,4\},\ M_1 \setminus M_2 = \emptyset$$

له دې پورته څخه $M_1$ او $M_2$ وټاکی !

۱۱ – وي دي

الف ) $M_1 \cap M_2 = \emptyset$ ب) $M_1 \subset M_2$,

وټاکی: $M_1 \setminus M_2$ !

۱۲ – وي دی $M_1$ , $M_2$ (د نيمواز ) اينتروال تکي ډيري:

$$M_1 = \{-3 , 3\} , M_2 = [1 , 7]$$

وټاکی

الف ) $M_1 \cup M_2$ ب ) $M_1 \cap M_2$ پ ) $M_1 \setminus M_2$

ت ) $M_2 \setminus M_1$ ټ ) $M_1 \times M_2$

۱۳ – وي دي $M_2 = \{\{a , b\}$ , $M_1 = \{1 , 2 , 3\}$

الف ) د $M_1 \times M_2$ څل جوړ کړی

ددې لاندې ب ) تر ت ) برخی تمرين لپاره دي ۹ الف برخه وکتل شي.

ب ) دا لاندې کوم ډول څيرونی دي

$$F_1 = \{(1,a),(1,b)\}$$
$$F_2 = \{(1,a),(3,a)\},$$
$$F_3 = \{(1,a),(2,b),(3,b)\} ,$$
$$F_4 = \{(1,a),(2,a),3,a)\},$$
$$F_5 = \{(1,a),(2b)\}$$

په ټولو حلنونو (اوبيو ) کی $F_1$ تر $F_5$ ورکړی .

پ ) په څټ څيرونه ورکړی

ت ) د څيرونو $F_1$ څخه تر $F_5$ پورې، کوم يواځنی او کوم حتی يويواځني دي ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۳ . دحقیقي اعدادو (-ګڼونو) سره د شمیرلو بنسټیزې نښلونې

( ترڼی، کارونی یا عملیي)

### ۳ . ۱ د اعدادو د سیستم جوړښت

#### ۳ . ۱ . ۱ طبیعی اعداد یا -ګڼونه natürliche Zahlen

انسانانو له پخوا څخه اعدادو ته اړتیا درلوده٠ له دې امله یې پرمخ ودیینه کې هڅې وکړې، چی له ډیری (سیټ) (د لیکنې په دننه کې ډیری پوهنه هم څیرلشوې)) سره داسې لارغوره کړي، چی دا ډیری تشریح کړای شي او د انسانانو او چاپیریال( طبیعیت) د پرلپسې اخ او ډب په نتیجه کې د ګڼ یا عدد وی( کلمه یا لغات) راپیداشوی، چې د عدد یا ګڼ کلیمې پربنسټ د رینتینو شیانو څرګند څومره والي ( کمیت)Quantitative ترلاسه کړي٠ د طبیعی اعداد و څخه په ګڼلو یا که غواړې شمیرلو کې ګټه اخستل کیږي٠

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۳ ۰ ۱ ۰ ۱ ۰ الف د طبیعي عددونو(پیداینبتي گنونو) جوړښت

پیژند (تعریف)۳ ۰ ۱:

الف ) ټول طبیعی اعداد د ډیری په څیر یوه ټولګه جوړوي او د طبیعی اعدادو ډیری یا سټ په نامه یادیږي یا یې طبیعی اعداد بولو او په N او همداسې °N سره یې په نخښنه کوو۰

ډیر پای طبیعي اعداد شته ، ځکه چې په هر طبیعی عدد پسی راتلونکی طبیعی عدد هم شته دی ( یعنی په هرڅومره لوي طبیعی عدد پسی راتلونکی طبیعی عدد شته دی، چې دا وروسته روښانه کیږي)۰

## ب) دطبیعي ګڼونو(اعدادو) اکسیوماتیکيAxiomatic جوړښت

اکسیوم جمله ده، چی اوبیونه ( حل ) نه غواړي او همداسی منل کیږي۰ دا چی جمله ، اکسیوم څه دي په لومړی برخه یانې سم اند ( منطق ) کې دې وکتل شي۰

طبیعی عدد کلمه د جیوسیپې پیانو( Giuseppe Peano له ۱۸۵۸ – ۱۹۲ ز۰کال) اکسیومونو پر بنسټ لاندې پیژند لري یا په لاندې توګه تعریف کیږي:

۱ – د صفر ګڼ یو پیداینبتي ګڼ دئ

۲ - د هرطبیعي عدد یا ګڼ m لپاره یو یواځنی ټاکلی طبیعي عدد n شته، چې سملاسي(ترلی) د m پسی ګڼ دئ، د کوم لپاره چی لرو: $m+1 = n = m^\wedge$

دلته $m^\wedge$ د m پسې سملاسې یا ترلی ګڼ یا عدد په ګوته کوي۰

۳ – هرطبیعي عدد زیات له زیاته په یوه طبیعی عدد پسی سملاسي راتلونکی ګڼ دئ۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



٤ – هيڅ طبيعي عدد نه شته، چې پسې راتلونکی پيداينښي عدد يې صفر وي.

٥ – که طبيعي عددو ډېرۍ M صفر د توکي په څير ولري او که له هر طبيعي عدد m سره د هغه پسې تړلی راتلونکی عدد يا ګڼ `m هم د M توکی وي، نو M ټول

طبيعي عددونه خوندي لري يا په بل ډول » ټول طبيعي اعداد په کې ځاي دي.

يادونه: ځنې ادبياتو کې، د پيانو سيستم کې، د صفر په ځای ۱ ليکل شوی. په دې حالت کې بيا صفر ته د طبيعي عدد يا ګڼ په څير نه کتل کيږي. که بيا صفر ورسره مل کړو، نو د صفر سره طبيعي ا عدادو ډېرئ يا –ستې يې د صفر سره بولو.

## ۱ . ۱ ب : د طبيعی اعدادو يا ګڼونو انځورونه او سيستمونه:

طبيعي اعداد په نخښو ( دې ته په الماني کې Zifferوايي، چه همغه د صفر په معنا دی، خو دلته ترې مطلب، چې دا څيرو، دی) انځوريږي. د دې لپاره چې دا لړ ځای ونيسي، نو د لويو او وړو اعدادو لپاره نخښې له کوچنيو سره يوځای کيښول شوې دي. دا چې څرنګه يوه د عدد يا ګڼ نخښه له بل توپيريږي، په لاندې ډول يې د زياتون يا جمعي سيستم او ځای سيستم کې ښايو.

په زياتون سيستم کې هر بنسټيز ،،ځای،، يو ،، ځای ارزښت،، لري. د څيفرونو زياتون د يو په بل کې د ورزياتشوي بنسټيز څيفر پخپله هغه عدد يا ګڼ ورکوي. بيلګه يې په رومي ګڼونو کې راړو. دا له بنسټيزو څيفرونو جوړ شوی( ترې لاندې لسيز د اعدادو سيستم دی). زه دلته د ضرورت په بنسټ ټول ضروري څيفرونه چې موخه ترې عددونه دي، له پيل راوړم:

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| رومي عددونه: | M | D | C | L | X | V | I |
| عربي عددونه: | 1000 | 500 | 100 | 50 | 10 | 5 | 1 |

طبيعي عدونه له دې امله يو د بل ترڅنګ ليکو چې کم ځای ونيسي لکه د بيلګې په توګه:
CXX په دې معنا چې C+X+X

په رومي ګڼونو کې، که بنسټيز کوچني ګڼنخښې لکه C , V , I د لوي ګڼنخښې و کيڼ لور ته وليکل شي نو دا مانا لري چې دا کوچنی ګڼ له لوي ګڼ څخه کم شوی.
د بيلګي په توګه: XC = C - X .

**بيلګې:** **الف:** MMDCCLXVIII په دې مانادی 2768

ب : MCMXXIX په دې مانا دی 1929

پ : CCCIV په دې مانا دی 304

**ځايسيستم:** په ځاي سيستم کې هره بنسټيزه نخښه يو «ځاي ارزښت نخښه ارزښت» لري.

لکه : g– ئيز ځاي سيستم ( پوزيشن سيستم ( Positionssystem ) ): د طبعي ګڼ n انځورونه په g– ئيزځای سيستم کې په دې ډول ده چې د يوه ورکړشوي ستې په بنسټ( g ∈N ) $g \geq 2$ هر طبعي ګڼ n په لاندې ځانګړي ډول انځوريدلی شي:

$$n = a_k g^k + a_{k-1} g^{k-1} + .... + a_1 g + a_0$$

دلته بنسټيزې ګڼنخښې $a_i$، g د $i = 0,1,2,...,k$ او $k \geq 0$ د $0 \leq a_i \leq g-1$ چې $a_k \neq 0$ وي په کار راځي يا اړتيا ورته شته.

ليکلی شو :

$$n = a_k a_{k-1} .....a_1 a_0$$

که د بدليدلو ( د بل څه سره ) امکانات رامنځ ته کيږي، نو بهتره به وي چې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاندي ډول وليکل شي

$$n = [a_k a_{k-1} \ldots a_1 a_0]_g$$

نن په ټوله نړۍ کي ګڼل په لسيز سيستم ( ګڼځای ارزښت ) باندې کيږي، چې تل داسي نه وه. لکه په افغانستان کي چې دا اوس هم د ډوډۍ پور لپاره په لرګي کرښه را کاږي، چې څو ډوډۍ واخستل شوې.

---

په لسيز سيستم کی ګڼځای «ارزښت» لري چې انځور شي، مګر په لرګی کی ځای ارزښت نه لري چې کرښه چيرته کښل شوې، هلته د پور کرښو له ګڼون يا تعداد څخه پور څرګنديږي.

بل د ګڼلو سيستم . لکه د مخه مو چی تر پام لاندې ونيوه، د ګڼلو رومي سيستم دی چی نن هم د ارزښت وړ دی او همدارنګه د مفهوم ډك، زياتونسيستم(جمعی – ) څرګنديږي.

بيا هم غواړو چی دا په لاندې ډول ځانګړی کړو:

۱ – هره لاندې نخښبه I, X, C کړای شي چی زيات ترزياته ۳ ځله( ۳ واری ) په يو ګڼ کی پرله پسی يا څنګ تر څنګ راشی

۲ – هره، د ګڼ نخښبه V, L, M خورا زياته يو ځل څنګ تر څنګ په يوه ګڼ کی راتلی شي.

۳ – که بنستيز نخښبه I, X او يا ..........__-- ددې نخښبو د ارزښت نه لوړو ارزښت نخښبو V, X, L, C, D يا M CXI تر مخ ځای په ځای شوې يا انځوروي نو د لوي ارزښت څخه کميږي .

زياتون او کمون (جمعه او منفي )

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴ – په هرګڼ انځورونو (Zahlendarstellung ) کی کیدی شي چې یواځې یو بستيز ګڼ تر مخ ځای په ځای یا انځور شي لکه: 1098 = MXCVII مګر نه IMIC
۵ – د یو ګڼ لپاره د امکان په حال باید کمې نخښې په کار واچول شي.

**عربي ګنونه** : دا ګنونه، چې موږ ورسره بلد یو، د لسيز سيستم ګنونه دي، چې عربي ګنونه بلل کيږي. دا د ګڼلو لسيز سيستم عربو د هند څخه راوړی چې په دولسمه پيړۍ کې يې اروپا ته یو وړ. دا اصلي ګنونه له صفر ( ۰ ) تر ۹ پورې دي یا له 0 تر 9 پورې، چې

ځيفر ورته واي (همغه عربی صفر دی) چې دلته ترې بنستيز ګنونه پوهيدل کيږي.

لکه چې ګوته مو ورته ونيوه زياتونسيستم نور ارزښت نه لري، څکه چې د یو ګڼ ارزښت د ګڼ نخښی زياتون باندې انځور کيږي. د ځای سيستم سره د ګنونو انځورول ساده دي.

| |
|---|
| **تعريف ۱ . ۱ ب** : په يو «ځاي ارزښت سيستم» کی هغه ګڼ لوي دی چې زيات ځايونه ولري، که چيرې د ګڼ د ځايونو شمير سره برابر وي ( مساوي وي ) نو هغه ګڼ ستر دی چې له کيڼی لورې يی نخښنه لويه وي. |

**لسيز – يا لسګونی سيستم**: لسيز سيستم هغه ځای ارزښت سيستم دی چې له انځورونی يی څرګنديږي. په لسيز سيستم کی د ګڼ انځورولو نخښی، لکه د مخه مو چې انځور کړې، ۹،۸،۷،۶،۵،۴،۳،۲،۱،۰ دي. ۱۰ ګڼ د لسيز سيستم بنستيزه نخښنه ده. دا چې نور ګنونه نه انځوريږي، نو ځای هلته ډك دی چې پرله پسی ( ترتيب يانظم )
د ۰ تر ۹ يعنی له 0 تر 9 ګنونو پورې په ځای شوي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې ډول د پسې جګ ځای يوون (واحد) د په کار اچول شووګڼخښنو ګڼون (تعداد يا شمير) دی، خمور په حالت کی ۱۰ .

لکه چی د مخه مو ګوته ورته ونيوله، د پای (نه لايتناهی) ډيري (set , die Menge) ((امه برخه دې وکتل شي)) غړو ګڼلو لپاره لاندې ګڼونه کفايت کوي: ۱، ۲، ۳، ۴، او ۹ داسی نور. تولودې ګڼونو ته چی دصفرګڼ ورسره مل شي د طبعي ګڼونو ډيری N ويل کيږي. ددې لپاره ليکو :

$$N = \{ 0, 1, 2, . 3 . 4 , 5 , 6,....\} ; \qquad N^* = \{ 1, 2, 3, 4, .....\}$$

موږ ګڼونه په کوچنيو لاتينی ټکو يا حروفو ښايو لکه a ,b,c, ... . n . دا رېښتوني

(رېښتينوالی يا واقعيت) چی n دې يو طبعي ګڼ وي، داسی ليکل کيږي $n \in N$ يا $n \in N^*$ (ويل کيږي چی: n د طبعي ګڼونوډيري N يا*N توکی دی(لنډ n د N يا *N ځخه دی) ) په دې ځای کی دې دګڼ او ګڼځای (ځيفر) توپير ته پام وي.

موږ دګڼونو ټاکلو لپاره بلد يا اشنا د نځنبډيري لسيز سيستم په کار اچوو ( استعمالوو )

$$N_{10} = \{0,1,2,3,4,5,6,7,8,9,\}$$

د ګڼونو د نځنبو $a_i \in N_{10}$ پرله پسی، لکه د مخه مو چی په ګوته کړل، په لاندې ډول يو طبعي ګڼ انځوروي:

$$a_n\, a_{n-1}\, a_{n-2} \ldots a_2\, a_1 a_0 = a_n.10^n + a_{n-1}10^{n-1} + a_{n-2}\,.10^{n-2} + ..+ a_2\,.10^2 + a_1.10 + a_0\,10^0$$

$$a_i \in N.$$

ګڼونه په نورو ځيفرونو ډيري هم انځوريدی شي. د بيلګي په توګه په اينفورماتيك (Infrormatik) کی، چی د دوالسيستم ( Dualsystem ) ( دوئيز سيستم) ځخه کار اخستل کيږي. ددې لپاره دوه ګڼځښبي (ځيفرونه) ليکل کيږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



$N = \{ 0,1 \}$

په لاندې جدول کې دلسیز او دوه ئیز سیستمونو لمړني ګڼونه یو د بل ترڅنګ کښل شوي:

| دوه ئیز سیستم | لسیز سیستم |
|---|---|
| 0 | 0 |
| 1 | 1 |
| 10 | 2 |
| 11 | 3 |
| 100 | 4 |

په ټولیزه توګه( عمومي توګه) دلته یو څیفر پرلبسې(د عددون ترادف) $a_i \in N_2$ یو طبیعي عدد په لاندې ډول انځوروي،

$$a_na_{n-1} \ldots a_2a_1a_0 = a_n.2^n + a_{n-1}.2^{n-1} + \ldots + a_2.2^2 + a_1.2^1 + a_0.2^0 , \; a_i \in N$$

بیلګه ۱ . ۱ :

$$59 = 1.32 + 1.16 + 1.8 + 0.4 + 1.2 + 1.1$$
$$= 1.2^5 + 1.2^4 + 1.2^3 + 0.2^2 + 1.2^1 + 1.2^0 = 111011$$

یا دونه :: څه لنډ لنډیزونه

د طبیعي اعدادو ډیرۍ یا سټ داسی په نخښنه کوو:

د پیدایښتي یا طبیعی ګڼونو ډیرۍ $N = \{ 1, 2, 3, \ldots \}$

دپیدایښتي ګڼونو ډیرۍ د صفر سره $N^\circ = \{ 0, 1, 2, \ldots \}$

(c) ketabton.com: The Digital Library



ه کتابونو کی دا د صفر نخښه په لاندې برخه کی راځي۰

## ۳ ۰ ۱ ۰ ب د طبیعي اعدادو یا ګڼونو انځورونه:

طبیعي اعداد په نخښو انځوریږي۰ دا عددونه یا ګڼونه د ځان لپاره یو سیستم لري، چی هغه زیات یې موږ نه څیرو۰ زموږ لپاره غوره هغۀ عربی اعداد یا ګڼونه دی۰

یا په بل ډول : دا عددونه چی موږ ورسره بلد یو د لسیز ځایستسم عددونه دي، چی دا مو د مخه په ګوته کړل۰ دا کورونه (خوني یا خانې) لري او په هر کور کی له صفر تر ۹ ځاي نیوی شي او بیا یې هر ځاي یو ارزښت لري، له دې امله دا » ځاي ارزښت سیستم« دی۰ لومړي کور ته یویز، دوم ته لسیز، دریم ته سلیز او همداسی ، چی دا مو د مخه لږ روښانه کړي۰

انځورونه یا څیفرونه یې دي : ۰ ، ۱ ، ۲ ، ۳ ، ٤ ، ٥ ، ٦ ، ۷ ، ۸ ، ۹ دا د بنسټیز ګڼونو نخښی دي، نور یې په کورونو یا ځایسیستم باندې روښانه کیدی شي۰

پیژند ۳ ۰ ۱ ۰ ب :

په یو» ځاي ارزښت سیستم « کې هغه ګڼ لوي دی، چی ډیر ځایونه ولري۰ که چیرې د ګڼ د ځایونو یا کورونو ګڼون ( تعداد ) سره برابر وي۰ نو بیا هغۀ ګڼ لوي دی، چی کیڼ لور یې ګڼنخښه لویه وي۰

### ۳ ۰ ۱ ۰ پ : طبیعي اعدادو کې د شمیرنې بنسټیز قوانین

اوس په لاندې ډول د پیدایښت ګڼونو، په ټولیزه توګه د رییل ګڼونو لپاره او وروسته د کمپلکسو ګڼونو لپاره هم باوري( معتبر) بنسټیز د شمیرنې قوانین وړاندې کوو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



الف : د انډول (نظم یا ترتیب یا لوي واړه ترتیب( Anordnung) بنسټيز قوانين:

که > ولرو، نو دې ننوتي کونج کی یا د نخښی خوله کی عدد یا ګڼ لوي دی او د وتلی کونج یا لوي کونج >که نخښه یا داسی کونجکی یا څټ یا ککره کې لیکل شوی عدد کوچنی دی۰ که ګڼونه یا اعداد ١٥ او ٢٣ ولرو نو د لویواړه اړیکی داسی لیکو، یانې که 15 < 23 ولرو نو ترې څرګندیږي، چی عدد١٥ له عدد ٢٣ کوچنی دی .

د دوه طبيعي اعدادو a اوb ترمنځ له لاندې اړيکو څخه ټيک یوه اړيکه باور لري»

$a < b \quad , a = b \quad , a > b$

٢ ـ ٢١ =٢١ که د ٢١ په ځاي توری ولیکو هم a = a به وي اينه ونه یا هندارونه یا منعکسونه (ريفليکسيويتي Reflexivity )

٣ – له a = b => ( لاس ته راځي) b = a ( سيومتري، انډول، ورته وابي ( Symmetry )

د انعکاسي (اينه ونيز – یا هندارونيز) برابروالی یانی که چيري دا عددونه ورباينه یا هنداره یا انعکاس شي، نو دواړه عددونه په دا بل لور بیرته سره برابر دي یا برابريږي۰ که انعکاسي(اينه ونيز)برابر نوم ورته کيږدو، نو هم مناسب به وي، خو موږ به يې همغه سيومتري وبولو۰

٤ ـ له a = b او b = c => ( لاس ته راځی) a = c (ترانزيتيوTransitivity)

ترانزيتيو ګورو، چی یو له بل اړوند مانا ته نزدی دی، څکه چی دا ګڼونه يو د بل سره په واکوالي تړلي یا له يو څخه وبل ته ځی یا وړل کيږي۰

٥ – له a < b اوb < c => ( لاس ته راځی) یا a < c یا $a < b, b < c \Rightarrow a < c$

وړانديز : که چيری دا پورته وي یا لغاتونه یا نومه ونی په همغه لاتين نومونو وليکو ښه

(c) ketabton.com: The Digital Library



به وي، خو له شمیرپوهنی پرته مانا باندی یې هم پوهیدنه ښه او اړینه ده۰

ب : د زیاتون ( جمع) Addition n. بنسټیز قوانین

که چیرې له طبیعي اعدادو څخه یو ، دوه یا څو ګڼونه یو په بل زیات شي، نو یو پیداینښتي ګڼ ترې لاس ته راځی او دا کارونه( عملیه) «زیاتون یت جمعه » بولو، ځکه، چې ګڼونه یو په بل زیاتیږي۰

پیژند: د همغه ډول شیانو یا یو څه یو په بل زیاتیدلو ته زیاتون (جمع) وایو

که عدد ۱۰ په عدد ۱۸ ورزیات کړو نوعدد ۲۸ ترې لاس ته راځی یا

۱۰ + ۱۸ = ۲۸

په پورته کې ۱۰ او ۱۸ یو پر بل زیاتیږي، نو له دې امله یې «زیاتېدونی» ( ما تراوسه زیاتووني بللي، خو فکر کوم،چې زیاتیدوني یې ښه نومه ونه ده) بولي، ۱۰ + ۱۸ جمعه او ۲۸ « جمع ارزښت» بلل کیږي ۰ چی په هغه پخوانی نوم مو ورته حاصل جمع وایه ۰ + زیاتوننخښه ده او = برابروننخښه ( مساوات علامه) بولو

دجمعې یا زیاتون بنسټیز قوانین

۱ - د دوه طبیعي اعدادو a او b لپاره تل یو زیاتون ( جمع) a + b شته دی

۲ - یواځنوالی : له a' = a او b' = b څخه لاس ته راځي: a'+b' = a + b

۳ - COMMUTATIVE LAWکموتاتیو- یا بدلون قانون دی:a + b = b +a

۴ - assotiative law اسوځیاتیو - سره ګډېدنې قانون. لرو (a+b)+c=a+(b+c)=a+b+c

۵ - Monotony law مونوتوني – یا همغږیزوالي قانون :

(c) ketabton.com: The Digital Library



له $a < b$ څخه لاس ته راځي $a+c < b+c$

يادونه : په $a+b=c$ کې $a$ او $b$ زياتېدوني $a+b$ زياتون او $c$ زياتون ارزښت بلل کيږي

يادونه : په زياتون کې لاندی زياتونقوانين هم باوري دي:

ناپيلی توکی: په $N^{\circ}$ کی يو توکی شته، چی که د هرپيدايښتي توکی سره په زياتون يا جمعه کی ور زيات شي همغه توکي ورکوي۰ دا توکی صفر دی: $a+0=a$

ناپيلی توکی کړی شو نالوريز وبولو ،ځکه،چې د کومې لور ګڼ باندې يې په زياتون کې بدلون نه راولی يا د زياتون ارزښت همغه پاتيږي، همداسې ناړونده او که بل څه مو په خوښه وي همغسې يې وبولی۰

## پ : د کمون ( تفريق)Subtraction بنسټيز قوانين

پيژند:د پيدايښتي ګڼونو $a$ او $b$ لپاره، چې $a>b$ وي، يواځی يو $x$ شته دی، د کوم لپاره ، چې باور لري: $a - b = x$

که $x= a -b$ شته وي، نو ټيک يواځني شته دي( موخه $x$ دی)

نومه ونې: $b$ کميدونی يا مفروق ( تراوسه مې کمونی بللی) $a$ ترې کمونی يا مفروق منه $a +b$ کمون او $x$ کمون- يا تفريق ارزښت بلل کيږي يا بولو :

موږ پورته د لاتين تورو لپاره طبيعي اعدادونخښی ليکو، چی ساده يې ونومو:

$20 – 10 = 10$

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پورته کی موږ له ۲۰ لس کم کړل، چی لاس ته راوړنه یې ۱۰ ده، نو له دی امله یې داسی نوموو:

تر مخ یادونه: په لاندې کې ع . د عربي په معنا دی

۲۰ «ترې کمونی »، ځکه، چی ترې کمیږي( ع۰ مفروق منه)، ۱۰ «کموونی« یا کمیدونی( ع۰ مفروق) دا بل لس یې «کمون ارزښت» یا د کمون لاس ته راوړنه( لنډ: لاس ته راوړنه یا کمون) (ع ۰ حاصل تفریق) ، – کموننخښه او = برابروننخښه ده۰

## ت : د ځل ( ضرب) Multiplication بنسټیز قوانین:

۱ - د دوه پیدایښتي ګڼونو a او b لپاره د پیدایښتي ګڼونو په ډیری کې تل یو ځل a.b شته دی. د a.b لپاره داسې هم لیکو ab په پورته کې a او b ځلووني ( ضریبونه) او ab=x « ځل ارزښت » یا ځل( حاصل ضرب) دی۰

وایي چی ضرب وهلو ته وایي او د جمع ( که جمعي) لنډه طریقه، چی۰۰۰۰وي یا د زیاتون لنډه لار ده۰ ګورو، چی دا پیژند، چی وهل او دربول دي زموږ لپاره دومره موخور نه دی او ځل د پښتو ښه نوم دی، چی له دربولو مو ځانونه راویستلي وي۰

که ووایو، چی : د کابل او جلالاباد ترمنځ لار ۱۵۰ کیلو متره ده۰ زمری له کابل څخه جلال اباد ته ۸ ځله لاړ، نو زمري به جلال اباد ته د تګ ټوله څومره لار وهلی وي؟

لیکو: ۱۵۰ × ۸ = ۱۲۰۰ ، نو زمري به ټوله ۱۲۰۰ کیلو متره لار وهلي وي۰ ګورو، چی د ځل نومونه د ضرب لپاره ښه او اسانه ده، ځکه چی پښتو ده او له ضریبونو څخه به هم ځلوونی اسان وي، به ۰۰۰وي نه، بلکی اسان دي۰

۲ - له a = ´a او b = ´b څخه لاس ته راځي a´b´ = ab ( یواځیتوب)

۳ - لرو ab = ba کموتاتیو – یا د بدلون قانون

(c) ketabton.com: The Digital Library



٤ - لرو $(ab)c = a(bc)$ د ګډولو- اسوشیاتیو قانون

٥ – لرو $(a+b)c = ac + bc$ د ویشونې- یا دیستریبوتیو قانون Distributive law

٦ - له $a < b$ او $c > 0$ لاسته راځي $ac < bc$

جګتیتوالي یا یوغږیزوالي قانونMonotony

ټ – د ویش بنستیز قانون Division

پیژند٣ ٠ ٢ :

که د دوه طبیعي عددونو a اوb لپاره، چې $a \neq b$ او $a \neq 0$ وي یانی صفر نه وي یو طبیعي عددx شته، چی برابرون ( مساوات) $ax = b$ پوره کړي، نو

$x = \frac{b}{a}$ یا b/a د b او a ویش (تقسیم) بلل کیږي، چی ماتګې(کسر) یې هم بولو

١ – که $a / b = x$ یا $x = \frac{a}{b} = a/b$ شته یا موجود وي ، نو یواځنی شته دی( یواځني په دې مانا، چې بل ګڼ x نه شته او یواځې همدا ګڼ x دی )

نومه ونې : په پورته برابرون کې a/b وېش x ویش ارزښت، b ویشونی یا ویشه وونی دی، ځکه چی په یوځه ویشل کیږي او a پرویشونی بلل کیږي، ځکه، چی څه پر ویشل کیږي یا مقسوم، مقسوم علیه یا قاسم ، حاصل تقسیم ۰

ګورو چی له قاسم یا مقسوم او همداسی د مقسوم علیه او حاصل تقسیم څخه مو دا د پښتو نومه ونی پر- یا پرې ویشونی ، ویشه ونی اوویش ارزښت یا لاس ته راوړنه ساده او زر پوهوړ دي، خو په خواشینی به وه وایم، چی تراوسه په شمیرپوهنه کی ورسره نابلد یو ۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



که ۱۲ کتابچې پر څلورو زده کوونکو وویشو، نو هر یوه ته درې کتابچې رسیږي۰ ګورو، چې ۱۲ په یو څه ویشلکیږي، نو ویشونی یې ښه نوم دی۰ دا ۱۲ په څلور ویشل کیږي پر ۰۰۰ ویشل کیږي، نو له دې امله څلور پر ویشونی بولو، درې یې لاس ته راوړنه ده لکه چې تراوسه مو ورته حاصل تقسیم وایه، له دې امله ورته ویش ارزښت وایو او دا کارونه یا عملیه خو ویش بلل شوی۰

## ۳ ۰ ۱ ۰ ۲ تولګنونه یا تام اعداد INTEGERs

د دووو طبیعي عددونوa او bکمون یا تفریق (x= b-a ) تیک او تیک هلته یا هلته او هلته د طبیعي عددونو ډیری یا سټ کی شته، چې وي : $a \le b$

د شمیرپوهنې نخښو باندې داسې لیکل کیږي:

$$x = b - a \Leftrightarrow a \le b$$

انګریزي یې if and only if تیک او تیک هلته یا هلته او هلته( دا شننه یا وینه پورته د شمیرپوهنې نخښې ته ده)۰

که هغې نخښې ته وګورو، نو هم لاندې ترې څرګندیږي، له ښی لور کیڼ لاس ته راځی او په څټ( برعکس) له کیڼ لور ښی لاس ته راځی۰ یا که۰۰۰ وي، نو ۰۰۰ لاس ته راځی او په څټ۰

تولګنونه یا تام اعداد هم د انسانانو د اړتیاو پر بنسټ منځ ته راغلي ، یا منځ ته راوړل شوي۰که چیرې سپین د خړ ۱۰۰ افغانیپوروړی وي او سپین ورته اتیا افغانۍ ورکړي، نو سپین بیا هم شل افغانی پوروړی پاتیږي، دا په دی ما، چی ۸۰ + ۱۰۰ - = ۲۰ - ۰ ګورو، چی ۲۰ – یو پیداینتي ګڼ یا طبیعي عدد نه دی۰یا $80 - 100 = -20$

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هغه حالت کی، چی کموونی (مفروق) له ترېکموني(مفروق منه) څخه لوي وي، نو لاس ته راوړنه يې طبيعي عدد نه دی۰ اوس يوه د اعدادو بلې ډيری پيژند ته اړ کيږو، چی هغه د ټولګڼونوډيری ده او دا د طبيعي عددونو او د طبيعي عددونو کمي( منفي) او صفر سره يوځاي کوو، چی ټولنه جوړوي( په ډيری کۀ به روښانه شي)، هغه څه، چې له دې ټولنې لاس ته راځي هغه د ټولګڼونو ډيری ده او داسې يی ليکو:

$$Z = N \cup -N \cup 0$$
$$Z = \{ \ldots -3, -2, -1, 0, 1, 2, 3 \ldots \}$$

د دې لپاره، چې ترې کمونی د کمېدونی کوچنی وي ، نو پيداينښتي ګڼونه په کمګڼونو غزوو يا پراخوو، دا په دې مانا، چی د پيداينښتي ګڼونو مخنخښه په کموننخښه يا منفي نخښه باندې سنبالوويانې ( کيدی شي زموږ هيوادوال د څټ نخښی په نامه ورسره بلدوي، خو هره نخښه، چې د ګڼ زياتی يا کمی ښايي د ګڼ کيڼ لور ته ليکل کيږي، چې دا ما مخنخښه ليکلې او بللی

هغه په برخه ۳ ۰ ۱ ۰ ۱ کې ورکړ شوي شميرقوانين په Z کې هم باور لري

د ټولګڼونوډيری

$$Z = \{ \ldots -3, -2, -1, 0, 1, 2, 3, \ldots \}$$

د مخه مو شميرقوانين، چې د پيداينښتي ګڼونو لپاره ورکړل، هغۀ د ټولګڼونو لپاره هم باور لري

د کمون يا تفريق بنسټقوانين ( پسی يا دوام):

۲ - د هرو دوو ټولګڼونو يا تام اعدادو a او b لپاره يو ټولګڼ x=b-a شته، د کوم لپاره، چیa+x=b برابرون باوري دی

د ويش تيوري:

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۳ ۰ ۱ ۰ ۲ الف د ویش قاعدې ، لارې یا خویونه

د طبیعي عددونولپاره د نورو قاعدو ترڅنګ ، چې د لومړنیو ګڼونو د ټوټه ونې یا تجز یې لپاره خورا ګټور دئ باور لري

الف ) یو ګڼ په ۲ (٤ ، ۸ ، ١٦ ) ویشونی دئ، که د اخر ځیفر یا کور ( له اخره( موخه تری ښی لور دئ) دوه ، درې ، څلور ۰۰۰ بنستیزو ځیفرونو ) څخه جوړ ګڼ په ۲ ( ٤ ، ۸ ، ١٦ ۰۰۰ویشونی وي) په دوه ویشونی ګڼ جوړه ( جفت) نومیږي او بل ډول یی ناجوړه( طاق) بلل کیږي۰ ګورو، چی دلته هم په جوړې او ناجوړه ښه پوهیدلی شو

ب ) یو ګڼ په ٥ ( ٢٥ ، ١٢٥ ، ٦٢٥ ، ۰۰ ) ویشونی دئ، که د اخر( له ښي لور) بنستیز ځیفر ( د اخر دوه، درې ، څلور ، ۰۰۰ بنستیز ځیفرونو) جوړ ګڼونه په ٥ ( ٢٥، ١٢٥ ، ٦٢٥ ۰۰۰) ویشوني وي

یادونه : په لاتین کی هغه، چی ښي لور ته وي هغه ته اخر وایې او موږ یې شاید لومړی وبولو۰ زه کوښښ کوم، چې دا پوهوړ ولیکم، خو بیا دې هم ګران لوستونکی تری ټیک ناپوهیدنه ماته وبخښي او مشوری دې راکړي۰

پ ) یو ګڼ په ۳ همداسی ۹ ویشونی دئ ، که د ګڼ پروت زیاتون پر دې ګڼونو ویشونی وي۰

د یوه ګڼ پروت زیاتون لاندې د هغه ګڼ بنستیز ه ګڼونخښو(ځیفرونو) زیاتون پوهیږو، بی له دې، چې د هغه ځاي ارزښت په پام کې ونیول شي۰

بیلګۀ : د 126 پروت زیاتون یا پرته جمعه ده: 1+2+6=9

ت) یو ګڼ په 11 ویشونی دئ که د هغه ګڼ الترنیري( نخښه بدلونکی) پروت زیاتون۰ پر 11 ویشونی وي۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



الترنيري پروت زياتون، چی پروت کمون هم ورته وايی له بنستيزو ځيفرونو ۱ ، ۳ ، ۵ زياتون څخه د ۲ ، ٤ ، ٦ ،۰۰۰ زياتون کمون پوهيږو ، بی له دې، چی ځاي ارزښت يې په پام کی ونيول شي يا په بل ډول، که د ناجوړه کور زياتون څخه د جوړه د زياتون کم کړو۰

بيلګه: ۱۷۳۸ په ۱۱ ويشوني دي، ځکه، چې : ۱۵= ۸+ ۷ او ٤ - = ۳ – ۱ -، چی الترنيري زياتون يانی ۱۱ = ٤ – ۱۵ يې په ۱۱ ويشونی دی۰

ټ ) يو ګڼ پ ه ۳۷ وېشوړ دی که ( د ګڼ له اخر څخه جړ.ړشوي) د درېګوني ګڼونو زياتون پر ۳۷ وېشونی وي.

بيلګه:

37|20216352448 ځکه چې 37|1036 ⇔(20+216+352+448)|37

ث ) يو ګڼ په ۷ همداسې په ۱۳ ويشوړ دی، که د هغه ( د ګڼ له لخ څخه جوړ) درېګونی الترنيري زياتون پر ۷ همداسې پر ۱۳ وېشونی وي.

بيلګې : 37604 | 7 ځکه چې 567 | 7 ⇔(604-37)|7

13 | 9679293889 ځکه ، چې 13|1209 ⇔ (889-293+709-96) |13

ج) يو ګڼ په ۱۰۱ وېشونی دی، که (د ګڼ له اخر څخه جړشوی) دوهګونی الترنيري زياتون په ۱۰۱ وېشونی وي.

بيلګه:

101|7930630669 ځکه چې 101|202 ⇔(79+03-63+06-69)|101

(c) ketabton.com: The Digital Library



یادونه : که پیداښتي ګڼونه a او b ولرواو ولرو a : b ، نو a پر b وېشو، که وېش

ارزښت يې هر ګڼ وي او که پېداښتي ګڼونه a او b ولرو او ولرو b|a ، نو دا په دې مانه، چې ګڼ b ګڼ a ویشي بې له پاتي یانې ګڼ a په ګڼ b وېشوړ دی.

## ۳ ۰ ۱ ۰ ۲ت) خوراغټ ګډ پرویشونی او خورا کوچنی ګډ زیاتځله

یا بزرګترین قاسم مشترک و کوچکترین مضرب مشترک(ذو الاضعافالاقل)

Great common divisor and small common multiple

ددې لپاره، چې دا په سرلیک کې ورکړ شوي څه ښه و پېژندلی شو ، داسې مخ ته ځو:

لاندې ګڼونه دي ورکړ شوي وي، سملاسي یې په لومړنیو ګڼونو توټه کوو

$$260 = 2.130=2.2.65=2.2.5.13 = 2^2.5.13$$

$$468=2.234=2.2.117=2.2.3.39=2.2.3.3.13=2^2.3^2.13$$

له پورته دواړو ګڼونو د لومړنیوګڼونو ځله وونو هر یوه څخه هغه لومړنی ګڼ رانیسو او سره ځله وو بې، چې په دواړو ګڼونو کې ګډ وي او توان( په خپل ځای کې دې وکتل شي) یا جګګڼ بې ټیټ یا کم وي . یانې

$$22.13 = 2.26 = 52$$

دا پورته لاس ته راوړی ګڼ یانې ۵۲ پورته دواړه ګڼونه وېشي یانې د دواړو ګڼونو پروېشونی

دی او خورا غټ پروېشونی هم دی. یانې ۵۲ خورا غټ او ددواړو ګډ پروېشونی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لنډ : ۵۲ د یورته ګڼونو خورا غټ ګډ پروېشونی دی.

داسې ګڼ ، خوراغټ ګډ پروېشونی، بولو ( لنډ ونه یې : غ ګ و )

هغه ګڼ، چې د دوه یا ډېرو ګڼونو ګډ پروشونی او خورا غټ هم وي، نو دې ګڼ ته خورا ,,

غټ ګډ پروېشونی ,, ( لنډونه: غ ګ و) وایو. یا

(بزرګترین عامل ( مقسوم علیه ) مشترک)Greatest commom divisor(g c d)

اوس بیا داسې مخ ته ځو:

په پورته کې هغه د دواړو ګڼونو لومړني ځله ووني، له هر څخه یو چې په جګ توان وي

یانې خورا غټ جګګڼ ولري ، هغه د جګ توان رابېلوو او بیا یې سره خله وو، چې لاس ته

ترې راځي: $2^2.3^2.5.13=2340$

دا پورته ګڼ یانې ۲۳۴۰ د دواړو ورکړ شوو ګڼونو ګډ زیاتځله دی ( یانې ګډ په دواړو

وېشل کیږي) او دا خورا کوچنی ګڼ هم دی. دا په دې مانا،چې له دې ګڼ بل کوچنی ګڼ نه

شته، چې د پورته ګڼونو دواړو ګډ زیاتځله( څو برابره ) وي.:

لنډ : خورا کوچنی ګڼ دی. د دواړوګڼونو (یانې ګډ) زیاتځله (ګډ څو واره) دی

لنډ یې : خورا کوچنی ګډ زیاتځله ( لنډونه یې: خ ګ ځ) یا
(کوچکترین مضرب مشترک یا ذوالاضعاف الاقل)Least common multiple(l.c.m.)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګران هيوادوال دې ورته پام وکړي، چې کوم نوم به زموږ لپاره زر يا بيخي پوهوړ او ساده وي.

وړپسې داسې مخ ته ځو:

دا چې موږ په پيدايښت يا طبيعي ګڼونو کې له شميرلو سره بلد شو ، نو په لاندې ډول پيژند ورکوو:

پيژند( تعريف)۳ ۰ ۳ :

a او b دې ټولګڼونه وي۰ وايو چې « ګڼ a ګڼ bويشي» ( او يا هم a د bپروېشونې دئ او يا همa د b څو برابره ( زياتځله ) دئ) که يو ټولګڼ u شته يا موجود وي او دا باوري کړيau=b ددې لپاره ليکوa|b (وايو، چې ګڼ aګڼ b ويشي ، خو اړيين يا ضرور نه ده، چې کلمه ګڼ ورسره وويل شي۰

که a د bپرويشونی نه وي، نو د دې لپاره ليکوa|/b(دا نخښه /| دې د نه ويشونی لپاره ومنل شي)

بيا ليکو، چې : پيدايښتي ګڼونه، چې په ۲ ويشل کيږي جوړه ( جفت) ګڼونه بلل کيږي او که نه نو ناجوړه ( طاق) ګڼونه بلل کيږي۰ د صفر ګڼ د پيدايښتي ګڼونو په ډيرى کې يو ځانګړی حالت لري۰

په لاندې جمله کې بې له ښوونې يا اوبيونې د دې ويشکلمی لپاره يو څو ساده شميرقاعدې را يوځاي کوو، چې په راتلونکې کې ترې کار اخستل کيږي۰

جمله ۳ ۰ ۱ :

د په خوښه يا زړه پورې ټولګڼونو a,b,c,d لپاره باوري دي:

( ۱ ) 1 $\pm$ او a$\pm$ ويش ( دا په نامه « ساده» پرويشوني دي)

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۲ ) د ۱ پروېشونی ۱ او ۱ - دي

( ۳ ) تل باور لري، چې 0 | a او a | 0 یوائی په هغه حالت کې باور لري، چې a = 0 وي

( ٤ ) له a|b او b|c <= a|c

( ٥ ) له a|b لاس ته راځي: ac|bc ۰که c |= 0 وي ، نو د دې په څېټ هم باوري

دي۰ دا په دې مانا چې، که ac|bc وي، نوa|b هم باور لري۰د ګڼونو

لیکدود له مخې، که نړیوالجال ته پورته شو داسې لیکو، که نه دا پورته بسیا

کوي: $c \neq 0, a \mid b \Rightarrow ac \mid bc$

( ٦ ) لهa|b او c|d څخه لاس ته راځي او په څېټ ac| bd لنده لیکنه یې(که نج ته پورته شوه ): $a \mid b, c \mid d \Leftrightarrow ac \mid bd$

( ۷ ) له a | b او b| a لاس ته راځي $a = \pm b$

( ۸ ) له a |b اوa|c څخه لاس ته راځي a|(bx+cy) د ټولو ټولګڼونو x او y لپار

( ۹ ) ټیک هلته a|b کله چی وي|b| | |a|،

( ۱۰ ) که a | b او b = 0 نه وي نو باوري دي - | b| < a < |b|

حل ( اوبی ) : ( ۱ ) له a1 = (-a)(-1) = a لاس ته راځي

( ۲ ) له a0 = 0 لرو a | 0 . که وي a | 0 , نو یو ټولګڼ u شته د کوم لپاره چی وي a = 0u

او له کومی چی لاس ته راځي a = 0 .

( ۳ ) ساده دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



( ۴ ) که a | b او b | c , نو تږولګنونه u او v د $au = b, bv = c$ سره موجود دی . له دې لاس ته راځي $c = bv = a(uv)$ ، پس $a | c$ .

( ۵ ) که a|b ، پس يو تږولګن u د $au = b$ سره موجود دی، او هم د $(ac)u = bc$ سره، د کوم څخه چی لاس ته راځي ac | bc . د $c \neq 0$ لپاره دا اخرڅنځیر په څټ کيدی هم شي.

( ۶ ) د a|b , c|d او ( ۵ ) څخه لاس ته راځي چی ac|bc او bc|bd ، د ( ۴ ) له مخی ac | bd .

( ۷ ) د a | b او b | a څخه د تږولګنونو u او v موجوديت لاس ته راځي د $au = b$ او $bv = a$ سره. برسيره پر دې لاس ته راځي $a(uv) = a$ , پس $a=0$ يا $u=v=\pm1$ . په لمړي حالت کی د a | b له امله $b = 0$ , پس $a = b$ . په دوم حالت کی $a = \pm b$ دی.

( ۸ ) د تږولګنونو u , v لپاره دي $au = b$ او $av = c$ ، نو له دې $a(ux+vy)=bx+cy$ لاس ته راځی، پس $a | (bx+cy)$ د تږولو تږولګنونو x او y لپاره.

( ۹ ) وي دې a|b . له a | b ، a| |a| او |b| | b څخه او د ( ۴ ) څو واره استعمال څخه لاس ته راځي، چی |b| | |a| . په څټ: که |b| | |a| باورلری، نو د |b| | |a| ، |a| | a او b| |b| څخه په ورته ډول لاس ته راځي a | b .

( ۱۰ ) دی a | b ، پس د ( ۹ ) هم |b| | |a| . که $b \neq 0$ وي ، پس يو طبعي ګڼ u لاس ته راځي د $|a|u = |b|$ سره، له کوم چی $|a| \leq |b|$ لاس ته راځي.

که b|a د تږولګنونو a,b لپاره د $b \neq 0$ سره، نو يو يواځنی معلوم ګڼ q شته ( د a او همداسی د b «کومپليمنت پرويشونی» بلل کيږي )، چی لرو $a = bq$ .

په تړلیزه توګه لاندې جمله باور لري

(c) ketabton.com: The Digital Library



جمله ۳ ۰ ۲ ( د ویش الګوریتم): a اوb دې تولګنونه وي۰ د $b \neq 0$ سره ۰ نو یواځني تاکلي، په پای پلونو(قدمونو) کی شمیرلکیدونکي تولګنونه q اوr (چې د a پرb ویش

څخه لاس ته راځي او «ویش» په همدې ډول « پاتی بلل کیږي، شته دی،د کومو لپاره چی باور لري: $a = bq + r \ \wedge \ |0| \leq r < b$

هر یو تولګن کم له کمه ساده پرویشونی لري یعنی $\pm 1$ او پخپله د دې تولګن زیاتیز( مثبت) او کمیز( منفي)۰ دې پرویشؤنو ته «سادهٔ پرویشونی» وایو۰

پیژند ۳ ۰ ب :

هر یو تولګن، چې یواځی او یواځې ساده پرویشونی ولري موږ ورته لومړنی ګنونه وایو او دا لومړنی یا پریم ګنونهPrimzahlen په pسره په نخښه کوو، چې دا پریم یا لومړی ګڼ د پیدایښتي ګنونوتوکی دی۰

هریو تولګن، چی لومړنی ګڼ نه وي د لومړنیو ګنونو په ځلونو( ځله وونو)(ضریبونو) توټه یا تجزیه کیدی شي۰

بیلګی :

1 - $240 = 24 \,.\, 10 = 3 \,.\, 8 \,.\, 2 \,.\, 5 = 2 \,.\, 2 \,.\, 2 \,.\, 2 \,.\, 3 \,.\, 5 = 2^4 \cdot 3 \,.\, 5$

2- $2310 = 2 \,.\, 1155 = 2 \,.\, 3 \,.\, 385 = 2 \,.\, 3 \,.\, 5 \,.\, 77 = 2 \,.\, 3 \,.\, 5 \,.\, 7 \,.\, 11$

$3750 = 25 \,.\, 15 \,.\, 10 = 5 \,.\, 5 \,.\, 3 \,.\, 5 \,.\, 2 \,.\, 5 = 2 \,.\, 3 \,.\, 5^4$

که پورته بیلګو ته په ځیر شو نو په ۱ او ۳ راغلو ګنونو کی ګڼ ۲ د دواړو پر ویشونی دی او همدا ډول ۳ هم د دواړوګنونو پرویشونی دی یانی $2.3 = 6$ برسیره پردې ګڼ ۵ هم نو $2.3.5 = 30$ دواړه ګنونه ویشي او شاید په دې ګنونو کی یو خورا غټ ګډ پرویشونی هم وي۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پورته درېواړو بیلګو کې ۲ ، ۳ ، ۵ د ځلوونو په ځیر خوندي دي یانې دا ګڼونه ویش، چې له دې امله ګڼ ۳۰ د درجواړو ګڼونو غ۰ګ۰پ دی

پیژند ۳ ۰ پ :

a او b دې ټولګڼونه وي او d دې یو مثبت یا زیاتونی ټولګڼ وي، د کومو لپاره، چې باور لري:

$$(1) d \mid a \wedge d \mid b$$
$$(2) t \mid a \wedge t \mid b \Rightarrow t \mid d$$

پس d د a او b خورا غټ ګډ پرویشونی(غ۰ګ۰پ) بلل کیږي d لپاره داسی لیکو:

$$d = (a,b)$$

نو d خورا غټ ګډ پرویشونی( لنډ: غ۰ګ۰پ) بلل کیږي۰

که باوري وي: $(a,b) = 1$ نو a او b پروېش پردي بلل کیږي یانې له ۱ پرته بل داسې ګڼ نه شته، چې دواړه ګڼونه پر وویشل شي.

یادونه : په زیاتو ادبیاتو کي لنډونه په درېتورو کیږي، خو که غواړی دا خورا غټ ګډ پرویشونی داسې رالنډوو : خ غ ګ پ

یادونه: ما د خورا غټ ګډ پرویشونی لپاره دا پورته درې توکي غوره کړي، که ګران لوستونکي بل وړاندیز لري، نو زه یې ضرور په پام کی په پوره خوښی نیسم۰ دې دوه کلمو ته په فارسي ادبیاتو کي بزرګترین قاسم مشترک او کوچکتریب مضرب مشترک وایي او ذوالاضعاف الاقل یې هم بولي۰

یادونه : که چیرې d او *d دواړه د a او b غ ګ پ وي، نو له پورته پیژند څخه لاس ته راځي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چی $d^* \mid d$ او $d \mid d^*$ ، نو د $d \geq 0$ , $d^*$ له امله لرو $d^* = d$

لاندې جمله به وښايي ، چې داسې غ ګ و تل شته دی

جمله ۳ ۰ ۳ :
په خوښه ټولګډونو a اوb لپاره دې غ ګ پ d شته وي، نو ټولګډونه x او y شته د کومو لپار، چې لرو: $d = ax + by$

حل( اوبې): که $a = b = 0$ وي ، نو 0 د a او b غ ګ و دی، نور ساده دی. د a او b د ممکنه بدلون ( په پام کی دې وي چی د (a , b) تعریف په a او b کی سیومتریك دی) له امله اجازه لرو چی $b \neq 0$ ونیسو.
موږ اوس رکورسیف (rekursiv) (دا په دې مانا چی د مخه غړي څخه وروستی یعني وریسی غړی لاس ته راوړلکیږي)
ټولګډونه......,$r_{-1}, r_0, r_1, r_2$ او ......... $q_1, q_2$ په لاندې ډول تعریفوو: وي دې , $r_{-1} = a$
$r_0 = b$ د $i \geq 1$ او $r_{i-1} \neq 0$ لپاره ټولګډونه $r_i$ , $q_i$ داسی تعینوو چی $r_{i-2} = q_i r_{i-1} + r_i$

---

او $o \leq r_i < |r_{i-1}|$ کوم چی له جملی ( ۱ . ۳ ) څخه ممکن کیدی شي . باید یو نه منفی ګڼ n ورکړ شوی وي، د کوم لپاره چی لرو $r_n \neq 0$ مګر $r_{n+1} = 0$ , چی بی له دې بیا یوه نه پای د طبعي ګڼونو لویدونکی یا کمیدونکی پرلپسی لاس ته راځي، کوم چی ناشونی(ناممکن) دی. دامو اوس ددې لاندې مساواتو شیما ته لاربشودوي

$$a = q_1 b + r_1$$

$$b = q_2 r_1 + r_2$$

..................

.............

$$r_{n-2} = q_n r_{n-1} + r_n$$

$$r_{n-1} = q_{n+1} r_n$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



که دا مساوات د شکته پورته وویل شي، نو په ترتیب (یو په بل پسې) لاس ته راځي:

$$r_n \mid r_{n-1} , r_n \mid r_{n-2} , \dots r_n \mid b , r_n \mid a$$

دا په دې مانا چې $r_n$ د a او b یو غ ګ و دی. t دې د a او b یو بل غ ګ و وي، نو په دې حالت کې که دا پورته مساوات له پورته شکته ولولو، نو یو په بل پسې لرو

$$t \mid r_0 , t \mid r_1 , t \mid r_2 ,\dots, t \mid r_{n-1} , t \mid r_n$$

دا په دې مانا چې $\mid r \mid$ د a او b غ ګ و دی.

هر د دې ګنونو $r_i$ د ( $-1 \le i \le n$ ) سره، په ځانګړې ډول $r_n$ او ددې سره (a , b) یو د a او b لایني کمبینیشن دی، په لاندې ډول $au + bv$ , چې u او v ټولګنونه دي.

$r_{-1} = a$ د

او $r_0 = b$ لپاره ساده دی. که د یوه i لپاره د $1 \le i \le n$ سره، که یو د a او b یو لایني کمبینشن ښوونه د $r_{i-1}$ او $r_{i-2}$ لپاره همدا سم د لاسه پیداشوي وي، نوله $r_{i-2} = q_i r_{i-1} + r_i$ څخه د یوې داسې $r_i$ د ځای په ځای کولو له لارې هم ، چې په دې ډول د ایندکشن له لارې غوښتنه لاس ته راځي. ( پای )

یادونه : د غ ګ پ د ښوونې متود ، چې پورته او په لاندې بیلګه کې راوړل شي د اویکلید الګوریتم"Euklid Algorithmus„ د یوې ګڼیزې دندې یا کارونې (عملیې) شیماتیکي اوبیونې( حل) متود په نامه یادیږي، نو له دې سرهx او y هم له a څخه

$d = ax + by$ اکسپلیځیتExplizit ( لاتین: څرګند، واضح، روښانه) شمیرل کیدی شي.

بیلګه:

غوښتنه $d = ( 2124 , 1764 )$ . د اویکلید الګوریتم کارونې له لارې لرو:

$$2124 = 1 . 1764 + 360$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$1764 = 4.360 + 323$$

$$360 = 1.324 + 36$$

$$324 = 9.36$$

$$\Rightarrow d=36$$

که پورته وګورو نو غ ک پ $d = 36$ دی

د دې لپاره ، چې d له x او y سره په $d = ax+by$ ډول انځور کړی شو، نو په لاندې توګه مخ ته ځو:

$$36 = 360 - 1.324 = 360 - 1(1764 - 4.360) = (-1).1764 + 5.360$$

$$= (-1) . 1764 + 5.(2124 - 1764) = 2124 . 5 + 1764.(-6)$$

د پورته څخه د a او b لپاره لاندې مهمه پیژند نخښه یا نخښونه لاس ته راځي

یادونه : ماته دا لاندې جملې ښه ښکارېږي، چې ګرانو لوستونکو ته یې بی له اوبیونې

وړاندې کړم، دا جملې په ختېه کې د ګنونوتیوري دنده ده، چې په ګنونتیوري کې بیا د ښوونې سره ښوول کیږي۰

جمله۳ ۰ ۹ :

a او b دې ټولګنونه وي. د a او b یو ګډ پرویشونی $t \geq 0$ هلته او هلته د a او b ګ غ پ دی کله چې دا شکل $t = ax + by$ د a او b ټولګنونو سره انځور کړاي شو۰ په ځانګړې ډول a او b هلته او هلته ویشپردي دي، که ټولګنونه x او y شته وي د کومو لپاره چې باور لر:

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$ax + by = 1$$

اوبيونه : د شرايطو ضرورت سم د لاسه له ۳ ږ ۶ څخه لاس ته راځي. دا چې شرايط پوره کيږدونکي هم دي، له دې لاس ته راځي، چې هر د او پروېشوني د پروېشوني هم دي..

څو جملې په لاندې کې روړو، ګڼونتيږي پورې اړه لر او دلته يې نه ښايو.

جمله : ۱۰ . ۳

a او b دې تولګنونه وي۰ د a او b هر ګډ پرويشونی $t \geq 0$ لپاره باور لري:

$$(a/t,b/t) = (a,b) / t$$

په ځانګړي توګه t د a او b يو ګډ پرويشونی هلته اوهلته غ ګ پ دئ چې باور ولري

$$(a/t,b/t) = 1$$

ليما۳ ۰ ۱۱( جمله ګئ)( اويکليد): په خوښه تولګنونو aاو b او c لپاره باور لري

له $a|bc$ او $(a,b) = 1$ لاس ته راځي $a|c$

تعريف۲ ت : $a_1 , a_2 , .... a_n$ دې تولګنونه وي $( n \geq 1 )$, او d دې يو نه منفي تولګڼ وي د کوم لپاره چې باور لري :

لمړی : $d \mid a_i$ د ټولو $i = 1 ,...., n$ لپاره

ب : له $t \mid a_i$ څخه د ټولو $i = 1 ,...., n$ لپاره لاس ته راځي $t \mid d$ .

نو d د $a_1,...., a_n$ غ ګ و بلل کيږي او د d لپاره هم داسې ليکو $(a_1 , .... , a_n)$.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د $a_n$ , .... , $a_1$ لپاره د داسې غ ګ و يواختتوب په ۴ . ۵ کې کتل کيدی شي او د موجوديت لپاره يې لرو :

> جمله ۴ . ۱۳ : د خوښې تولګنونو $a_n$ , ... , $a_1$ لپاره ( $n \geq 1$ ) غ ګ و موجود او $d$ د $a_n$ , ... , $a_1$ خطي (لايتي) کمبينيشن دی دا په دې مانا چې
>
> $$d = a_1x_1 + ... + a_nx_n$$
>
> د مناسبو تولګنونو $x_n$ , ... , $x_1$ لپاره .

يادونه : له دې بيا لاس ته راوړل کيدی شي:

$$( a_1 , .... , a_n ) = ((a_1 ,..., a_{n-1}), a_n)$$

د په خوښه تولګنونو $a_n$ , ... , $a_1$ د ( $n \geq 1$ ) لپاره . سړی کړی شي چې د $a_1,...,a_n$ غ ګ و پل په پل د اويکليد الګوريتموس له لارې پيدا کړي، چې دلته يې د اوبې يا حل ثخه تيريږو .

د اوبې يا حل لپاره يې د n په لور د پوره ايندکشن ثخه کار اخستل کيږي چې په ۸ –امه برخه کې څيړل شوی دی.

بيلګې:

۱ - ګنونه 240 او3750 غ ګ پ 30 = 2.3.5 لري

۲ – لرو 408 او748

$$408 = 2^3.3.17, 748 = 2^2.11.17$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



پس غ ګ پ دی: 17 . 2<2> = (408,748 ) يا دا لاندې که ن ج پورته شول

$$(408,748) = 2^2.17 = 68$$

۳ – پ غ ګ پ د ګڼونو او غ ګ پ 6 = (30.66.114 ) دی، ځکه، چې
30 = 2.3.5

او 66 = 2.3.11 او 114 = 2.3.19 دي

٤ – ګڼونه 54 او 65 ګډ پرويشونی نه لري دا موږ پرويشپردی بولو، ځکه، چې دي:

65 = 5.13 /\ 54 = 2.3.3.3

## خورا کوچنی ګډ زياتځلی(کوچکترين مضرب مشترک )

موږ په لاندې کې د خورا کوچني ګډ زياتځله ( لنډ: ک ګ ز) کليمې په ځيرنه پيل کو۰ دا کلمه و غ ګ پ يوه دوه ييزه يا دوه ګونی يا غبرګه (دوال Dual) کلمه ده، موږ په لاندې ډول سملاسي ټوليز پيژند ورکوو

تعريف ۳ . ت : $a_1 ,....., a_n$ دې ( $n \geq 2$ ) ټولګڼونه وي، او v دې يو داسی نه منفی ټولګڼ وي، د کوم لپاره چی باور لري:

الف – $a_i | v$ د $n , ... ,, i = 1$ لپاره

ب – له $a_i | w$ څخه د $i = 1 , ... , n$ لپاره لاس ته راځي $v | w$ .

نو v د $a_1 , ... , a_n$ کوچنی ګډ زياتځله( لنډ : ك ګ ځ ) بلل کيږي او داسې يې ليکو:

$$v = [a_1 , ... , a_n ]$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیژند (د دوه ګڼونو لپاره )

a او b دې تولګڼونه وي او v دې یو داسې نه کمیز یا نه منفی تولګڼ وي، د کوم لپاره، چې باور لري:

( ۱ ) $v|a$ او$v|b$

( ۲ ) له $a|w$ او $b|w$ څخه لاس ته راځی $v | w$

نو v د a او b خورا کوچنی ګډ زیاتځله ( لنډ» ک ګ ز او که غواړی خ ک ګ ز) بلل کیږي او په لاندې توګه یې لیکو

$$v = [ a,b]$$

جمله :

په خوښه تولګڼونو $a,b,c,\dots,n$ لپاره ک ګ ز شته دی او دا یواځنی دئ

$$[a,b,c,\dots,n]$$

یادونه: موږ لاندې مساوات هم د مختلفو جملو او د هغو له حلونولاس ته راوړو:
دتولګڼونو ( $n \geq 3$ ) $a_1 , \dots a_n$ لپاره لرو $[ a_1,\dots,a_n ] = [ [ a_1 ,\dots,a_{n-1} ], a_n]$
او هم $|a_1a_2| = [a_1 , a_2 ] ( a_1 , a_2 )$

لاس ته راوړنې ( داهم په همدې مانا مګر د جملی په څیر دی ): د په خوښه تولګڼونو $a , b , c$ لپاره باور لري: له $a | c , b | c$ او $(a,b) = 1$ څخه لاس ته راوړو $ab | c$

د ګڼتیوري بنسټیزه جمله:

(c) ketabton.com: The Digital Library



پيژنده :

يو ټولګڼ $n > 1$ لومړی ګڼ (prime number) بلل کيږي، که له ساده پرويشونv بل پرويشونی ونه لري٠

لومړي ګڼونه لاندې غوه خويونه لري.:

ليما (لکه کوچنی جمله): که $p$ يولمړی ګڼ وي او $p \mid a_1 \ldots a_n$ د ټولګڼونو $a_1, \ldots, a_n$ لپاره. نو $p \mid a_i$ د کم له کمه يوه $i$ د $1 \leq i \leq n$ سره.

حل ( اوبی ): حل يی د ايندوکشن له لارې صورت نيسی، چی ددې لپاره بايد ۸ - امه برخه کتل شوي وي.

د $n = 1$ لپاره ښوونه ساده ده . اوس دې $n > 1$ وي او ليما دې $n - 1$ لپاره سملاسي باور ولري. نو لرو $p \mid a_n$ ، په بل ډول بيا له $p \nmid a_n$ څخه لاس ته راځی چې $(p, a_n) = 1$ دې . له مخته تيرې جملی لاس ته راځي، چې که $p \mid a_1 \ldots a_{n-1}$ وي ، نو داسې دی $p \mid a_i$ د يو $i$ لپاره چې $1 \leq i \leq n-1$ وي د ايندکشن د نيونې په بنسټ.

د لومړنيو ګڼونو غوره والی د « ګڼونتيوري بنسټيزی جملې» څخه لاس ته راځي

جلمه ( د ګڼونتيوري بنسټيزه جمله):

هر يو پيداينتي ( طبيعي) ګڼ ،د ګڼونو تر تيب پورې، په يوائني او يوائني ( يويوائنی (له دې کلمو څخه موخه داده، چې دا په يوائی يو ډول ليکل کيدی شي او بس٠ کيدی شي د ګڼونو پروتځاي بدل وي، خو ضريبونه همغه دي)) ډول د لومړنيو ګڼونو ځل په څير ليکل کيدی شي٠

اوبی : ښوونه د $n$ په لور ايندکشن له لارې مخ ته بيايو (برخه ۸ دې ودې کتل شي ) د $n = 1$ لپاره باور لري، که. لکه معمول ، 1 د طبعي ګڼونو د تش(خالي ) ځل په څير تعريف کړو. له دې امله دې $n > 1$ وي او جمله دې د ټولو طبعي ګڼونو $< n$ لپاره ښوول

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوي وي. موږ اوس ټول د n پرویشونی $t > 1$ په نظر کي نیسو. کم له کمه یو داسی ګڼ شته لکه n . که p د دې پرویشونو کوچنی پرویشونی وي، نو p لمړی ګڼ دی. په بل ډول به نو بیا p یو پرویشونی q لرودی د $1 < q < p$ سره، او دا چی q د n پرویشونی وي، نو دا به د p تعریف رد کړي. دا چی $n / p < n$ د ایندونکشن نیوتي په بنسټ $\frac{n}{p}$ د لمړي ګڼونو د څل په څیر لیکل کیدی نو په همدې ډول پخپله n هم.

وي دې $n = p_1p_2..p_r = p'_1p'_2...p'_s$ د n دوه ډوله د لمړیوګڼونو د څل په څیرلیکنه .
له $p_1 \mid p'_1...p'_s$ اوس لاس ته راځي $p_1 \mid p'_i$ د یو i د $1 \leq i \leq s$ سره . د نمړې بدلولو له لارې دې وي $p_1 \mid p'_1$ . داچي بیا $p_1 = p'_1$ باور لري، نو لاس ته راځي $p_2...p_r = p'_2....p'_s$
، له کومو چی د ایدکشن له نیونی لرو $r - 1 = s - 1$ ، پس $r = s$ او ( او د ترتیب بدلون ) هم $p_i = p'_i$ له $2 \leq i \leq r$ لاس ته راځي .

پای.

د بنسټیزې جملی د ګټور استعمال لپاره لاندې جمله ده

جمله : هر طبعی ګڼ n په ټیك یو ډول په لاندې فورم انځوریدلی شي
$n = \prod_p p^{\nu_p}$ (د $\nu_p$ ، $\nu_p = 0$ یواځي د پای ډیرو p لپاره ).( $\nu$ نیولو ... )
چیرته چی p ټولو طبعي ګڼونو کې په جګیدونکې لړۍ پرلپسې کې څغلي.

یادونه: د عملي شمیرنې لپاره په هغو ګڼونو چې جګ یې صفر وي تیریدل کیدی شي، لکه : $n = 28 , n = 2^2.7$ د $n = 2^2 . 3^0 . 5^0 . 7$ لپاره
لاس ته راوړنې : $(a,b) = 1$ او $(a , bc) = 1$ ، نو هم $(a , bc) = 1$ ، د په خوښه ټولګڼونو a , b , c لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوبی یا حل : نیولی دي وي چې $(a, bc) > 1$ ، نو بیا به یو لمړنی ګڼ p موجود وي د p/a او p / bc سره، د لیما ۲ . ۲ له مخې به یې باور لرودی p/b یا p/c داد $(a,b)=(a,c)=1$ سره تضاد دی.

| |
|---|
| جمله : a او b دې له صفر مختلف ګڼونه وي او $\|a\| = \prod_p p^{\alpha_p}$ او $\|b\| = \prod_p p^{\beta_p}$ د دوي مطلقه ارزښتونو لمړی فاکتورتجزیه د ۲ . ۴ له مخې ، نو a \| b هلته او هلته باور لري که د ټولو لمړي ګڼونو p لپاره باور ولري $\alpha_p \le \beta_p$ |

لاس ته راوړني : وي دې a اوb له 0 مختلف ګڼونه، $|a|=\prod_p p^{\alpha_p}$ همداسې $|b|=\prod_p p^{\beta_p}$ دې د مطلقه ارزښتونو لمړني فاکتورتوټونه ( تجزیه ) وي. نو باور لري

$$(a,b) = \prod_p p^{\min(\alpha_p, \beta_p)}, \quad [a,b] = \prod_p p^{\max(\alpha_p, \beta_p)}$$

چیرته چې $\min(\alpha_p, \beta_p)$ د دواړو ګڼونو $\alpha_p$ او $\beta_p$ خوراکوچنی او $\max(\alpha_p, \beta_p)$ خورا لوي په ګوته کوي.

بیلګه : $a = 2124 = 2^2.3^2.59$ او $b = -1764 = -2^2.3^2.7^2$ نو لرو $(a,b)=2^2.3^2 = 36$ او $[a,b] = 2^2.3^2.7^2.59 = 104076$

یادونه : د لاس ته راوړني ۲ څخه سم د لاسه له دوو څخه زیاتو ټولګڼونوباندې غ ګ و او ك ګ ز هم استعمالیدی شي.

یو څو په لمړیو ګڼونو اړونده پرابلمونو دې پوښتنو ته چې ایا ناپای زیات لمړي ګڼونه موجود دي که نه٬ اویکلید لخوا ځواب ورکړ شوی. لاندې یو ښکلي ځواب دی چې له هغه رینبه نیسي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاس ته راوړني : وي دې a اوb له 0 مختلف ګڼونه $|a|=\prod_p p^{\alpha_p}$ همداسې $|b|=\prod_p p^{\beta_p}$ دې د مطلقه ارزښتونو لمړني فاکتورېزېشونه ( تجزیه ) وي. نو باور لري

$$(a,b)=\prod_p p^{\min(\alpha_p,\beta_p)}\ ,\ [a,b]=\prod_p p^{\max(\alpha_p,\beta_p)}$$

چیرته چې $\min(\alpha_p,\beta_p)$ د دواړو ګڼونو $\alpha_p$ او $\beta_p$ خوراکوچنۍ او $\max(\alpha_p,\beta_p)$ خورا لوي په ګوته کوي.

**بیلګه** : $a = 2124 = 2^2.3^2.59$ او $b = -1764 = -2^2.3^2.7^2$ نو لرو $(a,b)=2^2.3^2 = 36$ او $[a,b] = 2^2.3^2.7^2.59 = 104076$

یادونه : د لاس ته راوړنې ۲ ځخه سم د لاسه له دوو ځخه زیاتو تولګنونوباندې غ ګ و او ك ګ ز هم استعمالیدی شي.

یو ځو په لمړیو ګڼونو اړونده پرابلومونو دې پوښتنو ته چې ایا ناپای زیات لمړي ګڼونه موجود دي که نه اویکلید لخوا ځواب ورکړ شوی. لاندې یو ښکلي ځواب دی چې له هغه رینبه نیسي:

جمله: ناپاي ډیر لومړني ګڼونه شته٠

حل(اوبی) : موږ جمله ناسیده یا ناسمه ښایو ( ۸ –امه برخه دې وکتل شي ) او نیسو چې پایڅیر لمړی ګڼونه $p_1 , p_2 , p_3$ , ........,$p_r$ موجود دي. ګڼ $N = p_1p_2...p_r+1$ له 1 لوي دی او له دې امله په یوه لمړي ګڼ p ویشونکی دی. د نیونی له مخی لرو $p = p_i$ د $1 \leq i \leq r$ سره . د $P|N$ او $p \mid p_1p_2....p_r$ له امله لاس ته راځي $p \mid 1$ .کوم چې ناشونی دی ( ناممکن ) له دې امله باید ناپای زیات لمړي ګڼونه موجود وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



يادونه : د ميلاد څخه پخوا د « اريتوتنس غلبيل» متود څرګندوو، چې موږ د 1 او 100 ترمنځ د لمړي ګڼونو معلومول دي متود له لارې په لاندې توګه څرګند وو

~~1~~ 2 3 ~~4~~ 5 ~~6~~ 7 ~~8~~ ~~9~~ ~~10~~ 11 ~~12~~ 13 ~~14~~
~~15~~ ~~16~~ 17 ~~18~~ 19 ~~20~~ ~~21~~ ~~22~~ 23 ~~24~~
~~25~~ ~~26~~ ~~27~~ ~~28~~ 29 ~~30~~ 31 ~~32~~ ~~33~~ ~~34~~ ~~35~~ ~~36~~
37 ~~38~~ ~~39~~ ~~40~~ 41 ~~42~~ 43 ~~44~~ ~~45~~ ~~46~~ 47 ~~48~~ ~~49~~ ~~50~~
~~51~~ ~~52~~ 53 ~~54~~ ~~55~~ ~~56~~ 57 ~~58~~ 59 ~~60~~ 61 ~~62~~ ~~63~~ ~~64~~
~~65~~ ~~66~~ 67 ~~68~~ ~~69~~ ~~70~~ 71 ~~72~~ 73 ~~74~~ ~~75~~ ~~76~~ ~~77~~
~~78~~ 79 ~~80~~ ~~81~~ ~~82~~ 83 ~~84~~ ~~85~~ ~~86~~ ~~87~~ ~~88~~ 89 ~~90~~ ~~91~~
~~92~~ ~~93~~ ~~94~~ ~~95~~ ~~96~~ 97 ~~98~~ ~~99~~ ~~100~~

## ۳ . ۱ . ۲ - راشنل ګڼونه Rational Nnumbers

( لاتين: عاقلانه يا هوښيار اعداد يا ګڼونه)

د افغانستان په دري ادبياتو کې داسی ګڼونه او ايراشنلګڼونه کله ناطق د ګونګ اوداسې نورو ګڼونو په نامه يا ديږي، کله يې ماتګڼونه بللي، خوزه دا ښه بولم، چې دا همداسې يانې راشنلګڼونه وبلل شي، که څوک يې هوښيار ګڼونه بولی هم خوښه يې او يا مات ګڼونه ، خو دلته راڅيو Ratio nهوښيار په معنا نه بلکه د نسبي په معنا دی٠

يادونه : که / ولرو يانې که ولرو a / b نو دا په دې مانا، چېa په b ويشل کيږي٠ که ولرو≠ نود نابرابرووننخښنه ده٠ دا په دې مانا، چې b له 0 سره برابره نه ده٠ د دوه ګڼونود a او b ويش x = b / a د ټولګڼونو په ډيرۍ کې تل هلته شته دی، چې a د b ټولګنيز څو ځله وي٠

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې لپاره، چی بیا هم ویش$a$ : $b$ ( دلته هم $b$ پر$a$ ویشل کیږي) کیدونی شي» سره له دې، چی ویش تل په ټولګنونوکی پیژند نه لري یا تعریف نه دی یا صورت نه نیسي« باید د ټولګنونو ډیری ماتګنونو(کسر) ډیری‌ته پراخه شي، چی د لومړي حل لپاره افاده یا ویینه $b/a$ سومبولیک مانا لري، د نوو ګنونو په څیر نیسو او په ټولګنونو یې ور زیاتوو، نو هغهٔ ګنونه، چې لاس ته راځی موږ ورته راشنلګنونه وایو۰ دلته دا راشنل ګڼ د جوړې په څیر ورکړ شوی دی

$cb / ca$ هلته باور لري، چې $c \neq 0$ دټولګې او$a$ |$b$ د ماتګې په څیر ورکړ شوي وي

د راشنلګنونو ډیری، چې په $Q$ سره ښایو د ټولګنونو ماتګنو $b/a$ چې $a \neq 0$ او$a$ او $b$ د ټولګنونو له ډیری وي، د ټولګنونوپراخوالی دی او ټول د مخه تیر بنسټیز قوانین په کې باور لري او د ویش بنسټیز قانون ته داسې پراخیدلی شي

ټ : د ویش(تقسیم) بنسټیز قانون( دوام)

۲ - د دوه راشنل ګنونو$a$ ، $a \neq 0$ او $b$ لپاره یواځنی راشنل ګڼ $x = b/a$ شته دی، چې برابرون یا مساوات$ax = b$ پوره کوي

راشنل ګنونه هم د ورځنیو اړتیاو پر بنسټ منځ ته راغلی

بیلګه :

که شپږ منه غنم په دولسو تنو وویشو، نو د هر تن نیم من غن, راسیږي، چې دا نیم یې

راشنلګڼ دی، یاني $6 : 12 = 1 / 2 = 1 : 2$ یا $\frac{1}{2}$

دا باید په ګوته کړو، چې راشنل ګنونه د پای یا ناپای لسمیز ګڼ په څیر لیکل کیدی شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۳ ۰ ۱ ۰ ٤ - رييل ګڼونه (Real numbers (reele Zahlen

( فرانسوي: په ريښتوني شته يا موجود)

د ريښنلګڼ په بنسټ هغه ورځني تيوريکي اړتياوي چې د شميرعمليو بې بنديزه (نامحدود ) په کار اچولو يا استعمال ته موجود وي حل يا اوبې شوې او همدارنګه عملي اړتياوي چې اندازه کولو ته موجود وي هم حل شوې وي.

د ريښنلګڼ له لارې کيدی شي چې د کرښې اوږدوالی ټيك ورکړ شي يا په همدې مانا : په هرڅومره وړوکې ګڼونکرښه انتروال کې هم ناپای زيات ګڼونه، چې په ټکو يا نقطو انځور شوي، پراته دي.




د ټولو دې امکاناتو سره سره هم بيا په يوه کرښه کې هر ټکی د ريښنلګڼ په ذريعه نه شي ښودل کيدی يا په بل عبارت د کرښې هر ټکی د ريښنلګڼ په مانا نه دی . دا ګڼونه چې د «ايريښنلګڼونو»په نامه ياديږي، کيدی شي د يوه پريوديکي(periodische ) (د ګڼونو کړۍ نه شليږي ) ناپای لسيزمات له لارې وښوول شي.
د بيلګي په توګه د مربع د نيمي(قطر ) x اندازه چې د مربع يو اړخ ۱ وي نه شي کيدی چې په ريښنلګڼ وښوول شي. د پيتاګوراس د جملې په بنسټ د x لپاره لاندې مساوات لرو : $x^2 = 1^2 + 1^2$ , پس $x = \sqrt{2}$

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

د ریبلګڼ کلیمه یوه ژوره کلیمه ده چې د پوهیدلو لپاره یې «پولی» ( لیمس lim ) ته اړتیا موجود ده چې په ۱۸ –امه برخه کې به تر څېړنې لاندې ونیول شي.

ډیر اینتروالبندیدل چې په همغه یوه ټکی راځرخي مساوي(ورته ) ارزښته (Äquivalent لاتین :مساوي ارزښته) لیدل کیږي

ریبلګڼډیری R چې په ریشنلګڼډیري د ایریشنلګڼډیري ورزیاتول دي چې له ۱ . ۱ . ۱ تر ۳ . ۱ . ۳ برخې پورې ټول بستزقوانین په کې باور لري. د ریبلګڼ له لارې دکرښې ټول ټکي په بر کې نیول کیدی شي. په دې ډول ریبلګڼونه ټولی د شمیرلو او اندازه کولو اړتیاوې پوره کوي.

ګورو چې $x^2 + 1 = 0$ د ریبلګڼ حل یا اوبې نه لري. دلته د دې ګڼونو پراخوالي ته اړتیا پیښیږي چې کمپلکسګڼونو ته پراخ شي، او په ۵ –امه برخه کې به تر څېړنې لاندې ونیول شي.

یا دا لاندې په لنډه توګه:

موږ ګڼونه یا اعداد لرو، چې هغه راشنل ګڼونه نه دي یانی که موږ د ۲ ګڼ ریښه(جذر) ونیسو، نو داسی یو ګڼ لاس ته راځي، چې هغه په لسمیزه توګه پاي ته نه شي رسیدی یانی پریودیکی ( تل بیرته راګرځیدونی یا پسی نور هم پراخیدونی ) دي۰ داسی ګڼونو ته ایراشنل ګڼونه وایو۰

تل بیرته راګرځیدنیز ( periodi(cal تل بیرته راګرځیدوني ,Period د ګڼونو ځنځیر نه شلیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ایراشنل – یا نانسبي عددونه یاګڼونه Irational numbers

د راشنل او ایراشنل ګڼونوټولنی ته رییل ګڼونه وایو( دا چې ټولنه څه شی دی، په ډیری پوهنه یا سیټتیوري کې به ولوستل شي) .۰ موږ د ګڼونو د ښوولو لپاره لاندې ګڼونکرښه باسو په کومه کې چې له صفر سره پیداینتي-، ټول- راشنل-،اراشنل ګڼونه کښل شوي دي یانې ریل ګڼونکرښه




۳ ۰ ۲ - رابیلشوی( له نورو - ) د شمیر قواعد

په دې برخه کې د رییل ګڼونو لپاره رابیل شوي قوانین څیرو، چې د مخه تیرو قواعدو باندې ولاړ دي۰ دلته درانده ټکی دا لاندې دي:

- په رییلګڼونو کی څلور بنسټیز شمیرډولونه په ځانګړي توګه په لاندې ډول د نوکانو افادی (وییني ) سره شمیرنه ( نوکان اینسوول)۰ له زیاتون ګډ فاکتورونه یا ځلووني له نوکانو راوستل، د بینومیال فرمولونه۰

- پر صفر ویشنه د ناشونوالی په پام کی ساتنه

- له ماتو ( کسرونو ) سره شمیرل او په ځانګړي توګه لنډول ( واړه کول ) پراخول یا غزول او د اصلي ګډ ماتلاندي ( مخرج المشترک) جوړول۰ د داسی ماتلاندی( مخرج) چې له ټاکلو او ناټاکلو ترمونو څخه جوړ وي۰

نومونې: کسر ته مات وایو او صورت او مخرج ته موږ ماتباندې او ماتلاندې وایو، چې سملاسي یې په مانا هم پوهیږو۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۳ ۰ ۲ ۰ ۱ – جمعه او تفریق (زیاتون او کمون)

د زیاتون او کمون بنستیزو قوانینو څخه لاندې لاس ته راځي

$$- ( -a) = a \, , \; . \quad a - b = a + (-b),$$

$$( a+ b + c \ldots -c -d- \ldots ) + (e+f + \ldots -g-h- \ldots ) = a+b+ \ldots -c-d- \ldots +e+f+ \ldots -g-h- \ldots$$

دا دا مانا لري، چی که چیرې د نوکانو دباندې زیاتوننخښه ( د جمع علامه ) وي، نو د نوکانو څخه ویستلو کې ګڼ خپله مختخښه نه بدلوي۰ که د نوکانو د باندی کموننخښه (منفي نخښه ) وي، نو د ګڼونو له نوکانو ایستلو په حال کی د نوکانو دننه نخښی بدلیږي۰ یانی کموننخښه زیاتوننخښه او زیاتوننخښه کموننخښه کیږي۰ بیلګه یې لاندې ګورو

$$(a +b+ \ldots -c-d- \ldots )-(e+f+ \ldots -g-h-..)= a+b+ \ldots - c-d- \ldots ..-e-f- \ldots \ldots +g+h+ \ldots$$

په همدې ترتیب کیدی شي نوکان هم ځاي پرځای شي۰

دلته باید  مطلق ارزښت هم په ګوته شي ، چی په ګڼکرښه د صفر څخه د یوه رییلګڼ واټن په ګوته کوي،

د کوم لپاره چی لیکو :

مطلق عدد یا - ګڼ یا بي اړیکو ګڼ   (absolut number )

دا په دې مانا، چې د دې ګڼ سره زیاتیزه او کمیزه نخښه یا مثبت او منفي نه لیکل کیږي یا یون( واحد) هم ورسره نه وي، دا ټیک او ټیک یو ګڼ ښایج او بس۰

$$|a| = a \;\; ; \;\; a > 0$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



a| = 0 ; a = 0

| a| = -a ; < 0

ياني كه a زياتيزه يا مثبت وي،نوa پخپله ليكواو كه a كميزه يا منفي وي، نوa- ليكواو كه a صفر وي نو د هغه لپاره 0 ليكو

۳ ۰ ۲ ۰ ۲ ځل(ضرب)

د ځل لپاره لاندې د مخنخښى قوانين باور لري:

$$(+a)(+b) = +ab, (+a)(-b) = -ab , ( -a)(-b) = + ab, (-a)(+b) = -ab$$

كه چيرته ډير نوكبندونه راگرځيدلى وي، نو دا د ځل قانون پل په پل پر مخ ځى

بيلگه:

$$(a+b)(c-d)(e-f-g) = (ac – ad + bc –bd)(e-f-g)$$

$$= (ace-acf-acg-ade+adf+adg + bce-bcf-bcg-bde-bdf+bdg)$$

د ځانگړي حالت په توگه د بينوم پيژندل شوى فرمولونه راوړو:

$$(a+b)^2 = a^2 + 2ab + b^2$$

$$( a – b)^2 = a^2 - 2ab + b^2$$

$$( a + b)(a-b) = a^2 - b^2$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګران لوستونکی کولی شي، چې پورته فرمولونه وښايي، چې تیک دي.

دا په لاندې ډول کارولکیږي :

بیلګه ۱ . ۳ :

$$4a^2 + 12ab + 9b^2 = (2a + 3b)^2 .$$

$$a^2x^2 - 2abxy + b^2y^2 = (ax - by)^2 = (by - ax)^2.$$

$$16u^2 - 2v^2 = (4u + 2v)(4u - 2v)$$

۳ . ۲ . ۳ ویش

په پام دې کې ولرو، چې b:a د $a = 0$ لپاره کوم مفهوم نه لري. پر صفر ویش ناشونی دی.

په ویش کی نوکبندول د زیاتون، کمون او ځل په څیر ساده نه کیږي. په ویش کی د زیاتون په ډول لیکل شوی هر توکی په ماتلاندې ویشل کیږي:

بیلګه ۳ . ٤ :

$$(3a^2b - 6ab^2 + 12\,abc) : 3ab = a - 2b + 4c$$

یا داسې

$$\frac{3a^2b}{3ab} - \frac{6ab^2}{3ab} + \frac{12abc}{3ab} = a - 2b + 4c$$

د $ab \neq 0$ لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې لاس ته راوړنې(نتيجې) ته سرې د ګډو ځلوونو يا فاکتورونو يا خپلواکنوک څخه وتلو له لارې هم رسيدلی شي:

$$3a^2b - 6ab^2 + 12\,abc = 3ab(a - 2b + 4c)$$

له دې ځايه کيدی شي، چې د بولينوم وېش بيل شي

بيلګه ۳ . ۵ :

$$(3a^2b - 6ab^2 + 5c) : 3ab = a - 2b \ \text{Rest} \ 5c \ \text{باقي} \Leftrightarrow$$

$$\frac{3a^2b}{3ab} - \frac{6ab^2}{3ab} + \frac{5c}{3ab} = a - 2b + \frac{5c}{3ab} \quad \text{لپاره} \ ab \neq 0,$$

د يوه زياتو يا چمعې وېش په يوه چمعه، کيدی شي د بينوم جکلې له لارې صورت ونيسي

بيلګه ۳ . ۶ :

$$(a^2 + 2ab + b^2) : (a + b) = a + b \quad \frac{(a+b)^2}{a+b} = a + b \quad \text{لپاره} \ a \neq -b.$$

بيلګه ۳ . ۷ :

$$(a^2 - b^2) : (a + b) = a - b \Leftrightarrow \frac{a^2 - b^2}{a+b} = a - b \quad \text{لپاره} \ a \neq -b.$$

بيلګه ۳ . ۸ :

$$\frac{(ax - by)^2}{by - ax} = \frac{(by - ax)^2}{by - ax} = by - ax \quad \text{لپاره} \ ax \neq by,$$

دلته هم وېش د پاتې يا باقي سره شونی دی.

بيلګه ۳ . ۹ : $a^2 - 2ab + b^2) : (a - b) = [(a - b)^2 + b^2] : (a - b) = a - b$ :

باقي يا پاتې $b^2$

له دې لاس ته راځی او په څټ

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$\frac{(a-b)^2+b^2}{a-b}=\frac{(a-b)^2}{a-b}+\frac{b^2}{a-b}=a-b+\frac{b^2}{a-b} \quad a\neq b,$$

**بیلګه ۱ . ۱۰**

$(16u^2-v^2):(4u+\sqrt{2}v)=4u-\sqrt{2}v$ Rest $v^2$ باقي $\Leftrightarrow$

$$\frac{16u^2-v^2}{4u+\sqrt{2}v}=\frac{16u^2-2v^2+v^2}{4u+\sqrt{2}v}=\frac{16u^2-2v^2}{4u+\sqrt{2}v}+\frac{v^2}{4u+\sqrt{2}v}$$

$$=4u-\sqrt{2}v+\frac{v^2}{4u+\sqrt{2}v}$$

د $4u \neq -\sqrt{2}v$ لپاره

فورمال ور د دوه پولینومونو ویش دی ( برخه ۱۲ دي انډول(پرتله) شي ):

$$\frac{P_n(x)}{Q_m(x)}=\frac{a_nx^n+a_{n-1}x^{n-1}+\ldots+a_1x^1+a_0}{b_mx^m+b_{m-1}x^{m-1}+\ldots+b_1x^1+b_0}=P_n(x):Q_m(x),$$

که د ماتباندي پولینوم درجه د ماتلاندي پولینوم درجې لوي یا مساوي وي( $n\geq m$ ).

موږ نیسوچی: $a_n\neq 0, b_m\neq 0$ او $Q_m(x)\neq 0$ .

د دواړو ویشو« ټوټه ویشو» ( پارځیالویش( Partialdivision ) ) دا دي چي دا

د $P_n(x):Q_n(x)$ ویش په لاندي ډول ولیکلی شو:

$$\frac{P_n(x)}{Q_m(x)}=\text{Polynom 1}+\frac{\text{Polynom 2}}{Q_m(x)},$$

چیرته چي د پولینوم 2 درجه له $Q_m(x)$ درجي څخه کوچنی ده.

دي هدف ته په لاندي ډول رسیږو

۱ – سرې یواځې د جګ نظم غړي $a_nx^n : b_mx^m$ ویشي او له دي سره یوه

غلطي $F(x)$ کوي:

$$Q_{n(x)}:Q_m(x)=\frac{a_n}{b_m}x^{n-m}+F(x) \qquad *$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲ – سړی (*) په ماتلاندې پولینوم $Q_m(x)$ ویشي

$$P_n(x) = (a_n / b_m)\, x^{n-m} Q_m(x) + F(x)$$

او له دې غلطی $F(x)$ ، په لاندې فورم یا ډول لاس ته راخي

$$F(x) = P_r(x) / Q_m(x)$$

د $P_r(x) = P_n(x) - (a_n / b_m)\, x^{n-m}\, Q_m(x)$ سره

چیرته چی د پولینوم $P_r(x) = c_r x^r + c_{r-1} x^{r-1} + .. + c_0$ درجه r د پیل پولینوم $P_n(x)$ له درجی n څخه کم له کمه په یوکوچنی وي . د ګنونو شمیر په

تکیه ویلی شو، چی $P_r(x)$ پاتی پولینوم یا په ساده ډول پاتی (باقي) دی.

۳ – که لا تراوسه د $Q_m(x)$ درجه r له m کوچني وي نو د ټکو ۱ – او ۲ – ټوټه ویش په $P_r(x) : Q_m(x)$ استعمالیږي، د لاندنی نتیجی سره

$$P_r(x) : Q_m(x) = (c_r / b_m)\, x^{r-m} + P_t(x)/Q_r(x)$$

چیرته چي د $P_t(x)$ درجه t کم له کمه په یو له $P_r(x)$ درجي کوچنی وي.

د ټوټه ویش دا عملیه اخر ته رسیږي، که (د پای ډیرو پلونو (قدمونو) اخستلو وروسته د ماتباندې غلطی پولینوم درجه له m څخه کوچنی وي.

بیلګه ۲ . ۱۱ . لمړی دې د ټوټه ویش ۱ او۲ پلونه (قدمونه، کدمونه) په پراخ ډول د لاندې ویش په بیلګه توضیح شي

$$P_n(x) : Q_m(x) = P_3(X):Q_1(x) = (6x^3+5x^2-3x+1):(3x-2)$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| | $P_3(x)$ : $Q_1(x) = (a_3 / b_1)x^2 + F(x)$ |
| $(a_3 / b_1)x^2Q_1(x) = 2x^2 (3x-2) =$ | $(6x^3 + 5x^2-3x+1) : (3x-2) = 2x^2 + F(x)$<br>$6x^3 - 4x^2$ |
| $P_2(x) = P_3(x) -(a_3 / b_1) x^2Q(x) =$ | $9x^2 -3x +1$ |
| $F(x) = P_2(x) : Q_1(x) =$ | $(9x^2 - 3x +1) : (3x - 2)$ |

بیلگه ۱۳ . ۱۲ : د تیرته ویش بیلگه ۱ . ۱۱د F ( x ) غلطی ته دوام ورکوو، ترڅو چی د لیکنی شکل لنډ شي:

$$F(x) = P_2(x):Q_1(x) = (9x^2-3x+1):(3x-2) = 3x+G(x)$$

$$x_k = x_0 + 2k\pi = x_0 + k.360°; k = ....-3,-2,-1,0,1,2,3,....;..................(13,32)$$

$$\bar{x} = \pi - x_0 + 2k\pi = 180° - x_0 + k.360°;..................................................(13,33)$$

او د cos x = a ټول حلونه په لاندې ډول لاس ته راځی

$$x_k = x_0 + 2k\pi = x_0 + k.360°; k = ....-3,-2,-1,0,1,2,3,....;..................(13,34)$$

$$\bar{x} = -x_0 + 2k\pi = -x_0 + k.360°;............................................................(13,35)$$

بیلګه ۱۳ . ۱۶: د مساوات sin x = 0,23910 لپاره د جبشمیرني سره لاندې حلونه لاس ته راځي: ( په درجه کچ یا ګراد اندازه) x0 =13,833427°

(په لینده کچ)0,24143 = 0,017453. 3,833427

د ) ۱۳ . ۳۲ ( ، ) ۱۳ ، ۳۳ ( له امله په لاندې سره ټولې اوبیونې راکړ شوي دي

$$x_k = 13,833427 + k.360° = 0,24143 + k.6,28318,$$

$$\bar{x}_k = 166,16657° + k.360 = 2,9001 + k.6,28318.$$

بیلګه ۱۳ . ۱۷ : د برابرون cos x = -0,682000 اوبیونه د جبشمیروني سره مومو

x0 = 133,00013° = 133° = 2,32125.

د ( ۱۳ ، ۳۴ ) او ( ۱۳ . ۳۵ ) له مخی ټول حلونه په لاندې ډول لاس ته راځي

$$x_k = 133° + k.360° = 2,32125 + k.6,28318,$$

$$\bar{x}_k = -133° + k.360° = -2,34125 + k.6,28318$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

بیلګه ۱۳ . ۱۸:

د برابرون $\tan x = -\sqrt{3} = 4{,}843000$ حل په جبشمیرنې پیداکوو

$x_0 = -59{,}999988° = -60° = -1{,}04718$

له دې امله د ) ۱۳ . ۳۱ ( له مخې ټول حلونه په لاندې ډول لاس ته راځي

$x_k = -60° + k.180° = -1{,}04718° + k.3{,}14159$

بیلګه۱۳ . ۱۹:

د برابرون $\cot x = 4{,}843000$ ټولې اوبیونې یا حلونه د جبشمیرنې سره داسی

$x_0 = 11{,}666677° = 11{,}67° = 0{,}203675$

لاس ته راځي. په دې توګه د ( ۱۳ . ۳ ) له مخې ټول حلونه په لاندې ډول لرو:

$x_k = 11{,}67° + k.180° = 0{,}203675 + k.3{,}14159$

بیلګه ۱۳ . ۲۰ : مساوات $\sin x = \sqrt{2}$ د $1 < 2$ له امله اوبیونه ل نه لري .

د ګونومتري مساواتو نور تیپونه یا ډولونه، کوم چې تراوسه په څرګندومتودو یا لارو ځوابوړ دي، لاندې بڼه لري

$$\sin f(x) = a , \quad \cos f(x) = a \qquad (13 . 36)$$

$$\tan f(x) = a \quad , \cot f(x) = a \qquad (13 . 37)$$

دلته کیدی شي چی $f(x)$ الجبري او یا ترانسځیندنته افاده ويکه بدل (سوبستیتوتي) شي

$$y = f(x) \qquad (13.38)$$

نو لاندې مساواتونه لاس ته راځي

$$\sin y = a , \cos y = a \qquad (13 . 39)$$

$$\tan y = a , \cot y = a \qquad (13 . 40)$$

دا کیدی شي د جملی ۱۳ . ۱ سره سم اوبی کړای شي. ددې اوبیونې یا حلونه دې $y3, y2, ,y1 , ...$ وي .

د ( ۱۳ ، ۳۷ ) سره سم د $f(x) = yi , \; i = 1,2,3,...$ ټولې اوبیونې یا حلونه لاس ته راځي ددې لپاره دې بیلګه ورکړ شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

بیلګه ۱۳ . ۲۱: $\sin(x-120°)/3=1/2$

د سبستیچیوشن یا بدلون $y=(x-120°)/3$ سره لاس ته راځي $\sin y=1/2$ د لاندې اوبیوني (حل) سره

$$y_k = 30° + k.360° , k = ...,-3,-2,-1, 0,1,2,3...$$

$$\overline{y}_k = 150° + k.360°$$

ټول د $(x - 120°)3 = y_k$ , $(x - 120°)/3 = y_k$ اوبښوني (حلونهو په توګه لاس ته راځي:

$$x_k = 3y_k + 120 = 90° + 3k.360° + 120° = 210° + 3k.360°$$

$$\overline{x}_k = 3y_k + 120° = 450° + 3k . 360° + 120° = 570° + 3k.360°$$

د ګونومتري فنکشنونو یو بل تیپ یا ډول ، له لاندې څخه لاس ته راځي

$$f(\sin x,\cos x,\tan x,\cot x,\sin 2x,\cos 2x,\tan 2x,\cot 2x, \sin 3x,\cos 3x,\tan 3x,\cot 3x, ....) \qquad (13 . 42)$$

دلته که د بیلګي په توګه بدل شي

$$y = \sin x \qquad (13 . 43)$$

د ۴ . ۵ برخې تریګونومتري فرمولونو په مرسته ټول په (۴۲ ، ۱۳ ) رامنځ ته شوي کونجفنکشنونه په y سره افاده کولی شو:

$$\cos x = \pm\sqrt{1-\sin^2 x} = \pm\sqrt{1-y^2},$$

$$\tan x = \frac{\sin x}{\cos x} = \frac{y}{\pm\sqrt{1-y^2}}, \qquad \cot x = \frac{1}{\tan x} = \frac{\pm\sqrt{1-y^2}}{y}, \qquad (13.44)$$

$$\sin 2x = 2\sin x \cos x = \pm 2y\sqrt{1-y^2}, \quad \cos 2x = \cos^2 x - \sin^2 x = 1 - 2y^2$$ ( usw. لراى نور

له دې سره برابرون ( ۴۲ . ۱۳ )، په y ، یو برابرون بدلیږي:

$$F(y) = 0 \qquad (13 , 45)$$

دا دې په همغه ډول حلیدونکي وي او حلونه دې y1 , y2 .y3.... وي. نو بیاد(۱۳.۴۳ )سره مناسب لرو

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

$$\sin x = y_i, i=1,2,3... \quad (13.46)$$

اوبی کړي او د ټولو اوبیونو سره، کوم چی په ( ۴۲ . ۱۳ ) کي ښول شي ، وازمایل شي، چی ایا دا هم پوره کوي، که نه په ( ۴۲ . ۱۳ ) کیدی د x په ځاي یوه افاده g(x) هم ولیکلی شي.

$$f(\sin g(x), \cos g(x), ....) = 0 \quad (13.47)$$

نو بیا سړی بدلوي

$$y = \sin g(x) \quad (13.48)$$

د پورته متود تشریح لپاره په لاندې ډول دوه ساده بیلګي ورکول کیږي

بیلګه ۱۳ . ۲۲:

برابرون

$$\sin x + \cos x = 1 \quad (13.49)$$

د ( ۴۲ . ۱۳ ) ، (۴۴ . ۱۳ ) سره ځان په رینه ببرابرون بدلوي

$$y \pm \sqrt{1-y^2} = 1 \Leftrightarrow \pm \sqrt{1-y^2} = 1-y \Leftrightarrow 1-y^2 = 1 + y^2 - 2y \quad (13.50)$$

$$\Leftrightarrow 0 = 2y^2 - 2y = 2y(y-1)$$

$$y_1 = 0, y_2 = 1 \quad (13.51)$$

اوس دې په یاد شي ، چی د y2=1 لپاره برابرون ( ۵۰ . ۱۳ ) او له دې سره سم برابرون ( ۴۹ . ۱۳ ) تل پوره دي. د دې په څېږ یا خلاف y1 فقط د ( ۵۰. ۱۳ ) حل دی ، که د

رینې له مخه زیاتیز یا مثبت نخښه وي. دا حالت یوائې هلته مخ ته پروت دی، چی cos x>0وي.

دا هلته هم پام ته راځي، که د برابرون ( ۵۱ . ۱۳ ) سره برابرون ( ۴۶ . ۱۳)حل یا اوبی شي او

حل یا اوبونه یی په ( ۴۹ . ۱۳ ) کی کیښول شي:

$$\sin x = y_1 = 0, x_k = k\pi; \quad k=...-3,-2,-1,0,1,2,3... \quad (13.52)$$

$$\sin x = y_2 = 1, x_k = \pi/2 + 2k; \quad k = ..,-3,-2,-1,0,1,2,3,... \quad (13.53)$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

که ( ۱۳ . ۵۲ ) په ( ۱۳ . ۴۹ ) کېښوول شي، نو لاس ته راځي:

د جوړه k لپاره $\sin x_k + \cos x_k = \sin k\pi + \cos k\pi = 0 + 1$

د جوړه k لپاره $\sin x_k + \cos x_k = \sin k\pi + \cos k\pi = 0 - 1$

د پیلمساوات د زیاتځله حلونه یواځي جفت ګڼونه دي( $x\pi = 2k\pi$ ) که( ۱۳ . ۵۳ ) په ( ۱۳ . ۴۹ ) کېښوول شي، نو لاس ته راځي

$$\sin x_k + \cos x_k = \sin(\pi/2 + 2k) + \cos(\pi/2 + 2k) = \sin\pi/2 + \cos\pi/2 = 1 + 0 = 1$$

له دې وروسته ټول xk پیلبرابرون پوره کوي .

نو د ( ۱۳ . ۴۹ ) ټولې اوبیونې په لاندې بڼه لاس ته راځي

$$x_k = 2k\ ,\ x_k = \pi/2 + 2k\ ;\ k = ..-3,-2,-1,o,1,2,3,...\quad (13\ .\ 54)$$

بیلګه ۱۳ . ۲۳ : د برابرون $\cos x + \cos 2x = 0$ (13.55)

سره کیدی شي د ریښی مساوات ځخه لار واړوو یت تیرشو. که چیرته $y = \cos x$ بدل کړي. د

$$\cos 2x = \cos^2 x - \sin^2 x = y^2 - (1 - y^2) = 2y^2 - 1 \quad (13.57)$$

له امله له څخه (۱۳,۵۵) مربع مساوات لاس ته راوړو.

$$2y^2 + y - 1 = 0 \quad (13.58)$$

د دې حل سره : $y_{1;2} = -\frac{1}{4} \pm \sqrt{\frac{1}{16} + \frac{8}{16}} = -\frac{1}{4} \pm \frac{3}{4}$,

$$y_1 = \frac{1}{2}\ ,\quad y_2 = -1. \quad (13.59)$$

په (۱۳ . ۵۶ ) کې ایښوولو له لارې لاس ته راځي

$$\cos x = y_1 = \frac{1}{2}\ ,\quad x_k = 60° + k \cdot 360° = \frac{\pi}{3} + 2k\pi,$$

$$\bar{x}_k = 300° + k \cdot 360° = \frac{5\pi}{3} + 2k\pi, \quad (13.60)$$

$$\cos x = y_2 = -1,\quad \bar{\bar{x}}_k = 180° + k \cdot 360° = \pi + 2k\pi, \quad (13.61)$$

$$x = \begin{Bmatrix} 60° \\ 180° \\ 300° \end{Bmatrix} + k \cdot 360° = \begin{Bmatrix} \frac{\pi}{3} \\ \pi \\ \frac{5\pi}{3} \end{Bmatrix} + 2k\pi. \quad (13.62)$$

## تمرینونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

ټول ارزښتونه x وشمیری، چې لاندې برابرونونه پوره کوي! پام دې وي، چې د هرې پ،ښتنې سره یې ازمایل یا ازماېښت اړیندی.

۱ - لوګاریتمي مساوات یا برابرونونه

1.1. a) $\log_4 (x + 1) = -3$ b) $4 - 3\lg 2x = 10$
c) $\lg \sqrt{2x} = 1{,}314$ d) $\ln (x - 1)^2 = 2$

1.2. a) $\lg (2x + 5) - \lg (3x + 1) = 2$ b) $\lg 4x + \lg 2x + \lg x = 6$
c) $\frac{1}{3}\ln x^6 = \frac{1}{2}\ln 81$ d) $\lg (x - 1)^2 = 6 \lg 2$

1.3. a) $\lg (x - 1) + \lg 3 = \lg (x^2 - 1)$
b) $\lg (x + 1)^2 = \lg 2 + \lg (x + 1) + \lg (x - 1)$
c) $\lg x - \lg 4 = \lg 35 - \lg (x + 4)$
d) $\lg (x - 2) - \frac{1}{2} \lg 4 = \frac{1}{3} \lg 125 - \lg (x + 1)$

1.4. a) $\lg x + \lg (x + 1) + \lg (x - 1) = \lg 24$
b) $\lg 3 + 2 \lg x = \lg (4 + x^3)$ c) $\lg (152 + x^3) - 3 \lg (x + 2) = 0$
d) $2 \lg^2 x^3 - 3\lg x - 1 = 0$

1.5. a) $\lg x + \lg (a - \frac{1}{a}) = \lg (1 - \frac{1}{a}) + \lg (1 + \frac{1}{a})$
b) $\lg (ax) - \lg a + \lg \frac{b}{a} = \lg b + \lg \frac{x}{a}$
c) $\lg x - \lg \frac{x}{abx - 1} = \lg (a - 1) + \lg (a + 1)$
d) $\log_a (2x + 1) = \log_a (x - 1) + 1$

1.6. a) $\frac{10}{\lg x - 2} - \frac{5}{\lg x + 1} = 4$ b) $\frac{1}{\lg x + 1} - \frac{3}{\lg x - 3} = 2$
c) $\frac{2}{\log_2 x + 1} - \frac{1}{\log_2 x - 5} = 1$ d) $\frac{1}{5 - \lg x} + \frac{2}{1 + \lg x} = 1$

1.7. a) $\lg (x^2 + 1) = 2 \lg^{-1} (x^2 + 1) - 1$ b) $(\log_5 x - 2) \log_5 x = 25^{\log_5 \sqrt{3}}$
c) $\lg^2 x^3 - 10 \lg x + 1 = 0$ d) $\sqrt{\lg(1 - x)} + 5 \lg (1 - x) = 6$

1.8. a) $2\lg \lg x = \lg (3 - 2 \lg x)$ b) $\log_2 (x - 14) = 1 + \frac{1}{2} \log_2 (3x - 26)$
c) $4 \log_3^3 5x - 7 \log_3 15 x + 7 = 0$ d) $3 \lg^2 x^2 - \lg x - 1 = 0$

(c) ketabton.com: The Digital Library



1.9. a) $x^{\lg x+2} = 1000$ b) $x = 10^{1-0,25\lg x}$

c) $x^{\log_5(5x)-4} = 625$ d) $x^{\log_a x} = a^2 x$

1.10. a) $x \lg \sqrt[5]{5^{2x-8}} - \lg 25 = 0$ b) $\log_2(4\cdot 3^x - 6) - \log_2(9^x - 6) = 1$

c) $\log_2(9 - 2^x) = 10^{\lg(3-x)}$ d) $x(\lg 5 - 1) = \lg(2^x + 1) - \lg 6$

1.11. a) $\log_2[2 + \log_3(x+3)] = 0$ b) $\log_5[\log_2(\log_4 x)] = 0$

c) $2\log_x 27 - 3\log_{27} x = 1$ d) $\dfrac{\lg x}{\lg(x+1)} = -1$

## ۲ ـ اکسپوننشل مساوات

2.1. a) $(a^{x-2})^{x+2} = (a^{x+3})^{x-4}$ b) $a(a^{x-3})^{x+2} = a^{3x+5}(a^x)^{x-6}$

c) $\sqrt[3]{a^{2x+9}} = \sqrt[4]{a^{3x+5}}$ d) $\sqrt[x-2]{a^{11-x}} = \sqrt[9-x]{a^{x+3}}$

2.2. a) $10^{5x} = 3^{10}$ b) $0,375^x = 2576$

c) $\sqrt[x]{6,325} = 1500$ d) $\sqrt[x]{10,27} = \sqrt[4]{5}$

2.3. a) $\left(\frac{3}{4}\right)^{2x-3} = \left(\frac{4}{3}\right)^{3x+5}$ b) $\left(\frac{6}{7}\right)^{3x+10} = \left(\frac{7}{6}\right)^{2x-3}$

c) $\left(\frac{3}{5}\right)^{2x+1} = \left(\frac{5}{8}\right)^{3x+4}$ d) $16\cdot\left(\frac{1}{2}\right)^{3x-1} = 27\cdot\left(\frac{2}{3}\right)^{x+1}$

2.4. a) $\left(\frac{1}{100}\right)^{\frac{1}{x}} = 24,24^{\frac{1}{10}}$ b) $\sqrt[2x]{3^{3x+2}} = \sqrt[3x]{2^{2x+3}}$

c) $3^{(2^x)} = 2^{(3^x)}$ d) $8^{(5^x)} = 4^{(7^x)}$

2.5. a) $4^{x^2-x+1} = 8^x$ b) $3^{9x+1} = 9^{3x-1}$

c) $\sqrt{9^{x(x-1)-0,5}} = \sqrt[4]{3}$ d) $\sqrt[3]{\sqrt[x-1]{3^{10x+5}}} = \sqrt[3x-9]{27^{3x-7}}$

e) $2^{x^2-6x-2,5} = 16\sqrt{2}$ f) $2^{x^2-7,7x+16,5} = 8\sqrt{2}$

g) $5^{(x^2+x-2)(3-x)} = 1$ h) $4^{\sqrt{x+1}} = 64\cdot 2^{\sqrt{x+1}}$

(c) ketabton.com: The Digital Library



2.6. a) $7^{2x+1}-3^{x-1}=7^{2x+3}-3^{x+1}$ b) $2^{x+1}-3^{x}=2^{x+3}-3^{x+2}$

c) $3^{2x-1}-5^{3x-2}=3^{2x+1}-5^{3x+2}$ d) $5^{2x}-3\cdot 5^{x}+2=0$

e) $5^{4\sqrt{x}}-6\cdot 5^{2\sqrt{x}}+5=0$ f) $2^{\frac{3}{\sqrt{x}}}-2^{\frac{2}{\sqrt{x}}+1}+2^{\frac{1}{\sqrt{x}}}-2=0$

g) $3^{x+1}-2=9^{x}$

h) $3^{x+1}+3^{x-1}+3^{x-2}=5^{x}+5^{x-1}+5^{x-2}$

i) $2\cdot 3^{x+3}+7\cdot 3^{x-2}=493$ j) $3^{\sqrt{x}}-3^{1-\sqrt{x}}=\frac{26}{3}$

k) $33\cdot 2^{x-1}-4^{x+1}=2$ l) $3^{x}+3^{x+1}+3^{x+2}=5^{x}$

2.7. a) $5^{x-3}+2\cdot 5^{x-2}=5{,}08$ b) $5^{\sqrt{x}}-5^{3-\sqrt{x}}=20$

c) $9^{\sqrt{x^2+3x}}+0{,}5+9=28\cdot 3^{\sqrt{x^2+3x}}$ d) $2^{-2x}-17\cdot 2^{-(x+2)}+1=0$

e) $2^{x^2}+2^{1-x^2}=\frac{9}{2}$ f) $12\sqrt[2x]{3}-\sqrt[x]{3}=27$

g) $4^{\sqrt{3x^2-2x}+1}+2=9\cdot 2^{\sqrt{3x^2-2x}}$ h) $\sqrt{3^{x-56}}-7\cdot\sqrt{3^{x-60}}=162$

i) $9^{x^2-1}-36\cdot 3^{x^2-3}+3=0$

2.8. a) $\frac{3^{x}+3^{-x}}{3^{x+1}-1}=\frac{5}{12}$ b) $\frac{2^{x}+1}{2^{x}-4^{x}}=6$

c) $4+\frac{2}{3^{x}-1}=\frac{5}{3^{x-1}}$ d) $\frac{2^{x}+10}{4}=\frac{9}{2^{x-2}}$

e) $x^{x}=x$

## ۳ ـ ګونومتریکي ـ یا کونجکچیز مساوات

3.1. a) $\tan x=\frac{1}{2}$ b) $\sin x=\frac{1}{2}\sqrt{2}$ c) $\cot x=\frac{2}{5}$ d) $\tan x=-1$

3.2. a) $\sin(2x-\frac{\pi}{2})=0{,}309$ b) $\cos(2x-\frac{\pi}{3})=0{,}342$

c) $\sin(\frac{x}{2}+\frac{\pi}{10})=0{,}809$ d) $\cos(x+\frac{\pi}{3})=0{,}471$

(c) ketabton.com: The Digital Library



3.3. a) $5\sin^2 x - 10\cos^2 x - 1 = 0$ b) $\cos^2 x + \frac{1}{3}\sin x\cos x + \frac{2}{3}\sin^2 x = 1$

c) $\cos^2 x + 2\cos x - \sin^2 x + 1 = 0$ d) $2\cos^2 x + \sin x - 1 = 0$

e) $\sin^2 x + 5\sin x\cos x + 8\cos^2 x = 0$ f) $\sin^2 x - \cos^2 x - 3\sin x + 2 = 0$

g) $\sin^2 x - 2\cos x + 2 = 0$ h) $\sqrt{1+\cos x} = \sin x$

i) $\sqrt{1+\sin x} + \cos x = 0$ j) $\sin^4 x = 2\cos^2 x - 1$

k) $\sqrt{\cos x} + \sqrt[4]{2}\,\sin x = 0$ l) $1 - \cos x = \sin x$

3.4. a) $\sin 2x = \sqrt{3}\sin x$ b) $\cos 2x = \cos x$

c) $\sin 2x \cdot \tan x = 1$ d) $\cos 2x + 3\cos x = 1$

e) $\cos\frac{x}{2} - \cos x = 1$ f) $2\sin\frac{x}{2} - \cos x + 1 = 0$

g) $\cos x + \cos 2x = \sin x + \sin 2x$

h) $2\sin x\cos 2x - 1 + 2\cos 2x - \sin x = 0$

i) $3(1 - \sin x) = 1 + \cos 2x$ j) $\sin 2x + 2\cot x = 0$

k) $3\cos 2x - 20\sin x = 9$ l) $\cos 2x + 2\cos x + 1 = 0$

3.5. a) $2\sin^2\frac{x}{2} + \cos 2x = 0$ b) $2\cos^2\frac{x}{2} + \cos 2x = 1$

c) $\tan x - \sin x = 2\sin^2\frac{x}{2}$ d) $\sin^2 x - \cos^2 x = \cos\frac{x}{2}$

e) $2\sin^2 x + \sin^2 2x = 2$ f) $3 - 2\sin^2 2x = 2\sin^2 x$

g) $5\cos 2x + 16\sin x + 14\sin^2 x + 7 = 0$

h) $3\cos 2x - 6\cos x + 4\sin^2 x = -3$

i) $2\cos x + 3 = 4\cos\frac{x}{2}$ j) $2\sin^2 x + \sin^2 2x = 0$

k) $\tan x + \tan 2x - \tan 3x = 0$

3.6. a) $\cos x\cos 2x = \cos 3x$ b) $\sin 5x\cos 3x = \frac{1}{2}\sin 8x - 0{,}5$

c) $\sin^2 x + \cos^2 2x = \sin^2 3x + \cos^2 4x$ d) $(\cos 8x)^2 \cdot 2 + \sin 16x = 1$

e) $2\cos^2 4x + \sin 10x = 1$ f) $2 - 6\sin x\cos x = \cos 4x$

g) $\cos 4x + 2\cos^2 x = 1$ h) $\sin x\cos 5x = \sin 9x\cos 3x$

(c) ketabton.com: The Digital Library



i) $\sin\frac{7x}{2}\cos\frac{3x}{2} = \sin\frac{9x}{2}\cos\frac{x}{2}$
j) $\cos\frac{7x}{2}\cos\frac{x}{2} = \cos\frac{9x}{2}\cos\frac{3x}{2}$
k) $\sin x - \sin 3x + \sin 5x - \sin 7x = 0$
l) $\cos x + \cos 3x = \cos 5x + \cos 7x$

3.7. a) $2\sin^3 x - 3\sin x\cos x = 0$
b) $4\sin^3 x - 8\sin^2 x - \sin x + 2 = 0$
c) $\tan^3 x + \tan^2 x\ \ 3\tan x - 3 = 0$
d) $\tan^3 x - \tan^2 x + \tan x = 1$

3.8. a) $\sqrt{3}\sin x + 3\cos x = 0$
b) $\sqrt{3}\sin x + \cos x = \sqrt{3}$
c) $\sqrt{3}\sin 3x + \cos 3x = 1$
d) $\sqrt{2\sin 2x} + 2\sin x = 0$
e) $1 - \sin x = \sin^2(\frac{\pi}{4} - \frac{x}{2})$
f) $2\sin^2\frac{x}{2} = \cos(\frac{3\pi}{2} + \frac{x}{2})$
g) $1 - \cos 2x + \cos 6x - \cos 8x = 0$
h) $\cos x - 2\cos 3x + \cos 5x = 0$
i) $\cos 4x + 2\cos^2 x = 0$
j) $1 - \sin x\cos x + \sin x - \cos x = 0$
k) $\cos 3x + \sin 3x = \cos x + \sin x$
l) $\sin x\cos x - \sin^2 x - \cos x + \sin x = 0$
m) $\sin x + \cos x = \frac{1}{\cos x}$
n) $(\cos x)^{\sin x} = 1$
o) $\frac{1+\cos 2x}{2\cos x} = \frac{\sin 2x}{1-\cos 2x}$

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۱۴. د نامساواتو یا نابرابرونونو او مطلقه ارزښتونو سره شمیرنه

## ۱۴ . ۱:نابرابرون( نامساوات)

### ۱۴ . ۱ . ۱ بنسټیزې کلیمی او شمیرقوانین

یو نابرابرون لاس ته راځي، که دوه ترمونه T1 او T2 د یوې اړیکنخښنی $<, \geq, >$ او $\leq$ له لارې یو د بل سره تړلي وي.
په لاندې کی به نابرابرونونه تر څیړنی لاندې ونیول شي، چی یوه یا دوه ریيلی واریابلی یا اوښتونی ولري . یو نابرابرون د دوه واریابلو(اووښتونو) سره د وینامنطق په بنسټ یو د وینا شکل ښايي، د هغو سره چی واریابلی هر ارزښت غوره کولی شي، د کومو لپاره چی ترمونه T1 او T2 څرګندډي . یو اوبی یا حل هر هغه ارزښت دئ ، په همدې توګه هغه ارزښت جوړه ده، چی واریابل یا اووښتونې یی غوره کولی شي او په ترم کی د هغي ځاي په ځاي کیدو سره نابرابرون یوه ریښتونی وینا وي . د ټولو اوبیونو یا ځوابونو ټولګه په حلډیري L کی سره راټولیګي.
په لاندې برخه کی به ډیر د وینامنطق( ویناسم اندیز) سومبولونه چی په برخه ۱ ۰ ۲ ( او د ډیري عملیو سومبولونه ) چی په برخه ۲ . ۳ راغلي په کار واچول شي. د دې سومبولونو د اهمیت یا غوره والي سره دې سړی بیا هم ځان اشنا کړي.
د نابرابرونونو سره شمیرنه کی دې لاندې قاعدې په پام کي ونیول شي( مقایسه برخه ۳ )، دلته دې a , b , c او dریيل ګڼونه وي. لاندې باور لري

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

$a<b \Leftrightarrow a \pm c<b \pm c,$ (14,1)

$a<b \wedge c>0 \Rightarrow a.c<b.c$ (14,2)

$a:b<b:c$ (14,2)

$a<b \wedge c<0 \Rightarrow a.c>a.c$ (14,3)

$a:c>b:c$ (14,3)

$a<b \wedge c=0 \Rightarrow a.c=b.c$ (14,4)

د برابرونونو شمیرنی سره انډول کی دې دلته ( ۱۴ . ۳ ) قاعده ځانګړې تر پام لاندې وي.د منفی یا کمیز ګڼ سره ځل یا ویش عملیه کی دا د نابرابرون نخښه راکرځي یا را په شا کیږي یا که غواړئ برعکس کیږي. د بیلګي په توګه $3 < 4$ مګر که داوړه خواوې د $1$ - سره ځل شي نو لاس ته راځي $-3 > -4$

ټول د شمیرلو لپاره ورکړ شوي قواعد د نابرابرون لپاره په ورته ډول د اړیکنخښنو > سره باور لري دا په دې مانا چی$a \le b$ دا چی په څرګند ډول د دوه ګڼونو ځل او ویش هلته زیاتیز ( مثبت )دی چی دواړه ګڼونه همغه مخنخښنه ولري او کمیز (منفي) که چیری مخنخښي یی توپیر ولري، او لاندې اړیکی باور لري:

$a.b>0 \Leftrightarrow$ (14,5)

$\Leftrightarrow a:b>0\ (a>0 \wedge b>0) \vee (a<0 \wedge b<0),$ (14,5)

$a.b<0 \Leftrightarrow$ (14,6)

$\Leftrightarrow (a>0 \wedge b<0) \vee (a<0 \wedge b>0).$ (14,6)

دبرابرونونو شریکولو کی، په ځانګړي ډول د ویش لپاره، باید ونیول شي چی $b \neq 0$ یعني د ځل او ویش لپاره دې توپیریدونکو قاعدو ته پام وي . د بیلګي په توګه دي:

$a.b \ge 0 \Leftrightarrow (a \ge \wedge (a \ge 0) \vee (a<0 \wedge b<0)$ (14,7)

$a:b \ge 0 \Leftrightarrow (a \ge 0 \wedge b>0) \vee (a \le 0 \wedge b<0)$ (14,8)

## ۱۴ . ۱ ۱الف اینتروال

د واریابلو د څیړنو لپاره باید ټول معتبر ډیري ورکړل شي، د بیلګي په توګه د یوه فنکشن یا بلواك تعریف - او ارزښت ډیري.

پیژند ۴ . ۱ الف :

یو اینتروال یو د یوبل سره اړوند د رییلګڼونو$R$ برخه ډیر) ده۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

یو اینتروال له دې امله، بې له تشوالي یا تشي ، د ګڼکرښې یوه ټاکلې برخه ده، چې له دوه ګڼونو a او b رابندیږي. که د غاړې ټکي په اینتروال کې دننه وي یا خونديږ وي نو د بند

اینتروال څخه غږیږو او که اینتروال پورې اړه ونه لري، واز اینتروال دی، او په همدې ډول نیمبند او نیم واز اینتروالونه.
د اوبیډیرۍ په ورکولو سره په ګڼکرښې باندې، لاندې د انیتروال انځورونه په کار اچول کیږي.

لاندې ۱۱ د اینتروال مختلف تیپونه دي یا نې ، چې a او b له R دي او $a < b$ ده.

1. $(a,b) = \{x \,|\, a < x < b\}$ واز اینتروا ، اخر تخري په اینترول اړه نه لیر
2. $[a,b] = \{x \,|\, a \le x \le b\}$ بند اینتروال ، اخر توري په اینتروال ئوري اړه لري
3. $[a,b) = \{x \,|\, a \le x < b\}$ ښي واز اینتروال
4. $(a,b] = \{x \,|\, a < x \le b\}$ کیڼ واز اینتروال
5. $(a,\infty) = \{x \,|\, x > a\}$ښي لورته ناپاي او کیڼ لور ته واز اینتروال
6. $[a,\infty) = \{x \,|\, x \ge a\}$ښي لور ته ناپای او کیڼ لور ته بند اینترال
7. $(-\infty,b) = \{x \,|\, x < b\}$ښي لور ته واز او کیڼ ورته ناپاي اینتروال
8. $(-\infty,b] = \{x \,|\, x \le b\}$ ښي لور ته بند او کیڼ لورت ناپاي اینتروال
9. $(-\infty,\infty) = \mathbb{R}$ ناپای اینتروال ، ټول ریيلګڼونه
10. $\{a\}$ د دې یوه توري ډیرۍ
11. $\varnothing$ تشډیرۍ

لاندې اینتروالونه د ناپای په لور هم رابند دي یانې په دې مانا، چې د ناپای ډیرۍ هم په اینتروال پورې اړه لري، یانې ناپای ډیرۍ ټولنه ورسره جوړوي.

1. $[-\infty,b] = \{x \,|\, x \le b\} \bigcup \{-\infty\}$
2. $[-\infty,b) = \{x \,|\, x < b\} \bigcup \{-\infty\}$
3. $[a,\infty] = \{x \,|\, x \ge a\} \bigcup \{\infty\}$

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

$$(a, \infty] = \{x \mid x > a\} \bigcup \{\infty\}$$

4. $[-\infty, \infty] = \mathbb{R}^+$

**Alternative notationپورته ته الترناتیو یا بدیلي لیکنښه**

په نړیواله توګه یو بل ډول لیکنښهٔ په لاندې ډول ورکو لکیږي

$]a,b[ = \{ x \mid a < x < b \}$

$[a,b] = \{ x \mid a \leq x \leq b \}$

$[a,b[ = \{ x \mid a \leq x < b \}$

$]a,b] = \{ x \mid a < x \leq b \}$

یادونه : داپورته د اینتروال ډولونه د نړیوال جال څخه راکښته شوي، دا می هم وغوښتل ګرانو لوستونکو ته وړاندی کړم

بند انیتروال : ۰۰۰۰ $[a,b]=\{x|a\leq x\leq b\}$

نیم و از اینتروال :۰۰۰۰۰ $(a,b]=\{x|a<x\leq b\}$

نیم واز اینتروال :۰۰۰۰۰۰ $[a,b)=\{x|a\leq x<b\}$

واز اینتروال : ۰۰۰۰۰ $(a,b)=\{x|a<x<b\}$

ښی بند ناپای اینتروال : (-oe,b]={x|x≤b}

کښ بند ناپای اینتروال : [a,oe)={x|x≥a}

ښی واز ناپای اینتروال :۰ (-oe,b)={x|x<b}

کین واز ناپای اینتروال :۰ (a,oe)={x|x<b}

ناپای اینتروال : {x د ګنګرښی تکی دی|x}=(oe، -oe )

بیلګه ۱۴ . ۱الف:

په بنستیزه ډیری Rکی د لاندې برابرون پیژندډیری غوښتنه منځ ته رااچوو.

$x - 2 = 1 + 7 - x$

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

حل : د دې ترم T1(x) = x - 2 پیژنددیری ده:

D1 = [ 2 , oe)

په همدې توګه د ترم T2(x)=1+7-x پیژنددیری ی ده: ( D2 =(-oe,7

د برابرون دپیژنددیری لپاره لاس ته راوړو:

$$D = D_1 \cap D_2 = [2,\infty) \cap (-\infty, 7] = [2, 7]$$

لاندې ځیره وګورې(متاسفانه، چې ښه ځېره نه شم کښلی)




## ۱۴ . ۱ ۲ .نابرابرون د یوې مجهولی سره

د شمیرقاعد ې لومړی د هغونابرابرونونو لپاره په کار اچول کیږي چی یوه اوښتونې یا مجهوله ولري، او اوبیونې یی په ټولیزه توګه د اینتروالونو له لارې انځوریږي.

(۱۴ . ۱ ) قاعده د په خوښه ترمونو د زیاتون او کمون داسی اجازه راکوي، لکه په برابرونونو کی.

بیلګه ۱۴ . ۱:

لرو 5x-6<4+9x دواړو لورو ته 6 + 9x- ورزیاتوو، نو لرو 10 > 4x- دواړه خواوې په 4 - ویشو.

د ( ۱۴ . ۳ ) له مخې لاس ته راځي x > -5/2

د اوبیونې ډیر یا اوبیدیری : (L=(-5/2,oe

که په یوه غوښتونکی حل یا ویش کی ځله وونی، همداسي پرویشونی یو واریابل یا اووښتونی ترم وي، نو باید د ( ۱۴ . ۲ ) تر ( ۱۴ . ۴ ) سره سم ددې ترم د مخنخښي په واك والي کی د حالت توپیرونه(ښه یې : توپیره ونه) تر پام لاندې ونیول شي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د یوګونو اوبیدیریو پیداکولوپه هکله، په هر ډول چی وي، باید په پام کی ولرل شي، چی یواځي هغه د نابرابرون شمیرل شوي د x - ارزښتونه اوبیونې دي، چي ټول بی سملاسي ( په همدې وخت کی) هغه نیول شوی (فرض شوی) شرایط پوره کړي.

هر برخ اوبیدېری یا برخحلدیری کیدی شي چی د غوځدیری په څیر له همغه هرپورتني نماینده برخساحویا-ورشو(یا نوره هم ښه : -برخچاپیریالونو) واریابلی (اووښتونی) او د نابرابرون ډیری شمیرل شوو واریابلو یا اووښتونکو ارزښتونو جوړ شي. د غوځدیری جوړښت، کیدی شي چی د یوګونو ډیریو د ګرافیکی انځورونو په څیر په ګڼوړانګه ساده شي. د نامساوتو ټولې اوبیدیری د برخ اوبیدیري یوه د یوګونو حالتونو ټولندیری ده .

بیلګه ۱۴ . ۲:

$$(3x-5)(x-2)<4(x-2)$$

که په (x-2) باندې وویشل شي، نو باید د شرایطو په پام کی لرلو سره سم

د $x > 2$ لپاره $(x-2)>0$

د $x = 2$ لپاره $(x-2)=0$

د $x < 2$ لپاره $(x-2)<0$

نابرابرن دې په درې برخه ساحو کی یو له بل بیل وڅیړل شي.

لومړی حالت:

$$x > 2 <=> x \in (2,\infty)$$

دلته د مخ ته پراته نامساوت لاندې ورته بڼه بدلون څخه لاس ته راځي

$$3x-5 \leq 4 <=> 3x \leq 9 \Leftrightarrow x \leq 3 \Leftrightarrow x \in (-\infty,3]$$

له دې x - ارزښتونو څخه یواځي هغه د مخه ورکړ شوي نابرابرون ، چي په لومړي حالت کی راوړل شوي اوبیونې دي ، یواځي هغه x د

$$x \in (2,\infty)$$

سره د اوبیو یا اوبیونو په څیر نیسو. له دې امله د لومړي حالت اوبیدیري لرو:

$$L_1 = (2,\infty) \bigcap (-\infty,3] = (2,3]$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

دوم حالت:

$$x = 2 \Leftrightarrow x \in \{2\}$$

د لته په ( x -2) باندې ویشل کیدی نه شي.

د x = 2 ارزښت لیکلو ربښتیا وینا 0 ≥ 0 لاس ته راځي او له دې امله

L2 = {2 }

دریم حالت:

$$x < 2 \Leftrightarrow x \in \{-\infty, 2\}$$

د 0 > 2 - x له امله د ( ۱۴ . ۳ ) له مخې پخپله د مخه ورکړ شوي نابرابرون لاندې ورته فورمونه ورکوي

$$3x - 5 \geq 4 \Leftrightarrow 3x \geq 9 \Leftrightarrow x \geq 3 \Leftrightarrow x \in [3, \infty)$$

له دې x - ارزښتونو کوم یو نه شي کیدی چې په دریم حالت کې راوړل شي:

$$L_3 = (-\infty, 2) \cap [3, \infty) = \varnothing$$

د برخه اوبیډیریو ټولنې څخه ټول اوبیډیر) لاس ته راځي:

$$L = L_1 \cup L_2 \cup L_3 = (2,3] \cup \{2\} \cup \varnothing = [2,3]$$

نو ټولې اوبیونې هغه x دي د کومو لپاره چې لرو: 3 > x >2

په لاندې بیلګو کې نور دومره زیات توضیحات نه ورکول کیږي.

بیلګه ۱۴ . ۳ :

(3x-1)/(2x+4)<2

د شرایطو 0=|2x+4له مخې، دا په دې مانا چې 2=| x د مات لاندې سره ځله ونې له امله

د x>-2 لپاره 0<(2x+4)

د x<-2 لپاره 2<(2x+4)

سره سم یواځې دوه حالتونه توپیروو:

لومړی حالت:

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

$$x > -2 \Leftrightarrow x \in (-2, \infty)$$
$$3x - 1 < 4x + 8 \Leftrightarrow x > -9 \Leftrightarrow x \in (-9, \infty)$$
$$L_1 = (-2, \infty) \cap (-9, \infty) = (-2, \infty)$$

ځیره ۱۴ ۱ الف: دا ځېره لاندې کښل شوی، په هغې کې چې بیا دا اوبیډیری روښانه شو۰

دوم حالت:

$$x < -2 \Leftrightarrow x \in (-\infty, -9)$$
$$3x - 1 > 4x + 8 \Leftrightarrow x < -9 \Leftrightarrow x \in (-\infty, -9)$$
$$L_2 = (-\infty, -2) \cap (-\infty, -9) = (-\infty, -9)$$
$$L = L_1 \cup L_2 = (-\infty, -9)$$

پورته اخر د نابرابرون یا نامساوات حل یا اوبی دی۰



Bild 14 1

---

ځیره ۱۴ ا ب : دلته هم ګنونوکرښې شته، چۀ په هغې کې دا اوبیډیری روښانه کاږل شوي دي۰ ، که ځیره مې ونه کاږله، نو داکار بج ګران لوستونکی هم وکولای شي۰

د مخنخښی راوړلو په بنسټ د نابرابرن یوه ځانګړي بڼه یا فورم، چی په (۵.۱۴) تر ( ۱۴ . ۸ ) اړیکو کی استعمال شوي، اوبیونه ګټوره وښايي.

نابرابرونونه

دلته هم څو بیلګې راوړل کیږي، چې نابرابرونونه په کې اوبی شوي دي۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

دا برخه د نړیوالجال څخه راکښنته شوي، له دې امله یې لیکښه د مخکنۍ لیکښې سره توپیر لري. دا لاندې لرو .

$$ax + b \ > 0, \qquad a \neq 0$$
;

$$x^2 - 5 < 0$$
;

$$|2x - 5| \leq x + 10$$
;

دلته اوبیونې اینتروالونه دي. ښول کیږي، چې اوبیډیرۍ څنګه پیداکیږي او د دې لپاره

اړیین شرایط کوم دي.

- په دواړو لورو همغه ګڼ زیاتیدلی یا کمیدلی شي
- که دواړه خواي د کمیز ګڼ سره ځل شي یا په کمیز ګڼ وویشل شي، نو مخنخښه تغیر خوري. که زیاتیز وي، نو دواړه خوا په توان کیدی شي او ریښج یې وستل کیدی شي، پام دې وي، چې برابرون بیا زیاتیزه او که کمیزه مخ نخښه غوره کوي او یا دواړه
- موږ 1.9:1( اوبی کوو

د $a > 0$ سره لورو

$$ax + b > 0 \Longleftrightarrow ax > -b \Longleftrightarrow x > -\frac{b}{a}$$

د لاندې حلسټ یا اوبیډیرۍ

$$\mathcal{L} = \{x \in \mathbb{R} \mid x > -\frac{b}{a}\} = (-\frac{b}{a}, \infty).$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

د $a < 0$ سره لرو

$$ax + b > 0 \Longleftrightarrow ax > -b \Longleftrightarrow x < -\frac{b}{a}$$

د لاندې اوبیډیرۍ سره

$$\mathcal{L} = \{x \in \mathbb{R} \mid x < -\frac{b}{a}\} = (-\infty, -\frac{b}{a}).$$

موږ <u>1.9:2</u>( اوبی کوو :

$$x^2 - 5 < 0 \Longleftrightarrow x^2 < 5 \Longleftrightarrow |x| < \sqrt{5}$$

په اخرنې پل کې دې دې ته پام وي $\sqrt{x^2} = |x|.)$ د روانښه تشیرح لپاره یا شننې لپاره
یو د حالت توپیر رامنځ ته کوو :

په حالته $x \geq 0$ کې $|x| = x,$ او $|x| < \sqrt{5}$ په ساده ډول $x < \sqrt{5}.$ مانا لري

په حالت ist $x < 0$ کې $|x| = -x,$ او $|x| < \sqrt{5}$ د , $-x < \sqrt{5}$ په مانا یا
ورته $x > -\sqrt{5}.$ نو لرو

$$|x| < \sqrt{5} \Longleftrightarrow -\sqrt{5} < x < \sqrt{5}$$

او اوبیډیرۍ

$$\mathcal{L} = (-\sqrt{5}, 0) \cup [0, \sqrt{5}) = (-\sqrt{5}, \sqrt{5}).$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

مورږ 1.9:3 اوبی کوو د یوه حالت تو[پر سره

$$2x-5 \leq x+10 \quad x \leq 15, \quad \Longleftrightarrow$$

$$2x-5 \geq 0 \quad x \geq \frac{5}{2} \quad \Longleftrightarrow \quad 2x \geq 5 \quad \Longleftrightarrow$$

(i) که وي $2x-5 \geq 0;$ نو دی $|2x-5| = 2x-5,$ او مورږ لرو

له دې لاس ته راځي

$$\frac{5}{2} \leq x \leq 15.$$

(ii) $2x-5 < 0.$ نو دی $|2x-5| = -(2x-5)$ او لرو

$$-2x+5 \leq x+10, \quad x \geq -\frac{5}{3} \quad \Longleftrightarrow \quad -3x \leq 5 \quad \Longleftrightarrow$$

$$2x-5 < 0 \quad x < \frac{5}{2}. \quad \Longleftrightarrow \quad 2x < 5 \quad \Longleftrightarrow$$

له دې لاس ته راځي:

$$-\frac{5}{3} \leq x < \frac{5}{2}.$$

د نابرابرون اوبیونډیری له دې امله ده

$$\mathcal{L} = [-\frac{5}{3}, \frac{5}{2}) \cup [\frac{5}{2}, 15] = (-\frac{5}{3}, 15].$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

په لاندې کې يو څو تمرينونه ورکړ شوي، کۀ ګران مينه وال يې غواړې تمرين کړي۰

لاندې نابرارونونه اوبی کړئ

(i) , $\frac{3}{x+5} < 2$

(ii) , $\sqrt{x^2+x+2} > x$

(iii) . $|x+5| > |x-2|$

بيلګه ۱۴ . ۴:

$1/(3-x)>2/(x+6)$ , $x|=-6$ ; $x |= 3$

د اصلي ماتلاندې $(3-x)(x+6)$ سره د حٔل له امله بايد بيا هم د هغه مخنخبنه په پام کی ونيول شي. شرايط، د کومولِه مخی چی مات لاندې مثبت د ی، کيدی شي د ( ۱۴ . ۵ ) له لارې وميندل شي:

$$(3-x)(x+6)>0 \Leftrightarrow (3-x)>0 \wedge x+6> \vee (3-x)<0 \wedge x+6<0$$

$$\Leftrightarrow (x<3 \wedge x>-6) \vee (x>3 \wedge x<-6) \Leftrightarrow -6<x<3$$

نو ( ۱۴ . ۶ ) شووني کوي يا ممکنه وي، چی هغه ورشو( ساحه يا ډيری يا نه هم شهچاپيريال ) پيدا کړو چيرته چی اصلي مات لاندې کميز يا نفي دئ:

$$(3-x)(x+6)<0 \Leftrightarrow (3-x) >0 \wedge x+6><0 \vee (3-x)<0 \wedge x+6>0$$

$$\Leftrightarrow (x<3 \wedge x<-6) \vee (x>3 \wedge x>-6) \Leftrightarrow x < -6 \vee x>3$$

له دې امله د ( ۱۴ . ۲ ) او ( ۱۴ . ۳ ) په پام کي لرلو سره شميرنه لاس ته راځي:

لمړی حالت :

$$-6 < x < 3 \Leftrightarrow x \in (-6 , 3)$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

د زیاتیز ځله وونی یا مثبت فاکتور $(3-x)(x+6)$ سره ځلولو له امله د اړیکو نخښه ساتلی پاتیږي:

$$x+6\geq 6-2x \Leftrightarrow x\geq 0 \Leftrightarrow x\in[0,\infty),$$

$$L_2=(-6,3)\cap[0,\infty)=[0,3)....(mape(zirah)14.2a)$$

دوم حالت : $x<-6 \vee x>3) \Leftrightarrow x\in(-\infty,-6)\cup(3,\infty)$

دا چی د لته اصلي مات لاندې منفی دی، نو ځل د اړیکو نخښه باندې راګرځیدونی یا په ځټ (چپه یا برعکس( تاسیر لري:

$$x+6\leq 6-2x \Leftrightarrow x\leq 0 \Leftrightarrow x\in(-\infty,0)$$

$$L_2=[(-\infty,-6)\cup(3,\infty)]\cap(-\infty,0)=(-\infty,-6)....(mape(zirah)14.2b)$$

اوبیډیری $: L=L_1\cup L_2=[0,3)\cup(-\infty,-6)=(-\infty,-6)\cup[0,3)$




Bild 14.2 ځیره

د ځلوری برابرون یا مربع نامساوات حل لپاره کیدی شي د ځلوری ترم ځل انځورونی ځخه کار واخستل شي.

بیلګه ۱۴ . ۵ : $-x^2+9x<0$

لومړی د ( ۱۴ . ۳ ) په پام کي نیولو سره د$x^2$ د مخ ( کیڼ لور) کمیز- یا منفي ځلو,وونوباندې ویشل کیږي:

$$x2 - (9/2)x + 2 > 0$$

ددې لپاره چی دا نامساوات د ځل په ځیر ولیکلی شو، د مربع مساواتو حل شمیرو، کومه چی د اړیکنخښي په ځاي د مساواتنخښی ځاي په ځاي کولووروسته منځ ته راځي.

$$x^2-(9/2)x+2=0 \Rightarrow x1=4 , x2=1/2$$

$$x^2-\frac{9}{2}x+2>0 \Leftrightarrow (x-4)(x-\frac{1}{2})>0 \Leftrightarrow (x>4\wedge x>\frac{1}{2})\vee(x<4\wedge x<\frac{1}{2})$$

$$\Leftrightarrow x>4\vee x<\frac{1}{2}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دې سره د ( ۱۴ . ۵ ) په کارولو د نابرابرون حل لاس ته راځي:

حلډېرى : $L=(-\infty;\frac{1}{2})\cup(4;\infty)=R\setminus\{\frac{1}{2};4\}$

په دې برسيره دې په ياد وي چې داډول نامساوات د مشهور مربع فنکشن د کرېږ کښلو له مخې هم حل کيدی شي، په ځانګړي ډول هلته، چې اړوند مربع شکل رېيل حل نه لري۰ بالاخره پهپای کې د وېش د مختښې راوړلو يوه بيلګه ښايو.

بيلګه ۱۴ . ۶ : $\frac{x+5}{3x-2}\le 0,\ x\ne\frac{2}{3}$.

حل ( ۱۴,۸ ) ته ورته دی

$$\frac{x+5}{3x-2}\le 0 \Leftrightarrow (x\ge -5 \wedge x<\frac{2}{3}) \vee (x\le -5 \wedge x>\frac{2}{3}) \Leftrightarrow -5\le x<\frac{2}{3}.$$

د سيستم حل ډېرى يا حل سټ: $L=[-5,\frac{2}{3})$.

## ۱۴ . ۱ . ۳ د نابرابرونسيستم د يوې ناپيژندونکی يا مجهولی يا اوښتونې سره

د يوه نابرابرون سيستم اوبيډيرى L د يوګونو نابرابرونونو اوبيډيريو غوځډيرى ده . ګټور يا موخه وربه وي (دا هدفمند دی)، که نابرابرون لکه په يوه برابرونسيستم کی په نمره کړی شي ، ددې لپاره چې دا يوګوني ( دا په دې مانا چې يو يو ) اوبی کړی شو.

بيلګه ۱۴ . ۷

$$5-2x\ge 3-x$$
$$x^2-5x-6<0$$
$$I.5-2x\ge 3-x \Leftrightarrow x\le 2 \Rightarrow L_I=(-\infty,2]$$
$$II.x^2-5x<0 \Leftrightarrow (+1)(x-6)<0 \Leftrightarrow -1<x<6 \Rightarrow L_{II}=(-1,6)$$
$$\Rightarrow L=L_I\cap L_{II}=(-\infty,2]\cap(-1,6)=(-1,2]$$

د سيستم اوبيډيرى: L دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

بیلګه ۱۴ . ۸

$$-2 < \frac{4x-10}{x-1} < 3, x \neq 1$$

د داسې نابرابرون ځنځیرونه یا یو بل سره تړنه د دواړو نابرابرونونو د سیستم سره په یوه مانا دي:

$$I. -2 < \frac{4x-10}{x-1}$$

$$II. \frac{4x-10}{x-1} < 3$$

د همغه فاکتور( x-1) سره د حل اړیین یا ضروری حالت توپیریدنه کیدی شي د دواړو نابرابرونونو لپاره غبرګ د لیدوړ بڼی سره وڅیړل شي (مخ په وړاندې یووړ شي) :
(یادونه: په لاندې کې دې Fall(1) لومړې حالت او Fall(2) دویم حالت وي)

........................................$I$..........................................$II$

| | $I$ | $II$ |
|---|---|---|
| $1.Fall^{(1)}$ <br> $x \in (1,\infty)$ | $-2x+2 < 4x-10$ <br> $\Leftrightarrow x > 2 \Leftrightarrow x \in (2,\infty).$ <br> $L_{I_1} = (1,\infty) \cap (2,\infty) = (2,\infty)$ | $4x-10 < 3x-3$ <br> $\Leftrightarrow x < 7 \Leftrightarrow x \in (-\infty,7).$ <br> $L_{II_1} = (1,\infty) \cap (-\infty,7) = (1,7)$ |
| $2.Fall^{(2)}$ <br> $x \in (-\infty,1)$ | $-2x+2 > 4x-10$ <br> $\Leftrightarrow x < 2 \Leftrightarrow x \in (-\infty,2).$ <br> $L_{I_2} = (-\infty,1) \cap (-\infty,2) = (-\infty,1)$ | $4x-10 > 3x-3$ <br> $\Leftrightarrow x > 7 \Leftrightarrow x \in (7,\infty).$ <br> $L_{II_2} = (-\infty,1) \cap (7,\infty) = \varnothing$ |
| | $L_I = L_{I_1} \cup L_{I_2}$ <br> $= (-\infty,1) \cup (2,\infty)$ | $L_{II} = L_{II_1} \cup L_{II_2}$ <br> $= (1,7)$ |

د LI او LII غوڅېدیزی جوړول بیرته کیدی شي چې د یوګونو اوبیدیریوګنوړانګه باندې د لیدنی شي )(څیره ۱۴ . ۳

د سیستم اوبیدیری:

$$L = L_I \cap L_{II} = (2,7)$$






(c) ketabton.com: The Digital Library



---

## ۱۴ . ۱ . ۴ نابرابرون د دوه اووښتونو یا مجهولو( ناپیژندونکو) سره

د دوه نابرابرون - یا نابرابرونسیستمونو اوبیډیرۍ د یوه اوبیډیرۍ $R^2 = R \times R$ برخډیرۍ ده، چې د هوارۍ په څیر د لیدنی کیدی شي. له دې امله ګرافیکي ښوونه د ټکو ډیري په څیر په یوه کواوردینات سیستم کی مساعد دی. په دې برخه کی به موږ یواځي د لاندې ډول لاینیزنابرابرون::

$$ax + by + c > 0 \; ( \geq 0 \,, <0, \leq 0 ) \qquad (14.9)$$

واریابلو یا اوښتونو $x , y$ او ثابتو ځله وونو( ضریبونو)

$a,b,c \in R$

سره د شرایطو $|a|=0 \vee |b|=0$ سره سم تر څیرنی لاندې ونیسو.

که ددې اړیکو نخښه د برابرون سره بدله کړو نو د یوې کرښي برابرون $ax+by+c=0$ لاس ته راځي، کومه چی د پروتولاړ - یا کواوردینات سیستم په دوه نیمو هوارویا ستحو ویشي. د نابرابرونسیستم ( ۱۴ . ۹ ) ، چی ټیك په یوه له دې دوه هوارو کی باور لري، په راتلونکي بیلګه ۱۴ . ۹ کی ښوول کیږي. د اوبیډیرۍ په هواره کی د کرښونو یا کرښو کرښو کولو( د ډیرو کرښو کښلو) له لارې په نخښه کیدی شي. که په نابرابرون کي برابرون نه وي پریښوول شوي یعني برابرون په کی نه وي ځاي شوي، نو راټولونکی کرښه د اوبیډیرۍ پورې اړه نه لري او کیدی شي یواځي ټوټه ټوټه کرښی ( پرې لاین یا غوڅکرښو) په څیر په نخښه شي، لکه څنګه چی د ډیرۍ ګرافیکي ښوونه ورځنی یا بلده یا معمول ده. که برابرون ورپورې اړه ولري، نو کرښه د اوبیډیرۍ پورې اړه لرونکی برخی په څیر په نخښه کیږي.

بیلګه ۱۴ . ۹ :

$$2x+5y-10>0$$

که نابرابرون د $y$ په لور اوبی شي، نو دې ته ورته نابرابرون $y>-(2/5).x+2$ لاس ته راځي، کوم چی په یوه کره نیولي $x$ په روښانه توګه د لویو $y$ - ارزښتونو لپاره پوره دی نسبت ورته برابرون ته . له دې امله دهوارې چی د کرښې $y=-(2/5).x+2$ څخه پورتنی نیمی هوارې ټول ټکی اوبیډیرۍ $L$ جوړوي ش که څیره ون کښل شوه، نو پل په پل داکار ګران د شمیرپوهنې مینه وال کولی شوي ۱۴ . ۴ )

دا په بیلګه ۱۴ . ۹ کی تشریح تګلار په نابرابرون ( ۱۴ . ۹ ) کی د مخه نیسي چي $|b|=0$ دی. په ټولیزه توګه یا عمومي ډول دا متود د استعمال وړ دی، چی د کواوردینات سیستم

(c) ketabton.com: The Digital Library



يوه په خوښه ټاکلي ټکی ځای په ځاي کولو کی ، چی په کرښه ax+bx+c=0
نه وي پروت٠

ازمايو چي ايا دا نابرابرون په اړونده نيمه هواره کی باور لري او يا نه.که ممکن وي نو د شميرنی د ساده والي له امله ځانګړی ټکی(0.0 ) ټاکو. دا په بيلګه ۱۴ . ۹ کی ددې ټکی بدلون وروسته نا ريښتيا وينا 10 - > 0 لاس ته راکوي او په دې ډول د اوبيډيری پيداشوی ځاي ( ښه به پروتځاي وي خو د لنډونی له امله ځاي بسيا کوي) تصديقوي.
دلته يوه ځيره کښل کيږي دلته د اوښتونو پرځاي ګڼونه ږدو او بيا کرښه باسو٠ په کواوردينات کې د هوارې هغه برخه، چې اوبيډيری ده کرښ کرښه کوو، دا په دې مانا، چې د کرښی هغه دکرښونو لور ته ابيډيری ده٠

د يوه نابرابرونسيستم چی دوه مجهولی ولري، نو هر نابرابرون ځانله ځانله اوبی کيږی او بالاخر ه بي د يوګونو اوبيډيريو غوځډيری نيول کيږي يا جوړيږي.



بيلګه ۱۴ . ۱۰:
I . 2x+y<6
II. 4x-y>0

(0,0 ) نابرابرون I پوره کوي او له دې امله په اړونده اوبيډيري LI کی پروت دی. دا چی په نابرابرون II کی د ( 0 , 0 ) سيده برابرون باوري دي، نو دلته بايد يو بل ټکی د بيلګي په توګه ( 0 , 1 ) کيښنول شي، کوم چی د په ښتوالي يا تضاد په لور ځي، او له

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

دې امله اوبيډيرئ LII کی نه دئ پروت. ( ؟؟؟ش ۱۴ . ۵ الف( . ش ۱۴ . ۵ ب دسيستم حلډيرئ L ښايي چي له دوه نيمکرښو بنديږي يا له دوه نيم کرښومحدوديږي.
د وړانديزارزښت لري چی د تمرينونو په خپلواك كار كولو کی د غوښتونکو اوبيډيريو L د يوګونو نيمهوارو غوځډيرئ حتي تر غاړې پورې رنګينه يا كرښی كرښی راوكښل شي، چی په دې ډول يی يو كواورديناتسيستم د انځورولو لپاره بسيا وكړي .ش ۱۴ . ۵



Bild 14.5

بيلګه ۱۴ . ۱۱:

I . x-3y-6<0  II. -x+y+1<0
III. x-6<0

دا اوبيډيرئ په ش ۱۴ . ۶ کی انځور ۱۲ كرښي
د پورته نابرابرونسيستم له مخځ د هر نابرابرون لپاره كرښه كشل كيږي، په يوه كواورديناتسيستم كې او بيا د هوارې هغه برخه، چې درېواړه كرو كې رابنده منهواره وي، هغه يې اوبی دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



--------------------------------------------------------------------------------




Bild 14.6 خاکره

۱۴ . ۲ برابرون او نابرابرون د مطلقه ارزښتونو سره

۱۴ . ۲ ۱ د مطلقه ارزښتونو سره شمیرنه

که په یوه براورن یا نابرابرون کی د ترمونو مطلقه ارزښتونه د مجهولی په څیر رییلي واریابلي یا اووښتونی وي، نو د مجهول په لور له ابیولو د مخه باید یو د مطلقه ارزښت خپلواك فورم پیداشي. داچي له برخی ۳ څخه څرګنده ده چی د یوه رییل ګڼ مطلقه ارښت د

مخنخښی په واك په توپیري ډول جوړیږي نو د یوه ترم لیکل بي له مطلقه ارزښت، په پرینځیپ کی دوه حالتونه توپیریږي۰ داسی دئ:

$$T(x) = T(x) \quad \text{لپاره} \quad T(x) \geq 0 \quad \text{د} \qquad (14,10)$$

$$T(x) = -T(x) \quad \text{لپاره} \quad T(x) < 0 \quad \text{د} \qquad (14,10)$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

که مطلقه ارزښت د صفر لوي یا په صفر برابر وي، نو کیدی شي چی د مطلقه ارزښت لرې پرېښول شي، یا د نورو ترمونو سره په ټرلو په نوکانو بدل شي. که مطلقه ارزښت متن منفي وي یعني د مطلقه ارزښت دننه، نو د مطلقه ارزښت نخښو په ځاي نوکان لیکل کیږي او دا نوکان بیا په ( ۱ -) ځلیږي. هغه ټکي چي په ( ۱۴ ، ۱۰ ) کی ورکړ شوي شرایط پوره کوي، نو پریښول کیږي چی ځانونه په قاعده کي په اینتروال وښايي، کوم چی دیسیونکت( پردي) برخه ډیری د اوښتونوچاپیریالونه دي، د کوم لپاره چی ( T(x ښوول شوی دی. د دواړو برخه چاپیریالونو ټولنډیري، باید بیرته د ټول هغه واریابلچاپیریال ورکړي، کوم چی د کنترول لپاره باید و ازمایل شي. په دې ځاي کی دې د ځله وونی او ویش مطلقه ارزښتونو لپاره قواعد ورکړ شي، چی د بدلون لپاره د ارزښت وړ دي.

که a اوb ریيل ګڼونه وي ، نو لاندې باور لري کیږي۰

$$|a \,.\, b| = |a| \,.\, |b|$$

د $b| = 0$ لپاره $\quad |a : b| = |a| : |b|$

## ۱۴ . ۲ . ۲ برابرون د مطلقه ارزښت سره

د یوه مطلقه ارزښت مساوات حل لکه چی د حالت توپیرولوکی توضیح شوی ، باید په هر حالت کی وازمایل شي چی ایا دا اوبیونې په نیول شوي یا فرض شوي اینتروال کي پراته دی او که یوائي د اوبې په څیر ښکاریدونکي رامنځ ته کیږي . یوګوني اوبیوني اوبیډیري L کی رایوځاي کیږي. د مقایسي یا انډول یا پرتلی لپاره د برابرونونو هغه کرافیکي اوبیونې شونی یا ممکن دی، په کوم کی چی هره لور یا اړخ د یو فنکشن تنظیم عملیي راوړل کیږي یا رانیول کیږي او په x , y - پروت ولاړ – یا کواوردینات سیستم
کی انځوریږي .
د دواړو فنکشنونو غوځټکي x - کواوردیناتونه په همدې وخت کی د برابرونونو اوبیونې دي.

بیلګه ۱۴ . ۱۲:

$$|x+1|=(x/2)+2$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

باور لري:

$(x+1) \geq 0$ د $x > -1$ لپاره

$(x+1) < 0$ د $x < -1$ لپاره

(14,11) د $x \geq -1$ لپاره $|x+1| = x+1$

(14,11) د $x < -1$ لپاره $|x+1| = -x-1$

لومړی حالت

$$x \in [-1, \infty)$$

$$|x+1| = x/2+2 \Leftrightarrow x+1 = x/2+2 \Leftrightarrow x = 2 \in [-1, \infty] \Rightarrow x_1 = 2$$

دوم حالت:

$$x \in [-1, \infty)$$

$$|x+1| = x/2+2 \Leftrightarrow -x-1 = x/2+2 \Leftrightarrow x = -2 \in [-\infty, -1] \Rightarrow x_2 = -2$$

د برابرون یا مساوات اوبیډیری $L = \{-2, 2\}$




په داسی حال کی چی د ښی اړخ د ورکړشوي برابرون، $y = x/2 + 2$ , ګرافیکی انځورونه، په ځرګند ډول یوه کرښه ده، کیڼ اړخ، $y = |x+1|$ د ( ۱۴ . ۱۱ ) سره د دوه نیموکرښو په څیر منځ ته راځي.
اوبی : کیدی شي په ځ. ۱۴ . ۷ کی ولوستل شي

که یو برانرون د لاینیزو ترمونو زیات مطلقه ارزښتونه ولري، نو شوونې یا مساعد ده چی لومړی د هغه ګنوړانګه په هغه ځاي کی وویشل شي، چیرته چی د ترمونو مخنخښنه د مطلقه ارزښت په دننه کی تغیر خوري او د هر یوه مطلقه ارزښت ځرګندونه په داسی لاس ته راغلو برخه اینتروالونو کی د لیدلو وړ یوځاي راټول کړي.

بیلګه ۱۴ . ۱۳ :

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$|1-x|-|2x+3|=1$$

د ( ۱۴ . ۱۰ ) پسی لرو:

د $x<1$ لپاره $|1-x|=1-x$

د $x>1$ لپاره $=-1+x$

او( لاندې او پورته هم لومړی له کیڼ وښی لو رته لوستل کیږي

د $x>-3/2$ لپاره $|2x+3|=2x+3$

د $x<-3/2$ لپاره $=-1x-3$

یوځاي راټول یا د ګډ فرمولولو لاندې تر پام یا تر تظر

| | $x<-3/2$ | $-3/2<x<1$ | $x>1$ |
|---|---|---|---|
| $\|-1+x\|$ | $1-x$ | $1-x$ | $-1+x$ |
| $\|2x+3\|$ | $2x+3$ | $-2x-3$ | $\|2x+3\|$ |

له دې امله د برابرون اوبې کی درې حالتونه توپیروو. برسره پر دې باید کمیزه – یا منفي نخښه د دویم مطلقه ارزښت د مخه په پام کی ونیول شي:

لمړی حالت:

$$x\in(-\infty,-3/2)$$

$$1-x-(-2x-3)=1\Leftrightarrow x+4=1\Leftrightarrow x=-3\in(-\infty.-3/2)\Rightarrow x_1=-3$$

دم حالت:

$$x\in[-3/2,1]$$

$$1-x-(2x+3)=1\Leftrightarrow -3x-2=1\Leftrightarrow x=-1\in(-\infty.-3/2)\Rightarrow x_2=-1$$

دریم حالت:

$$x\in(1,\infty)$$

$$-1+x-(2x+3)=1\Leftrightarrow -x-4=1\Leftrightarrow x=-5\notin(1,\infty)$$

په وروستی حالت کی شمیرل شوی ارزښت د نیونی سره په څټ یا تضادکی دی، چی $x3 = -5$

یواځي ښکارندډوله اوبی دی( دا په دې مانا چی یواځی د اوبي په څیر یا - غوندې ښکاریږي) .

اوبډیری : $L = \{-3,-1\}$

د ښکارندډوله اوبي منځ ته راتګ کیدی شي، چی د ګراف اوبي – یا حللارې له لارې څرګند

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

شي. د کينِ اړخ يا لور مطلقه ارزښت خپلواك يا ازاد ښودل کيدی شی چی ټوټه ټوټه د مخه تيرشوي شميرنو په بوګونوحالتونو کی لاس ته راځی. له دې امله تعقيبيږي:

د $x > -3/2$ لپاره $=x+4$

د $-2/3< x < 1$ لپاره $|1-x|-|2x+3|=-3x-2$

د $x > 1$ لپاره $=-x-4$

ښی لور همغه - يا ثابت فنکشن $y = 1$ دی . د مخه شميرل شوو اوبيونو پرتلې له پرتلې مقايسي ښيره شته، خو زما په ستونځو ګرانلوستونکی اوس بلد دي ۱۴ . ۸ ښايي، چی دواړه کرښي ريښتيا د $x < -3/2$

او $-3/2< x < 1$-لپاره رښتيا هره يوه بله يوځل پرې کوي، مګر د $x > 1$ لپاره يو بل نه پريکوي. په دريم حالت کی د اړوند کرښی ټوټی $y = -x-4$ د اوږدوالی پرټکی راکوي، د کرښي $y = 1$ د حل په ښير حل د نيول شوي اينتراوال د باندې دی ښيره ( شايد داښيره هم ښيره نه شي، کۀ کرانو مينه والو داکار پخپله وکړ ، نو نور به هم ګټور به وي)ش . ۱۴ . ۸

دلته هغه ښيره بايد ريشی او يا راغلی وي، يا راغلې وی۰




که د مطلقه ازښت نخښنی په يوه ځلوري - يا مربع ترم کی له منځه وړل کيږي، نو کيدی شي چی د مخنخښني غوښتل شوي ښيرنی چي په برخه ۱۴. ۱ . ۲ کی تر ښيرني نيول شوې د مربع نامساوات د حل متود ګټه ترې واخستل شي.) بيلګه ۱۴ . ۵ دې مقايسه شي )

بيلګه ۱۴ . ۱۴:

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

$|x^2 -6x + 5 | = 3$

د $x^2-6x+5>0 \Leftrightarrow (x-1)(x-5)>0 \Leftrightarrow x<1 \vee x>5$

او $x^2-6x+5<0 \Leftrightarrow (x-1)(x-5)<0 \Leftrightarrow 1<x<5$

سره لاس ته راځي

$|x^2-6x+5|=x^2-6x+5$ لپاره $x<1 \vee x>5$ د (14,12)

$|x^2-6x+5|=-x^2+6x-5$ لپاره $1<x<5$ د (14,12)

لومړی حالت: $x \in (-\infty,-1] \cup [5,\infty)$

$x^2-6x+5=3 \Leftrightarrow x^2-6x+2 = 0,$

$L \Rightarrow x_1=3+\sqrt{7}=5,65 \in [5,\infty)$ , $x_2 = 3 - \sqrt{7} = 0,35 \in (-oe , 1]$

دوم حالت $x \in (1,5)$:

$-x^2+6x-5=3 \Leftrightarrow x^2-6x+8=0,$

$L \Rightarrow x_3=4 \in (1 , 5)$ , $x_4= 2 \in (1 , 5)$

پام : که چیرې حل یا اوبی مو نه وو لیکلی او L مو لیکلی وو ، نو دا د اوبی په مانا دی المانی Lösung ورته وایي چی لند په L لیکل کیږي .

اوبیدیری: $L = \{3 - \sqrt{7}; 2;4;3;3+\sqrt{7}\}$

څیره ۱۴ . ۹ د ګراف له لاری اوبی ښایي. کیڼ لور $y=|x^2-6x+5|$ د ( ۱۴ . ۱۲ ) له امله د پارابوللیندو څخه یوځاي کیږي. څیره ۱۴ . ۹




څیره ۱۴. ۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

په ټولیزه توګه د یوه برابرون اوبې کې ، په کوم کې چې n مختلف ارزښتوییني یا - افادې یعني $|T_i(x)|$ , $i = 1,2,...n$ منځ ته راځي، $2^n$ حالتونه یو له بل توپیر کیږي. دا د هغه کیدونکو کیدنو یا ممکن امکاناتو ګڼون یا تعداد دئ ، کوم چې موجود دی ، چې د ترم د $T_i(x)$ تیپ یا بڼی وي چې یا

$T_i(x)$ >0 او یا $T_i(x)$ 0> راکوي، یعنی د دوه توکو د وارییشن امکاناتو ټولګي ته ( پرتله ۱۰ . ۴ . ۲ برخه) د ارزښت نخښی د له منځه وړلو له امله د ( ۱۴ ، ۱۰ )

قاعدې سره سم $2^n$ برابرونونه منځ ته راځي، چې په ټولیزه یا عمومي توګه دې اوبیوني $x_1,x_2,x_3,......$ ولرودئ شي. یواځی دا باید وازمایل شي ، چې ایا دا اوبې xi پیلبرابرون پوره کوي که نه.

د دې ټولیزې تګلار پسی موږ په بیلګي ۱۴ . ۱۳ کی د

T1(x)=1-x, T2=(2x+1)

سره، په لاندې $2^2 = 4$ حالتونو باندې کار کوو:

$$1.\ T_1(x) \geq 0 \wedge T_2(x) \geq 0:\quad (1-x)-(2x+3)=1 \Rightarrow x_1=-1.$$

$$2.\ T_1(x) \geq 0 \wedge T_2(x) < 0:\quad (1-x)+(2x+3)=1 \Rightarrow x_2=-3.$$

$$3.\ T_1(x) < 0 \wedge T_2(x) \geq 0: -(1-x)-(2x+3)=1 \Rightarrow x_3=-5.$$

$$4.\ T_1(x) < 0 \wedge T_2(x) < 0: -(1-x)+(2x+3)=1 \Rightarrow x_4=-\frac{1}{3}.$$

پیلبرابرون د3- = x1=1, x2لپاره پوره دي مګر د x3 اوx4لپاره پوره نه دي.

## ۱۴ . ۲ . ۳ نابرابرون دمطلقه ارزښت سره

که په نابرابرونو کی مطلقه ارزښتونه منځ ته راشی، نو داسی دي لکه په برخه. ۱۴ .۲ ۲ کی د حالتونو توپیر سره ونیسی یعني د کارپیل په وکړي، کوم چې بي له مطلقه ارزښتنخښو د انځوروني لپاره ضرر یا غوښتونکي دي. د واریابلو یا اووښتونکو اړونده برخه چاپیریال په دننه بیا مختلف نابرابرون ۱۴ .۱ سره سم حل کوو، د کوم سره چي بیرته د حالت توپیر اړیین دئ

بیلګه ۱۴ . ۱۵ : |7-3x|>2

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

لومړی حالت:

$$7-3x\geq 0 \Leftrightarrow x\in(-\infty,7/3]$$
$$7-3x\geq 2 \Leftrightarrow x\in(-\infty;5/3]$$
$$L_1=(-\infty,7/3]\cap(-\infty,5/3)=(-\infty,5/3]$$

دویم حالت:

$$7-3x<0 \Leftrightarrow x\in(7/3,\infty)$$
$$-7+3x\geq 2 \Leftrightarrow x\in[,\infty)$$
$$L_2=(7/3,\infty)\cap[3,\infty)=[3,\infty)$$
$$\Rightarrow$$
$$L=L_1\cup L_2=(-\infty,5/3]\cup[3,\infty)=R\setminus(5/3,3)$$

په پورته کې دې د غشي څوکه له پامه کې نه راړل کیږي:

بیلګه ۱۴ . ۱۶: |x-5|<|x+1|

د یوګونو ترمونو انځورونه بي له ارزښتنخښی:

د 5 < x لپاره |x-5|= x–5

د 5 > x لپاره |x-5|=-x+5

او

د 1 ≥ x لپاره |x+1|=x+1

د 1- ≤ x لپاره |x + 1| = -x - 1

په یوه لید وړ توګه په لاندې توګه راټولیګي رایوځاي کیږي یا راغونډیږي :

| | | | |
|---|---|---|---|
| | X > -1 | -1≤ x<5 | x≥ 5 |
| \|x-5\| = | -x+5 | -x+5 | x-5 |
| \|x+1\|= | -x-1 | x+1 | x+1 |

لومړی حالت: $x\in(-\infty,-1)$

|x-5|<|x+1|<=>-x+5<-x-1 <=> 0<-6

د هر x<-1 نابرابرون یوې ناریښتیا وینا ته لاربښودوي، چی په دې حالت کی کوم اوبه وي ، دا په دې مانا چي: L1 = Ø

دوم حلات $x\in[-1,5)$ :

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

$|x-5|<|x+1| \iff -x+5<-x-1 \iff x>2 \iff$

$x \in [2,\infty]$

$L_2 = [-1,5) \cap (2,5) = (2,5)$

دریم حالت: $x \in [5,\infty)$

$|x-5| < |x+1| \iff x-5 < x+1 \iff 0<6$

هر $x \geq 5$ نابرابرون پوره کوي، دا په دې مانا چې: $L3 = [5, oe)$

حلډیری: $L = L_1 \cup L_2 \cup L_3 = (2,5) \cup ([5,\infty) = (2,\infty)$

بیلګه ۱۴ . ۱۷: $|x^2-4x-21|<24$

د $x^2-4x-21 \geq 0 \iff x<-3 \lor x \geq 7$

او $x^2-4x-21<0 \iff -3<x<7$

څخه لاس ته راځي:

د $x<-3 \lor x \geq 7$ لپاره $|x^2-4x-21| = x^2-4x-21$

د $-3<x<7$ لپاره $= -x^2+4x+21$

لومړی حالت: $x \in (-\infty,-3] \cup [7,\infty)$

$|x^2-4x-21|<24 \iff x^2-4x-21<24 \iff x^2-4x-45<0$

$\iff -5 < x < 9 \iff$

$x \in (-5,9)$

$L_1 = [(-\infty,-3] \cup [7,\infty)] \cap (-5,9) = (-5,-3] \cup [7,9)$

دویم حالت: $x \in (-3,7)$

$|x^2-4x-21|<24 \iff -x^2+4x+21<24 \iff x^2-4x+3>0$

$\iff x < 1 \lor x > 3 \iff$

$x \in (-\infty,1) \cup (3,\infty),$

$L_2 = (-3,7) \cap [(-\infty,1)] \cup (3,\infty) = (-3,1) \cup (3,7)$

او بیډیری:

$L = L_1 \cup L_2 = (-5,1) \cup (3,9)$

دا بیلګې د دې درس لپاره بسیا کوي، دا بیا دلته هم تکرار لیکم، که په کومه موضوع کې ګرانو لوستونکو څه زیات غوښتل هغه هم په پام کې نیول کیږي او کړی شو، چې په ګډه هره موضوع وغزوو٠

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

په لاندې کې به په یوه بیلګه کې داسې نامساوات وڅیړو، په کومه کې چې مجهوله په مطلقه ارزښت افاده شوي وي او هم مات لاندې کې منځ ته راشي.

بیلګه ۱۴ . ۱۸: $|1+2x| / (1-x) < 1 , x \neq 1$

د ( ۱۴ ، ۱۰) له مخې د مطلقه ارزښت له منځه وړلاو د مات لاندې سره د نابرابرون ځله ونه د ( ۱۴ . ۲ ) او ( ۱۴ . ۳ ) له مخې په هر وخت کې د همغه ترم مخنخښه باید په پام کې ونیول شي. باور لري یا صدق کوي:

د $x \geq -1/2$ لپاره $|1+2x| = 1+2x$

د $x < -1/2$ لپاره $|1+2x| = -1-2x$

او

د $x < 1$ لپاره $(1-x) > 0$

د $x > 1$ لپاره $(1-x) < 0$

دلته هم په همغه دوه تیریدونکو ځایونو کې ګنوړانګه سره بیله یا توټه کیږي، داسې چي په راتلونکو ګڼلو کې یا ځانیزه توګه درې حالتونه یو له بل توپیریږي.

| | $X<-1/2$ | $-1 \leq x<1$ | $x>1$ |
|---|---|---|---|
| $\lvert 1+2x \rvert$ | $-1-2x>$ | $1+2x$ | $1+2x$ |
| $=1-x$ | $>0$ | $>0$ | $<0$ |

لومړی حالت: $x \in ( -oe, -1/2)$

$$-1-2x \leq 1-x \iff x \geq -2 \iff$$

$$x \in [-2 , oe)$$

$$L_1 = (-oe, -1/2) \cap [ -2 , oe ) = [-2 , -1/2)$$

دویم حالت $x \in [ - 1/2,1)$ :

$$1+2x < 1- x \iff x<o \iff x \in (-oe,0]$$

$$L_2 = [ -1/2 ,1] \cap (-oe,0] = [-1/2, 0)$$

دریم حالت:

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

$x \in (1, oe)$

$1+2x \geq 1-x \iff x \geq 0 \iff x \in [0, oe)$

$L_3 = (1, oe) \cap [0, oe) = (1, oe)$

د حلونو سټ(اوبیډیری):

$L = L_1 \cup L_2 \cup L_3 = [-2;0] \cup (1,oe)$

د دوه ناپیژندونکو سره د یوه نامساوات ارزښت حلډیري پیدا کولو لپاره هم باید لمړی ارزښت له منځه ولاړ شي. مساوات ( ۱۴ . ۱۰ ) ته ورته د واریابلو یا اوښتونکو x او y سره، د یوه لاینی ترم ارزښت سره، باور لري:

(14,13) د $ax+by+c \geq 0$ لپاره $= ax+by+c$

( ۱۴ ، ۱۳) د $ax+by+c < 0$ لپاره $|ax+by+c| = -(ax+by+c$

د نیونو یا فرضیو سره $a \neq 0 \ v \ b \neq 0$

دواړه ښي لیکل شوي شرطونه په برخه ۱۴ . ۱ . ۴ کی د کارول شوې بڼی(۱۴ . ۹ ) نابرابرون
هم کارول شوي . له دې امله باید یو نامساوات د ارزښت افادي ( ۱۴ . ۹ ) سره، د کرښی $ax + by + c = 0$ له لارې ورکړ شوې، یو له بل بیلی یا جدا، د x,y-هوارې نیمه هوارې یو له بل بیلی اوبی کړی شي.

بیلګه ۱۴ . ۱۹:

$|x-y+1| > x-2x-4$

د ( ۱۴ . ۱۳ ) اړیکو باور لري :

د $-x-y+1 \geq 0$ لپاره $|-x-y+1| = -x-y+1$

د $x-y+1 < 0$ لپاره $= x + y - 1$

لومړی حالت: $-x -y +1 > 0$

$|-x-y+1| > x-2y-4 \iff -x-y+1 > x-2y-4 \iff -2x+y+5 > 0$

$L1 = \{(x,y) | -x-y+1 \geq 0, -2x+y+5 > 0\}$

دوم حالت: $x-y+1 < 0$

$|-x-y+1| > x-2y-4 \iff x+y-1 > x-2y-4 \iff 3y+3 > 0 \iff y < -1$

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

$$L2=\{(x;y)|-x-y+1<0 ,y>-1\}$$

له دې سره L1 او L2 د اوبيډيرئ دوه نابرابرونونو غوڅډيرئ ده او کيدی شي، لکه څنګه يو نابرابرون د يوه ګراف سره انځور شي ( ځيره دلته هم په پوښتنه کې ده ۱۴ . ۱۰ الف ) اوبيډيرئ بيرته د ورکړ شوو نابرابرونونو برخ اوبيډيريو ټولنديرئ ده۰ ( ځيره ۱۴ . ۱۰ ب ) دلته هم همغه د مخه پام لرنه)۰

که په يوه نابرابرون کی دوه ارزښت افادې يا – ويينې د ( ۱۴ . ۱۳ ) بڼی رامنځ ته شي، نو د ارزښت ترپام نيولو سره ځلور حالتونه يو له بل توپير کيدی شي.




Bild 14.10 ځېره

تمرينونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاندې نامساواتو حلډېرۍ پیدا کړئ

1. a) $8x-3<2x+9$ b) $5-7x\le 3x-10$

c) $\frac{x}{2}-\frac{2}{3}>\frac{1}{2}+\frac{x}{9}$ d) $3(3x-2)\ge 4(3-2x)$

e) $\frac{8x-5}{5}\le\frac{2x+5}{3}$ f) $\frac{3}{4}-\frac{2}{3}x>\frac{5}{4}x+\frac{1}{6}$

g) $\frac{8}{9}+6x\ge 2(\frac{5}{6}+3x)$ h) $\frac{1}{3}(\frac{x}{8}-6)<\frac{x}{6}-\frac{x}{8}+1$

2. a) $(3x+1)(2x-1)<(5x-3)(2x-1)$

b) $(8x-9)(3x+2)\ge(2+7x)(2+3x)$

c) $(7x-3)(5-7x)>(3-7x)(5x+3)$

d) $(5+2x)(7-5x)\le(10+4x)(2-3x)$

e) $x^2-x-6\le 2x+4$ f) $x^2+5x-6>3-3x$

g) $x^2+3x\ge -2x-6$ h) $x^2-4x+4<4x-8$

3. a) $\frac{3}{2x-4}\le 2$ b) $\frac{3x-4}{2-3x}\ge 4$

c) $\frac{2x-2}{2x+2}<2$ d) $\frac{5x+3}{x}<-2$

e) $\frac{4x+1}{3x-2}>5$ f) $\frac{9-3x}{x-3}>-3$

g) $\frac{4x+6}{2x+3}<3$ h) $\frac{3(4x-1)}{x-1}\ge 12-\frac{2(4x-5)}{x-1}$

4. a) $\frac{3}{4x-4}\le\frac{2}{x-6}$ b) $\frac{1}{5-3x}>\frac{1}{5x+4}$

c) $\frac{x+1}{x-3}<\frac{x-1}{x+2}$ d) $\frac{4x-3}{2x+1}\le\frac{2x+3}{x+2}$

e) $\frac{2x-1}{2x+1}+\frac{3x+1}{x-2}>4$ f) $\frac{x-3}{1-6x}-\frac{2x+1}{4x+3}\ge-\frac{2}{3}$

g) $\frac{2x+1}{2x-2}+\frac{2x-3}{3x-3}\ge 1$ h) $\frac{2-5x}{3-x}-\frac{2-6x}{1-3x}<\frac{3}{8}\cdot 27^{\log_3 2}$

5. a) $(2x-3)(3x-2)<0$ b) $(x+3)(7-x)\le 0$

c) $x^2+4x+3\ge 0$ d) $x^2-8x+7\le 0$

e) $x^2+4x+5<0$ f) $x^2-6x+10>0$

(c) ketabton.com: The Digital Library



g) $x^2 - 2x + 1 > \frac{5}{2}x - 1$ h) $2x^2 - 3x - 3 < 3(x - 1)$

6. a) $(x^2 - 6x + 5)(x^2 + 1) < 0$ b) $(x^2 - 4x + 5)(x^2 + 1) \le 0$

